# افغانان د پیاوړي دولت جوړولو په درشل کې!

- ✓ مشورې او اندیښنې
- ✓ د افغانانو تر مینځ تفاهمات
- ✓ مذاکرات له کومه ځایه پیل شي؟
- ✓ د علماء کرامو لویه جرګه
- ✓ طالبان ولې ډموکراسي یا جمهوریت نه مني؟
- ✓ ایا طالبان به له انتخاباتو سره توافق وکړي؟

Ketabton.com

محمود حقاني........................................ کال ۱۳۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د پیل خبرې**

الحمد لله رب العالمین و العاقبة للمتقین و الصلوة و السلام علی سیدنا محمد و علی اله و اصحابه اجمعین. فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم: الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَ آتَوُا الزَّكَاةَ وَ أَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَ نَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَّلِلّٰه عَاقِبَةُ الْأُمُورِ (الحج، 41)

اما بعد: افغانانو پخوا هم د اوس په څېر له ویاړونو ډکې برياوې ګټلې،څو ځله يې انګريزان او بيا يې روسانو ته په نظامي ډګر کې ماته ورکړې. خو افغانان د دولت په جوړولو ندي توانيدلي، او هر ځل له سنګر ګټلو وروسته دفتر بايلل شوی دی. اوس چې بيا يرغلګر د ماتې او له هيواد څخه د وتلو په حال کې دي، او د دې وخت رارسيدلی چې مجاهدين په هيواد کې خپلواک اسلامي دولت رامينځته کړي نو د افغانانو د مسلسل دفتر بايللو تاريخچې ته په کتو د دې ډېره سخته ويره او انديښنه موجوده ده چې خدای مه کړه يو ځل بيا به افغانان دفتر وبايلي، د جهاد او قربانيو دنيوي ثمره به ضايع کړي، مجاهدين او ملايان به په ټولنه کې ورټل شي، منفور او بې اعتباره به شي، او د يرغلګرو د بيا ځلي راتګ په صورت کې به افغانان د بيا ځلي سنګر ګټلو ورتيا او حوصله هم له لاسه ورکړي.

نو دې معقولې انديښنې ته په کتو په کار ده چې مجاهدين د راتلونکي افغانستان لپاره په ډېر احتياط سره ډېر پاخه او مستحکم ګامونه پورته کړي. که مجاهدين غواړي چې ټولې فتنې له مينځه يوسي او ټول دين د الله لپاره شي، نو بايد ډېر په دقت او تدبير سره وړاندې ولاړ شي، د مجاهدينو حتی ډېره لږه اشتباه، کوچنۍ غلطه پريکړه، او ناسم موقف کولای شي چې حالات د توقع خلاف په بله کړي ، اسلامي دولت ته درسيدو لاره سخته او ناممکنه کړي او د اسلامي نظام د تشکيل لپاره د مجاهدينو او مسلمانانو هيلې له خاورو سره خاورې او يو ځل بيا د سنګر له ګټلو څخه وروسته افغانان د سياست د ډګر بايلونکي کړي.

**د دې لپاره چې دا ځل بيا هم افغانان د خپلو قربانيو دُنيوي پايلې له لاسه ورنه کړي، د سياست په ډګر کې بريا ترلاسه او د يوه پياوړي دولت په جوړولو وتوانيږي، نو مشران دې په ځانګړې توګه د مذاکراتي ټيم غړي او د سياسي دفتر مسئولين دې لاندې ټکی په نظر کې ونيسي.**

۱- مجاهدين که غواړي چې په نظامي برخه کې د بريا څخه وروسته په سياست کې هم بريالي او په هيواد کې د خپلواک اسلامي دولت په جوړولو وتوانيږي نو لازمه ده چې مشران د سولې تړون تر شا د امريکايانو ټولې ممکنه دسيسې، توطئې او فريبونه په نظر کې ولري، او د هرې ممکنې دسيسې په وړاندې لازم تدابير ونيسي، د يرغلګرو له لوري د سولې تر پردې لاندې ټولو کيښودل شويو لومو ته متوجه او په خپلو ځيرکانه تدبيرونو سره وضعيت داسې مديريت کړي چې امريکايان په خپلو دسيسو کې راګير او په خپلو لومو کې يې ونښلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- مشران دې د نوي اسلامي دولت لپاره د شيخ هبة الله اخندزاده حفظه الله زعامت د خپلې اساسي سرې کرښې په توګه وټاکي، د مشرۍ په حلقو کې دې د نوي اسلامي دولت لپاره د نوي امير د اړتيا بې ځايه فکر ته قطعا د نفوذ اجازه نه ورکول کيږي.

۳- مشران دې د يو داسې شفاف ميکانيزم په رامينځته کولو کار وکړي چې له مخې يې د اوسني امير د شهادت يا وفات په صورت کې نوی امير په اسانۍ وټاکل شي، د بې اتفاقۍ مخه ونيول شي، او په لنډه موده کې بې د چا له خپګان، نارضايتۍ او اختلاف څخه ټول مجاهدين په نوی مشر راټول او يو موټی پاتې شي. لاندې کرښې دا ډول يو ميکانيزم کيدلای شي:

د دې ميکانيزم له مخې دې دوه کاره ترسره شي: يوه دې شوری تشکيل شي او بل دې امير دخپل وفات يا شهادت څخه وروسته د خپل ځای ناستي لپاره څو کسان ونوموي. شوری او ټول ملت ته دې وروپيژني. د امير له وفات يا شهادت څخه وروسته به شوری د فقيد امير له لوري د نومول شويو څو کسانو له ډلې څخه يو تن د رايو په اتفاق د نوي امير په توګه ټاکي او د بيعت لپاره به يې مجاهدينو او يا ټول ملت ته وړاندې کوي.

اوسنی امير دې سمدلاسه مثلا يوه دوه سوه کسيزه شوری جوړه کړي، د شوری غړي دې د هغو صفاتو خاوندان وي کوم چې اسلام د شوری غړو ته ټاکلي دي؛ په دې صفاتو متصف رجال دې له ټول هيواد څخه د ولايتي او سيمه ييز توازن په پام کې نيولو سره د شوری د غړو په توګه وګمارل شي. اوسني امير ته دې واک ورکړل شي چې د ژوند تر پايه که لازمه وي د شوری غړو کې بدلون راولي، پخواني غړي له شوری څخه ليرې او په عوض يې نوي غړي شوری ته وروپيژني. خو له لومړی امير څخه وروسته نور اميران به دا واک نه لري او يواځې د وفات شويو او تقاعد شويو غړو پر ځای به نوي غړي شوری ته ورمعرفي کولای شي. له لومړي امير څخه وروسته د نورو اميرانو له خوا شوری ته د وفات شويو او متقاعدو غړو پر ځای نوي معرفي شوي غړي بايد د شوری د اکثريت غړيو موافقه او د باور رايه ترلاسه کړي. که پراخ بنسټه نظام تشکيليږي او اوسني امير يې په رأس کې راځي نو بيا به اوسنی امير د شوری د غړو تعداد مثلا ۴۰۰ کسانو ته لوړوي، له ټول هيواد څخه به د سيمه ييز تعادل په نظر کې نيولو سره وړ اشخاص د شوری د غړو په توګه معرفي کوي. په بل او اصلي اړخ کې به اوسنی امير د شوری له تشکيل څخه سمدلاسه وروسته مثلا ۴ تنه شوری ته د خپل ځای ناستو په توګه ورپيژني، دا ۴ تنه به د شوری د اکثريت غړو د اعتماد رايه ترلاسه کوي، کوم يې چې د اعتماد رايه نشي ترلاسه کولای د هغو په عوض به امير نور نوي کسان شوری ته د خپل ځای ناستو په توګه ورمعرفي کوي... د دې ۴ تنو څخه هيڅ يو يې بايد له امير سره نَسَبي خپلوي ونه لري. دا څلور تنه به په عادي توګه خپلې چارې پر مخ وړي. د پراخ بنسټه نظام له تشکيل څخه وړاندې يا په بل عبارت په اوسنی روان وضعيت کې کله چې اوسنی امير خدای مه کړه په شهادت رسيږي او يا وفات کيږي، نو له دې څلور تنو څخه به هغه تن نوی امير وي چې د شوری د اکثريت غړو د اعتماد رايه ترلاسه او ورپسې ټول مجاهدين ورسره بيعت وکړي. د پراخ بنسټه نظام له تشکيل څخه وروسته که بيا د پراخ بنسټه نظام اوسنی امير خدای مه کړه په شهادت رسيږي او يا وفات کيږي نو مثلا د ۴۰۰ کسيزې شوری له خوا به د اکثريت رايو پر اساس له ۴ تنو ځای ناستو څخه يو تن ملت ته د بيعت(رايې) لپاره وړاندې کيږي، که د ملت د اکثريت وګړو رايه يې ترلاسه کړه نو د نوي امير په توګه به خپل کار پيلوي کنه نو له پاتې درې تنو څخه به هغه تن ملت ته د امارت د کانديد په توګه وړاندې کيږي چې مثلا د ۴۰۰ کسيزې شوری د اکثريت غړو رايه ترلاسه کړي، دا تن هم که د ملت د اکثريت غړو د رايې په ترلاسه کولو بريالی نشي بيا به نو شوری پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه تنه ملت ته د امارت د نوماندانو په توګه وړاندې کوي په دې دواړو کې به هغه تن نوی امیر وي چې د ملت ډېرې رایې ترلاسه کړي.

له لومړی امیر څخه وروسته امیران به اړ وي چې له ۴ تنو څخه ۳ تنه داسې کسان وټاکي چې له امیر سره هیڅ ډول نسبي قرابت ونه لري او د پاتې یوه تن په اړه به امیر اختیار ولري چې له خپلو خپلوانو(زوی، ورور...) څخه یې ټاکي او که خوښه یې وي نو هغه به هم لکه د هغو نورو ۳ تنو په څېر له داسې کسانو څخه ټاکي چې دی ورسره هیڅ ډول نسبي قرابت ونه لري. دا ځکه چې له لومړی امیر څخه وروسته به نور امیران په خلاص لاس د شوری د غړو د بدلون واک ونه لري او یواځې به د وفات شویو او متقاعدو غړو پر ځای نوي غړي شوری ته معرفي کولای شي او په هغه صورت کې به د شوری د غړو په توګه منل کېږي چې د شوری د (له وفات شویو او متقاعدو غړو څخه پرته د پاتې نورو) اکثریت غړو د اعتماد رایه ترلاسه کړي. لومړی امیر به د ژوند تر پایه په خلاص لاس د شوری دغړو د بدلون صلاحیت ولري دا ځکه چې په جګړه ییز حالت کې د ښو او وړ اشخاصو موندل وخت غواړي، نو سمدلاسه یې چې کوم کسان ټاکلي د وخت په تیرېدو شاید له هغوی څخه ښه او لا ډېر مستعد اشخاص په نظر ورشي او یا دا چې د پراخ بنسټه نظام د تشکیل په صورت کې به امیر لا ډېر وخت او امکانات ولري تر څو له ټول هیواد څخه د شوری لپاره ۴۰۰ کسان راچاڼ او تر ټولو غوره او تر ټولو وړ او ښه اشخاص سره راغونډ کړي. ځکه نو نوی امیر به له ځان څخه وروسته د امارت لپاره ۴واړه کاندیدان داسې کسان ټاکي چې دی به هیڅ ډول نسبي قرابت ورسره نه لري. که د یوه تن په اړه اختیار ورکول شي چې له خپلو خپلوانو څخه یې وټاکي بیا به نو دا ویره موجوده وي چې  له ځان څخه وروسته د خپل زوی یا ورور د امیر کیدو لپاره به د شوری اکثریت غړي خپل لاسپوڅی او بلې ګوی وټاکي.

که د د مجاهد مشرانو له لوري دا میکانیزم عملي شي نو پرته له شکه چې په سیاسي برخه کې به یې بې مثاله او شانداره نوښت کړی وي. په سوله ییز شکل به یې د قدرت د انتقال پروسه تضمین کړې وي. د ډیموکراسۍ په مخ به یې کلک ګوزار ورکړی او د ډیموکراسۍ د مسخره او غیرفطري انتخاباتو ډېر ښه ، له عقل او فطرت سره برابر، ګټور او عملي موډل او بدیل به یې ټولې نړۍ ته وړاندې کړی وي. په هیواد کې به یې تر پیړیو پیړیو د پاییدونکي، باثباته، پرمختللي او ازاد دولت مستحکم او پاخه بنسټونه ایښي وي.

د پراخ بنسټه دولت له تشکیل څخه وروسته دې پر دې میکانیزم د اساسي قانون د تدوین په جرګه کې مفصل بحث او مشوره وشي او په پای کې دې د نورو موضوعاتو تر څنګ دا میکانیزم هم په واضح شکل په اساسي قانون کې درج او د اساسي قانون اساسي او غوښنه برخه دې وګرځول شي.

۴- مشران دې په بین الافغاني خبرو اترو کې په هیڅ ډول په انتخاباتو توافق نه کوي. همدا راز مشران دې په مشترک یا ائتلافي نظام کې له ګډون څخه ځانونه وساتي.

۵- له ټولو بانفوذه اشخاصو سره دې ځانګړي انفرادي مجالس ترتیب کړي د هغوی د مزاحمت د ایجاد توانایي ته په کتو دې هغوی ته په دې شرط امتیازات او ځیني چوکی په نظر کې ونیول شي چې له هر ډول مخالفت څخه به لاس اخلي او د اسلامي امارت له محترم امیر سره به بیعت کوي.

۶- د مجاهدینو د اوسني جګړه ییز حالت تشکیلاتي جوړښت دې مستند شي؛ که بیا ځلي امریکایان یرغل کوي نو د مجاهدینو نظم او د هر چا مسئولیت به معلوم وي لکه د همدا اوس په څېر به په منظم شکل ببرته له امریکایانو او د هغوی له غلامانو سره جهادي مبارزه دوام مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- مشران دې له ګوډاګۍ ادارې سره د اساسي جهت او د افغانستان د دولت یا حکومت په توګه مذاکره نه کوي او په خپل دې موقف دې تر پایه ثابت پاتې شي چې د کابل اداره به د نورو افغان جهتونو په څنګ کې د یوه جهت په توګه په مذاکراتو کې ونډه اخلي.

[redacted]

۹- مشران دې په پام کې ولري چې د بهرنیو پوځونو له وتلو او د اسلامي نظام له استقرار څخه وروسته [redacted]

۱۰- مشران دې له امریکایانو سره د تړون په څېر د سیمې او نړۍ له نورو هیوادونو سره هم، د یو بل په هیواد کې د نه مداخلې او دوه اړخیزه همکاریو د تړونونو ترسره کولو ته چمتوالي ښکاره کړي.

۱۱- مجاهدین دې د ولس د ملاتړ راجلبولو لپاره تر ټولو ډېره هڅه وکړي، د ولس تعلیم یافته قشر ته د قناعت ورکولو لپاره دې مجاهدین په یوه مختصر کتاب کې په واضحه او اسانه توګه د اسلام له نظره جمهوریت یا ډیموکراسي او نورې کفري مفکورې شرحه او رد کړي او د دې تر څنګ دې په همدې کتاب کې د اسلامي نظام په اړه هم بشپړو معلوماتو ته ځای ورکړل شي، دا کتاب دې چاپ او په لوړ تعداد دې په وړیا توګه یه هیوادوالو ووېشل شي.

۱۲- مجاهدین دې په هیواد کې د اسلامي فکر لرونکو او د مجاهدینو د خواخوږو محصلینو او عصري تعلیم یافته ګانو لیستونه چمتو کړي تر څو بیا په راتلونکي دولت کې په فني او مسلکي بستونو کې په خدمت کولو وګومارل شي.

۱۳- همدا راز مجاهدین دې په هیواد کې د هغو کړیو او ډلو د راخپلولو او د ځان د ملګري کولو هڅې وکړي چې له مجاهدینو سره مشترک اهداف لري، هیواد د امریکایانو له خوا اشغال او موجوده اداره د پردیو لاسپوڅې او ګوډاګۍ ګڼي.

۱۴- مجاهدین دې د پوځي عملیاتو له لارې د ټول هیواد فتحه کول د وروستي اختیار په توګه په پام کې ولري، ټوله هڅه دې وکړي چې د خبرو او تفاهم له لارې نظام ته ورسېږي، له حده ډېر تنازل او انحراف دې هم نه کوي او داسې دې هم نه کوي چې ووایي میم زر ما ټوله زما. بلکه د کابل د ادارې اوسني مشران او نور بانفوذه سیاسي مشران دې هم تر یوه وخته پورې په حکومتي واک کې راګډ کړي، د بیلګې په توګه [redacted] ته دې د مالیې یا لوړو زده کړو وزارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پام کې ونیسي، ته دې د کورنیو یا بهرنیو چارو وزارت په نظر کې ولري، همداسې ځینو ته دې د ځینو ولایتونو څوکۍ په پام کې ولري. د اوسنۍ اداري د وزارتونو، ریاستونو او نورو دفترونو د اوسني تشکیل او سیستم د ساتلو او په هغوی کې د اړینو اصلاحاتو د راوستلو وعده دې وکړي. له ډېرو جګړو وروسته چې مجاهدین په کنډواله او ویجاړ کابل او نورو ښارونو باندې حکومت کوي ډېره غوره دا ده چې پرته له جګړې او وراني مجاهدین د هیواد د نظام په رأس کې راشي او داسې یو دولت تشکیل شي چې هر افغان خپل ځان پکې ووینې.

**۱۵ـ** که مذاکرات نتیجه نه ورکوي نو مجاهدین باید د پوځي عملیاتو له لارې د ټول هیواد د فتحې لپاره کافي شمیر د اسلامي فکر لرونکي، مخلص، شعوري، پاک، په ولس زړه خوږي او په اړینو دیني او عسکري زده کړو سنبال مجاهدین ولري. د دا ډول مجاهدینو د برابرولو لپاره دې مجاهدین د ۱۴ میاشتو(دامریکایانو د وتلو موده) لپاره خپل نظامي عملیات مثلا اتیا سلنه راکم او په عوض دې یې د هیواد د ټولو مجاهدینو لپاره مثلا یو دوه کلن ښوونیز او تربیوي پروګرام په لاره واچوي د دې پروګرام په جریان کې به د منظم پلان له مخې د ټول هیواد مجاهدین د تکړه استادانو له لوري په لازمو دیني ـ فکري زده کړو، او عسکري مهارتونو او پوهې باندې سنبال شي.

**۱۶ـ** مشران دې د راتلونکي افغانستان په اړه د مجاهدینو د ارادو او نیتونو په اړه ډېر وغږېږي؛ د راتلونکي دولت لپاره دې د پوهانو او تجربه لرونکو اشخاصو مشورې راټولې کړي او د مجاهدینو په مشرۍ د راتلونکي خپلواک اسلامي دولت لپاره دې د مجاهدینو پلانونه، ستراتیژۍ، طرحې او برنامې په یوه کتاب کې راغونډې، کتاب دې چاپ او په ټول هیواد کې دې په پراخه کچه وویشي.

## تفصیلي برخه

## له امریکایانو سره د مجاهدینو تړون!

له څه کم دوه لسیزو پرلپسې جهادي مبارزو څخه وروسته افغانان د الله تعالی په فضل وتوانیدل چې یرغلګر دښمن د خبرو میز ته راکش او د یونیم کال اوږدو او پیچلو مذاکرو څخه وروسته بالآخره د هیواد د استقلال ویاړمن سند پرې امضاء کړي. د تړون له مخې به بهرني ځواکونه له هیواد څخه وځي، د افغانستان له خاورې به هغوی ته ګواښ نه پېښېږي، بین الافغانی خبرې به پیلېږي، بندیان به خوشې کېږي، اوربند به اعلان او د مذاکراتو او جوړجاړی په پایله کې به نوی افغان اسلامي حکومت تشکیلېږي.

امریکایان هیواد ته د اوږدې مودې استعمار په نیت راننوتل، خپل عسکر یې له یو لک څخه ډېر کړل، خونړۍ جګړې ورسره وشوې، تلفات او اقتصادي تاوانونه یې ولیدل، خپل عسکر یې بیرته کم کړل، خپلو بیزونو او مرکزونو ته ټول شول او د جګړې کرښو ته یې افغانان مخته کړل. خپلو بمباریو او ځانګړو عملیاتو ته یې دوام ورکړ. تلفات او مصارف یې خورا کم شول. خو بریالي نشول چې مقاومت له مینځه یوسي، دې نتیجې ته ورسیدل چې دا جګړه په نږدې وخت کې د ګټلو نده. امریکایانو کولای شول چې تر لسیزو بې له کومې ستونزې روان حالت جاري وساتي. موږ هم داسې ګڼلې وه چې امریکایان به تر لسیزو دلته پاتې کېږي. موږ خپله مبارزه په دې امید جاري ساتله چې:

- د هغوی رقیبان به له موږ سره د الوتکو او د څرخکو ضد وسلو مرسته وکړي او په دې سره به موږ د جګړې لوری بدل کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ❖ یا به موږ په ورو ورو د هیواد د جغرافیې په لاندې کولو سره د دوی د مرکزونو د دیوالونو تر شاوو وروړسیږو، بیا به دوی مجبور وي چې یو ځل بیا خپل له یو لک څخه ډېر عسکر د جګړې کربنو ته راپیاده کړي، عسکر به یې تلفات ویني او اقتصادي تاوان به یې کېږي.
- ❖ یا به چیرته دوی له کوم بل هیواد سره په جګړه کې ښکیل شي اقتصاد به یې اوبه شي.
- ❖ او یا دا چې د هیواد عام ولس به ټول راپورته شي او د هیواد د ازادۍ لپاره به سرتاسري قیام په لاره واچوي.

د دې څلورو حالاتو څخه د یوه یا زیاتو د رامنځته کیدو او د هیواد د ازادۍ لپاره د شرایطو د رامنځته کیدو په طمعه موږ خپله مبارزه ژوندۍ ساتله. خو د حالاتو صفحه په بل ډول واوښته د تمې په خلاف امریکایانو خپله ماتې او د افغانستان خپلواکي ومنله او له هیواد څخه د خپلو سرتیرو ویستلو ته چمتو شول. او د افغانستان د ازادۍ تړون یې د نړیوالو په شتون کې امضاء کړ. د دې تړون تر شا د امریکا د نیت او ارادې په اړه لاندې احتمالات شتون لري:

- ❖ امریکایي ستراتیژیستان دې نتیجې ته رسیدلي چې امریکایان حتی په راتلونکو څو لسیزو کې هم په افغانستان کې مقاومت له مینځه نشي وړلای. هغه حالات دوی هم درک کړی چې په امید یې مجاهدین خپل مقاومت دوامداره ساتي. هغوی متوجه شوي چې د دوی رقیب هیوادونه به افغان مجاهدین په انټي ایرکرفټ(د طیارو او ځرخکو ضد) وسلو باندې سمبال کړي، ټول افغانان به د مجاهدینو ملګري او سرتاسري قیام به پیل کړي، مجاهدین به د هیواد ټوله جغرافیه لاندې کړي، او یا به امریکا له کوم بل هیواد سره په ملاماتوونکې جګړه کې ښکیل شي چې د دې حالاتو د رامنځته کیدو له امله به بیا امریکایان اړ وي چې په ډېر بد وضعیت کې ماتې خوړلي په منډه له افغانستان څخه پښې سپکې کړي. نو د دې لپاره چې امریکایان له دا ډول ناوړه برخلیک سره مخ نشي، له مجاهدینو سره د تړون له مخې په ښتیار هم له افغانستان څخه وځي او دلته له مداخلو څخه لاس اخلي.
- ❖ امریکایان دې نتیجې ته رسیدلي چې د افغانستان جګړه د ګټلو نده، د جګړې پر ځای یې دلته اقتصادي فعالیتونه د خپل هیواد لپاره په ګټه بللي. په مجاهدینو یې منلې چې د افغانستان له پولو به بهر له چاسره کار نه لري، امریکایانو او متحدینو ته به یې له افغانستان څخه ګواښ نه پیښوي. په بدل کې یې امریکایان په افغانستان کې د مجاهدینو له خوا د مرکزي قوي دولت د رامنځته کولو مخالف ندي. په ورته وخت کې امریکایانو د منځنۍ اسیا نفتو او ګازو ته سترګې ګنډلې، په افغانستان کې د ثبات په رامنځته کېدو، هغوی د منځنۍ اسیا له هیوادونو سره د لویو اقتصادي تړونونو له لارې غواړي چې د منځنۍ اسیا انرژي د افغانستان له خاورې څخه په پاکستان کې تر سمندري بندرونو ورسوي. په افغانستان کې مرکزي پیاوړی دولت کولای شي چې امنیت او ثبات رامنځته او د افغانستان له خاورې څخه د امریکایانو له لوري د انرژۍ د انتقال د لویو پایپ لاینونو غځولو ته زمینه مساعده کړي.
- ❖ امریکایان په ښتیا هم له افغانستان څخه خپل پوځیان باسي، مجاهدین وخت ترلاسه کوي، د سولې یا جګړې له لارې خپل نظام جوړوي. امریکایان په کومه بهانه بیرته په قوت سره د خپلو ګرندیو الوتکو پر مټ راستنیږي. د مجاهدینو د نظام ګڼ شمیر مشران او لسګونه زره جنګیالي د جنګ په کربنو کې له مینځه وړي، ګڼ شمیر مشران او جنګیالي زندانونو ته اچوي. خپل هغه لاسپوځي چې د مجاهدینو نظام ښللي او ژوندي پرېښي وو، له سره منظم او نوې اداره ورته تشکیلوي. د امریکایي بیا ځلي حضور په وړاندې به د مجاهدینو له سره منظمېدل، د جګړې کربنې له سره سنبالول، د مجاهدینو مشرانو ته بیا ځلي د سر خوندي کولو د ځایونو پیدا کیدل، د مؤثر مقاومت راژوندي کول، په ولس کې د یرغلګرو په وړاندې د مناسب خوځښت او عکس العمل او په مناسب

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکل د مجاهدینو ملاتړ راټوکېدل به خورا ستونزمنې چارې وي. د هیواد ګاونډي د تېر په څېر بیا هم د امریکایانو خوا نیسي، لارې او خپل نظامي تأسیسات په واک کې ورکوي... امریکایي پوځېان ډېر لیرې ندي، افغانستان ته نږدې د خلیج په هیوادونو کې پراته دي. پخوا هم انګریزانو په افغانستان څو ځله پرلپسې یرغلونه کړي، او د امریکایانو بیا راګرځېدل هم له امکانه وتلې خبره نده.

- ❖ امریکایانو د افغانستان په نوی نظام له مجاهدینو سره مفصلې خبرې کړې او دواړه لوري د افغانستان د نوی نظام په څرنګوالي سره سلا شوي دي. په نوی نظام کې د مجاهدینو ونډه معلومه شوې ده، او قانع شوي چې د زور له لارې به ټول نظام نه خپلوي. امریکایي ځواکونه رښتیا هم له هیواد څخه وځي، ورپسې مجاهدین له مقابل لوري سره تفاهم ته نه رسیږي، خپل بشپړ زور نشي کارولای چې خپل تیت او پرک کورني دښمنان له مینځه یوسي، لږ لږ زور کاروي تر څو یې خپله برخه قدرت بل څوک د ځان نه کړي، په دې توګه په ټول هیواد کې کورنۍ جګړه رامینځته کېږي، ښارونه او کلي ړنګېږي، سرونه رغړول کېږي، د وینو ویالې بهیږي، عزتونه او عفتونه تالا کېږي، د خلکو ناموسونه، مالونه او سرونه په جدي خطر کې لوېږي. امن او ثبات له مینځه ځي، انارشیزم او خپلسري حاکمېږي. د دې ټولو بدبختیو پړه د مجاهدینو په غاړه کېږي، مجاهدین په ولس کې خپل شته ځای، اعتماد او باور له لاسه ورکوي. امریکایي پوځیان بیا ځلي یرغل کوي، د ولس له ملاتړه بې برخې او د ولس له لوري رټل شوي مجاهدین په اسانی له مینځه وړي او نه پرېږدي چې بیا ځلي مقاومت خپل سر پورته کړي په دې توګه افغانستان د ډېرې اوږدې مودې لپاره د امریکا لمنې ته لوېږي او ملت یې د امریکایانو له لوري اېل او د غلامی په ځنځیرونو تړل کېږي.
- ❖ امریکایانو په ډېر لږ توپیر سره د جمهوریت نظام په مجاهدینو منلی او هغوی یې په انتخاباتو کې په ګډون کولو قانع کړي دي. چې په دې صورت کې هم د څه وخت لپاره امریکایان له هیواد څخه د وتلو اراده لري خو کله چې د مجاهدینو کاروان بې څاروانه شي، افراد یې تیت او پرک شي. اوسنی نظم او اتحاد یې له مینځه ولاړ شي، په هیواد کې کورنۍ جګړه خښه، کلي او ښارونه کنډواله او د جګړې له امله انساني ناورین رامینځته شي نو امریکایان به بیرته هیواد ته راوګرځي، د هغوی په وړاندې به بیا د مؤثر مقاومت راڅوندي کول د افغانانو له وسه وتلې خبره او ناممکنه چاره وي. امریکایي پوځیان به بې له کوم مزاحمته د اوږدې مودې لپاره په افغانستان کې واړوي او څه یې چې زړه غواړي هغه به په دې بدبخته ملت باندې ترسره کوي.
- ❖ امریکایانو مجاهدینو ته دا قناعت ورکړي چې د نوی اسلامی افغان حکومت په رأس کې به د مجاهدینو اوسنی مشر نه راځي، بلکه کوم بل وړ څوک به د ټولو اړخونو په خوښه ټاکل کېږي، په دې صورت کې هم د مجاهدینو اتحاد دړې وړې کېږي، افراد یې په بیلابیلو لارو په خپلو مخو درومي، ځینې مشران یې په کورو کښیني او ځیني یې د واک په سیالی کې ښکیل کېږي. تیت او پرک مجاهدین له خپلو غیرمتجانسو او بې اتفاقه دښمنانو سره تفاهم ته نه رسیږي، کورنۍ جګړه نښلي، وطن ورانیږي او بیا امریکایان راګرځي، مجاهدین به په ټولنه کې منفور شوي وي، افغانانو به د مقاومت د راوژندي کولو او سنبالولو توان له لاسه ورکړی وي، امریکایان به په اسانی سره افغانستان هضم کړي.
- ❖ د بین الافغاني مذاکراتو په جریان کې امریکایان توانیږي چې د مجاهدینو له بې پیلوټه الوتکو، چاپو او ځانګړو عملیاتو څخه ډاډه، بې احتیاطه او زړور شوی امیر ترور کړي. د مجاهدینو مشران چې ځانونه، ټول نظام ته د رسیدو په درشل کې ویني، د نوي امیر د ټاکلو په سر جوړ نه راځي، د واک شوق یې اخلي، په ناندریو سر او په پای کې په څو ډلو ټپلو ویشل کېږي. د مجاهدینو نوې ډلې ټپلې نه په خپل مینځ کې سولې ته رسیږي او نه هم د کابل له ادارې او نورو جګړه مارانو او سیاسیونو سره تفاهم او جوړجاړی کولای شي. د کورنۍ جګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له امله هیواد ګډوډېږي، ملک الطوایفي واکمنه او انساني تلفات خپل اوج ته رسیږي، امریکایان بیرته راځي، خپله ګوډاګۍ اداره بیا راژوندۍ او بې غمه په هیواد کې تر اوږدې مودې پورې پاتې او افغانستان خپله مستعمره ګرځوي.

## د یوه نظام په لوري! که نه تر لسیزو د اوږدې جګړې لپاره چمتوالی

موږ هیله لرو چې مجاهدینو له امریکایانو سره یواځې د افغانستان د معضلې په بهرني بُعد خبرې کړې وې په کورنیو مسائلو کې یې هغوی ته د خبرو کولو وخت نه وي ورکړی. امریکایان یې پر دې قانع کړي وي چې د بهرنیو ځواکونو له خروج څخه وروسته په افغانستان کې د سولې یا جګړې له لارې رامینځته کیدونکی نوی اسلامي دولت به په رسمیت پیژني، لاسوهنې به نه کوي، خنډونه به نه جوړوي، بندیزونه به نه لګوي، ښې اقتصادي او ډیپلوماتیکې اړیکې به ورسره پالي.

موږ هیله لرو چې مجاهدینو به له امریکایانو سره د جمهوریت د منلو سر نه وي ښورولی، د خپل امیر له امارت څخه به نه وي تېر شوي. ګډوله نظام باندې به یې توافق نه وي کړی، په افغانستان کې د بشپړ اسلامي دولت د رامینځته کولو او تر پایه د خپل اتحاد د ساتلو اراده او تکل به لري.

مجاهدین دې متوجه وي چې د لوی الله تعالی نصرت له دوی سره دی، یو لاس، متحد او منظم دي، واحد قیادت یې د الله تعالی لویه لورینه ده، د یرغلګرو پر وړاندې یې څّه کم دوه لسیزې بریالۍ جهادي مبارزه کړې، د یرغلګرو او د هغوی د غلامانو پر وړاندې تر څو نورو لسیزو پورې هم په باثباته توګه د جهاد د غځولو توان او امکانات لري. فعلا یې د جګړې په ډګر کې لاس بر دی، د جګړې کربښه کې د دوی برلاسی سبب شوی چې یرغلګر د سولې نغارې وډنګوي، او پرلپسې د اورکم او اوربند غوښتنه وکړي. بل پلو د افغانانو باثباته، اوږدې او حوصله ځپونکې مبارزې د یرغلګرو د صبر کاسې ډکې کړي دي او دې ته یې اړ کړي چې له افغانستان څخه په رښتیا هم لاس واخلي، سرتیري یې وباسي او دلته د خپلواک دولت منلو ته چمتو شي، او یا هم په بل احتمال په افغانستان کې د جګړې پرځای د سولې تر پردې لاندې د دسیسو، توطئو او فریبونو له لارې بریا ته د رسیدو هڅه وکړي. د مجاهدینو داخلي دښمنان غیرمتحد، غیر متجانس، تیت او پرک دي، اداره او شاوخوا خلک یې د کمونستانو له پاتې شونو، بې لارې شویو پخوانیو مجاهدینو، غرب ځپلو ډموکراټانو، نشنلستانو، جګړه مارانو، ګلمجمو، څو تابعیته جاسوسانو او نورو رقم رقم حلقو څخه جوړه ده. دا غیرمتجانسي کړۍ نه دین ته ژمن دي، نه وطن ته، نه د جګړې توان لري نه هم د نظام د جوړولو او چلولو وړتیا ، نه په ولس کې باور لري، نه هم ارزښتونو ته ژمن دي. په خپل مینځ کې په سختو اختلافاتو او سیالیو بوخت او یو بل ته د هر ډول کندو کندلو ته تیار دي.

نو مشران دې متوجه وي چې افراد به یې تر هغه وخته خپلې مبارزې ته دوام ورکوي تر څو چې امریکایان له هیواد څخه د بشپړ وتلو تر څنګ په افغانستان کې د خپلواک اسلامي دولت زغملو ته هم چمتو شوی نه وي. مجاهد مشرانو ته دې معلومه وي چې افراد یې تر ډېرې اوږدې مودې پورې د جګړې توان لري، د افرادو حوصلې یې لکه غرونه لوړې، ایمانونه یې فولادي او په نهایي بریا پوره باورمند دي، د یرغلګرو د شړلو تر څنګ د خپلواک اسلامي نظام تر قیام پورې د سرښندونکې مبارزې دوام ته په اخلاص چمتو دي. مشران دې متوجه وي چې افراد یې ستړي نه دي، دوی دې هم نه ستړی کېږي، افراد یې مأیوسه ندي، دوی دې هم نه مأیوسه کېږي، افراد یې د خپلو سرونو او مالونو قربانۍلو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا هم تر ډېرې مودې چمتو دي، دوی دې هم د ستړیاوو ګاللو ته چمتو شي، افراد يې بې صبره ندي، دوی دې هم له صبر څخه کار واخلي.

مشران دې تر لسیزو پورې اوږدې مبارزه ته چمتو وي، د ګرمې جګړې تر څنګ دې فکري جګړې ته هم اهمیت ورکړي، ښوونځیو او مساجدو ته دې نصابونه جوړ کړي، مدرسو ته دې د عصري علومو د ننویستلو پر پلان کار وکړي، خپل پوهنتونونه دې ایجاد او د دولت دارۍ د سنبالولو لپاره دې د کدرونو په روزنه پیل وکړي. د لسیزو اوږده جګړه دې داسې تنظیم کړي چې انساني تلفات او مالي خسارات يې حد اقل ته راکم شي، د جګړې په څنګ کې ټولنه علمي او فکري پرمختګ وکړي، په خپله ګټه او د اسلامي نظام د قیام په یقیني کیدو دې د اوږدې جګړې د رالنډولو هڅې هم رواني وساتي.

مجاهد مشرانو ته دې معلومه وي چې د لسیزو اوږدې جګړې په جریان کې به دوی د یرغلګرو د حریفانو له لوري په انټۍ ایر کرفټ(طیارو او څرخکو ضد) وسلو باندې سنبال شي، ټول ولس به يې تر څنګ ودرېږي او سرتاسري قیام به په لاره واچوي، مجاهدین به د هیواد د زیاتره خاورې په لاندې کولو د یرغلګرو د مراکزو تر دیوالونو ځانونه ورسوي او یا به هم امریکایان له کوم بل هیواد سره په پراخه جګړه ښکیل او د افغانستان د جګړې سنبالول به يې له توان څخه ووځي. دا هغه حالات دي چې د ټولو د رامینځه کیدو امکان شته چې له کبله به يې امریکایان له هیواد څخه د تیښتې تر څنګ زموږ د اسلامي خپلواک دولت په منلو هم مجبورېږي. برسیره له دې حالاتو که موږ د الله په لاره کې جګړې ته دوام ورکړو نو الله تعالی به د بریا داسې دروازې زموږ پر مخونو راپرانیزي چې موږ به يې هیڅ فکر هم نه وي کړی.

مشران دې سوله له جګړې سخته وګڼي، له پوره غور او تدبیر څخه دې کار واخلي، دې ته دې متوجه وي چې د جګړې ماته جبرانیدی شي خو په سوله کې ماتې به خدای مه کړه د ټول امت هیلې او ارمانونه له خاورو سره خاورې او ښکلی هیواد به مو د ډېرې اوږدې مودې لپاره د امریکایانو پنجو ته وغورځوي. مشران دې په امریکایانو نه خوشباوره کېږي د سولې د تړون تر شا دې د امریکایانو ټولې ممکنه دسیسې او توطیئې په نظر کې ولري. خپل موقفونه، اندونه او تګلارې دې داسې عیارې کړي چې له امریکایانو څخه د سولې او سیاست میدان هم وګټي، حالات دې د امریکایانو د تمې خلاف وڅرخوي، حالات دې پر داسې لوري روان کړي او داسې شرایط او وضعیت دې رامینځته کړي چې اصلا د امریکایانو د دسیسو او توطئیو د تحقق لپاره وخت پیدا نشي او امریکایان په اصطلاح په خپل رنګ کې کوټ، په خپله لوبه کې ناکام او په خپلو لومو کې ونښلي او د سولې میدان هم د جګړې د میدان په څېر وبایلي.

**مشران دې لاندې لازم تدابیر ونیسي:**

**۱- امیرالمؤمنین شیخ هبة الله (اخندزاده) حفظه الله به د نوي خپلواک اسلامي دولت زعیم وي.**

ټول مجاهدین دې کلک هوډ ولري چې په هیڅ صورت به د خپل زعیم له زعامت څخه نه تېرېږي. په افغانستان کې که اسلامي پراخ بنسټیه نظام مینځته راځي نو امیر به يې شیخ هبة الله اخندزاده حفظه الله وي. په هیواد کې د نوي نظام لپاره د نوی امیر د اړتیا فکر ته دې د مجاهدینو د رهبرۍ په حلقو کې قطعا د ځای نیولو اجازه نه ورکول کېږي. ولو که مقابل اړخ دا هم ومني چې د ټول هیواد لپاره دې پرته د شیخ هبة الله اخندزاده څخه کوم بل څوک د مجاهدینو په خوښه وټاکل شي، بیا دې هم هیڅ مشر او کشر طالب ورسره موافقه نه کوي. که لنډ ووایم د ټولو اړخونو له خوا د نوي نظام لپاره د شیخ هبة الله اخندزاده حفظه الله د زعامت منل دې د ټولو مجاهدینو لپاره داسې سره کرښه شي لکه څرنګه چې د ټولو مجاهدینو لپاره له هیواد څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو وتل او د اشغال خاتمه سره کرښه وه. د مجاهدینو د رهبرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کړيو کې که خدای مه کړه دا قناعت ايجاد شو چې د هيواد د نوي نظام لپاره د نوي امير د ټاکلو اړتيا ده، نو دا کيسه ورانه وبولئ، دفتر بيا بايللی وګڼئ، ځکه چې، ټول نظام ته د رسېدا په درشل کې به د مجاهد مشرانو د واک شوقونه راوپارېږي، له يو بل سره به د قدرت په سيالۍ کې ښکيل شي، مجاهدين به ډلې ډلې شي، اتحاد به يې له مينځه ولاړ شي. خونړيو جګړو ته به لاره هواره شي. د اوږدې جهادي مبارزې دنيوي ګټې به په سيند لاهو شي، وطن به مو کنډواله او د جګړې لوی ناورين به يې ووهي. بيا به يرغلګر بيرته راځي او څوک به يې په مقابل کې د بيا ځل راپورته کيدو او د سنګر نيولو توان هم نه لري. له يرغلګرو سره د مبارزې په جريان کې که مجاهدين څو ډلې او تر يوې رهبرۍ لاندې هم نه وي پروا نه کوي، د مجاهدينو د ټولو ډلو دښمن يو وي او د مجاهدينو ټولې ډلې د يرغلګر دښمن په ځپلو کې له يو بل سره سيالي کوي او هڅه کوي چې له نورو څخه په زياته کچه دښمن وځپي. خو د مجاهدينو د ډېرو ډلو لوی تاوان د يرغلګرو او د هغوی د پاتې شونو له ماتې وروسته رابرسيره کېږي، دومره لوی تاوان چې حتی د يرغلګرو د يرغل او له هغوی سره د مبارزې په جريان کې هم وطن او ولس ورسره نه وي مخ شوی. د مجاهدينو بيلابيلې ډلې له يو بل سره د واک په سيالۍ بوختېږي، له يو بل سره خونړيو جګړو ته ملا تړي د پراخه کورنيو جګړو له امله ټول هيواد وران ويجاړ، ملي شتمنۍ او زيربناوې چور او تخريبيږي. هيواد په يوه تشه کنډواله بدلېږي، مجاهدين بدنام او د خلکو د نفرتونو د راپارېدو سبب کېږي. همدا کيسه موږ ټولو د روسانو او د هغوی د داخلي ملګرو له ماتې وروسته په خپلو سترګو وليده؛ د روسانو او د کمونستانو له ماتې وروسته د کورنيو جګړو اساسي لامل د مجاهدينو عدم اتحاد او د واحد زعامت نشتون ؤ. موږ بايد له همدې تجربې څخه عبرت واخلو، مؤمن له يوې سوړې څخه دوه ځلې نه چيچل کېږي. موږ چې د الله تعالی په خاصه لورينه د اوږدې جهادي مبارزې په جريان کې خپل اتحاد وساته، اوس د فتحې او بريا په درشل کې بايد خپل اتحاد مات نه کړو، په هغه زماني مقطع کې بايد لکه بنيان مرصوص خپل اتحاد محکم وساتو په کومه کې چې د مجاهدينو عدم اتحاد د جهاد د دُنيوي ثمرې د بربادۍ، د ملک د ويجاړۍ او د بې مهاره شر او فساد د منځته راتګ سبب کېږي. د مجاهدينو اتحاد او يو موټی پاتې کيدل د هغوی په يوه امير پورې اړه لري که هغوی ټول د يوه امير په شاوخوا راټول او پرې راضي وي نو د درزونو د پيدا کيدو احتمال حداقل ته راکوزېږي نو ځکه موږ په کلکه تأکيد کوو چې مجاهدين دې د خپل امير له امارت څخه په هيڅ قيمت نه تيريږي او د راتلونکي پراخ بنسټه نظام لپاره دې د هغه زعامت خپله سره کرښه وګرځوي.

## ۲- د قدرت د انتقال لپاره شفاف او واضح ميکانيزم

مشران دې د يو داسې شفاف ميکانيزم په رامينځته کولو کار وکړي چې له مخې يې د اوسني امير د شهادت يا وفات په صورت کې نوی امير په اسانۍ وټاکل شي، د بې اتفاقۍ مخه ونيول شي، او په لنډه موده کې بې د چا له خپګان، نارضايتۍ او اختلاف څخه ټول مجاهدين په نوی مشر راټول او يو موټی پاتې شي. لاندې کرښې دا ډول يو ميکانيزم کيدلای شي:

د دې ميکانيزم له مخې دې دوه کاره ترسره شي: يوه دې شوری تشکيل شي او بل دې امير دخپل وفات يا شهادت څخه وروسته د خپل ځای ناستي لپاره څو کسان ونوموي. شوری او ټول ملت ته دې وروپيژني. د امير له وفات يا شهادت څخه وروسته به شوری د فقيد امير له لوري د نومول شويو څو کسانو له ډلې څخه يو تن د رايو په اتفاق د نوي امير په توګه ټاکي او د بيعت لپاره به يې مجاهدينو او يا ټول ملت ته وړاندې کوي.

اوسنی امير دې سمدلاسه مثلا يوه دوه سوه کسيزه شوری جوړه کړي، د شوری غړي دې د هغو صفاتو خاوندان وي کوم چې اسلام د شوری غړو ته ټاکلي دي؛ په دې صفاتو متصف رجال دې له ټول هيواد څخه د ولايتي او سيمه ييز

(c) ketabton.com: The Digital Library

توازن په پام کې نیولو سره د شورى د غړو په توګه وګمارل شي. اوسني امیر ته دې واک ورکړل شي چې د ژوند تر پایه که لازمه وي د شورى غړو کې بدلون راولي، پخواني غړي له شورى څخه لیرې او په عوض یې نوي غړي شورى ته وروپیژني. خو له لومړى امیر څخه وروسته نور امیران به دا واک نه لري او یوائې د وفات شویو او تقاعد شویو غړو پر ځاى به نوي غړي شورى ته ورمعرفي کولاى شي. له لومړي امیر څخه وروسته د نورو امیرانو له خوا شورى ته د وفات شویو او متقاعدو غړو پر ځاى نوي معرفي شوي غړي باید د شورى د اکثریت غړیو موافقه او د باور رایه ترلاسه کړي. که پراخ بنسټه نظام تشکیلیږي او اوسني امیر یې په رأس کې راځي نو بیا به اوسنى امیر د شورى د غړو تعداد مثلا ۴۰۰ کسانو ته لوړوي، له ټول هیواد څخه به د سیمه ییز تعادل په نظر کې نیولو سره وړ اشخاص د شورى د غړو په توګه معرفي کوي. په بل او اصلي اړخ کې به اوسنى امیر د شورى له تشکیل څخه سمدلاسه وروسته مثلا ۴ تنه شورى ته د خپل ځاى ناستو په توګه ورپیژني، دا ۴ تنه به د شورى د اکثریت غړو د اعتماد رایه ترلاسه کوي، کوم یې چې د اعتماد رایه نشي ترلاسه کولاى د هغو په عوض به امیر نور نوي کسان شورى ته د خپل ځاى ناستو په توګه ورمعرفي کوي... د دې ۴ تنو څخه هیڅ یو یې باید له امیر سره نَسَبي خپلوي ونه لري. دا څلور تنه به په عادي توګه خپلې چارې پر مخ وړي. د پراخ بنسټه نظام له تشکیل څخه وړاندې یا په بل عبارت په اوسنى روان وضعیت کې کله چې اوسنى امیر خداى مه کړه په شهادت رسیږي او یا وفات کیږي، نو له دې څلور تنو څخه به هغه تن نوى امیر وي چې د شورى د اکثریت غړو د اعتماد رایه ترلاسه او ورپسې ټول مجاهدین ورسره بیعت وکړي. د پراخ بنسټه نظام له تشکیل څخه وروسته که بیا د پراخ بنسټه نظام اوسنى امیر خداى مه کړه په شهادت رسیږي او یا وفات کیږي نو مثلا د ۴۰۰ کسیزې شورى له خوا به د اکثریت رایو پر اساس له ۴ تنو ځاى ناستو څخه یو تن ملت ته د بیعت(رایې) لپاره وړاندې کیږي، که د ملت د اکثریت وګړو رایه یې ترلاسه کړه نو د نوي امیر په توګه به خپل کار پیلوي کنه نو له پاتې درې تنو څخه به هغه تن ملت ته د امارت د کاندید په توګه وړاندې کیږي چې مثلا د ۴۰۰ کسیزې شورى د اکثریت غړو رایه ترلاسه کړي، دا تن هم که د ملت د اکثریت غړو د رایې په ترلاسه کولو بریالى نشي بیا به نو شورى پاتې دواړه تنه ملت ته د امارت د نوماندانو په توګه وړاندې کوي په دې دواړو کې به هغه تن نوى امیر وي چې د ملت ډېرې رایې ترلاسه کړي.

له لومړى امیر څخه وروسته امیران به اړ وي چې له ۴ تنو څخه ۳ تنه داسې کسان وټاکي چې له امیر سره هیڅ ډول نسبي قرابت ونه لري او د پاتې یوه تن په اړه به امیر اختیار ولري چې له خپلو خپلوانو(زوى، ورور...) څخه یې ټاکي او که خوښه یې وي نو هغه به هم لکه د هغو نورو ۳ تنو په څېر له داسې کسانو څخه ټاکى چې دى ورسره هیڅ ډول نسبي قرابت ونه لري. دا ځکه چې له لومړى امیر څخه وروسته به نور امیران په خلاص لاس د شورى د غړو د بدلون واک ونه لري او یوائې به د وفات شویو او متقاعدو غړو پر ځاى نوي غړي شورى ته معرفي کولاى شي او په هغه صورت کې به د شورى د غړو په توګه منل کیږي چې د شورى د (له وفات شویو او متقاعدو غړو څخه پرته د پاتې نورو) اکثریت غړو د اعتماد رایه ترلاسه کړي. لومړى امیر به د ژوند تر پایه په خلاص لاس د شورى دغړو د بدلون صلاحیت ولري دا ځکه چې په جګړه ییز حالت کې د ښو او وړ اشخاصو موندل وخت غواړي، نو سمدلاسه یې چې کوم کسان ټاکلي د وخت په تیریدو شاید له هغوى څخه ښه او لا ډېر مستعد اشخاص په نظر ورشي او یا دا چې د پراخ بنسټه نظام د تشکیل په صورت کې به امیر لا ډېر وخت او امکانات ولري تر څو له ټول هیواد څخه د شورى لپاره ۴۰۰ کسان راچاپ او تر ټولو غوره او تر ټولو وړ او ښه اشخاص سره راغونډ کړي. ځکه نو نوى امیر به له ځان څخه وروسته د امارت لپاره ۴واړه کاندیدان داسې کسان ټاکي چې دى به هیڅ ډول نسبي قرابت ورسره نه لري. که د یوه تن

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اړه اختيار ورکول شي چې له خپلو خپلوانو څخه يې وټاکي بيا به نو دا ويره موجوده وي چې له ځان څخه وروسته د خپل زوی يا ورور د امير کيدو لپاره به د شورى اکثريت غړي خپل لاسپوڅی او بلي ګوی وټاکي.

که د د مجاهد مشرانو له لوري دا ميکانيزم عملي شي نو پرته له شکه چې په سياسي برخه کې به يې بې مثاله او شانداره نوښت کړی وي. په سوله ييز شکل به يې د قدرت د انتقال پروسه تضمين کړې وي. د ډيموکراسی په مخ به يې کلک ګوزار ورکړی او د ډيموکراسی د مسخره او غيرفطري انتخاباتو ډير ښه ، له عقل او فطرت سره برابر، ګټور او عملي موډل او بديل به يې توليي نړی ته وړاندې کړی وي. په هيواد کې به يې تر پيړيو پيړيو د پاييدونکي، باثباته، پرمختللي او ازاد دولت مستحکم او پاخه بنسټونه ايښي وي.

د پراخ بنسټه دولت له تشکيل څخه وروسته دې پر دې ميکانيزم د اساسي قانون د تدوين په جرګه کې مفصل بحث او مشوره وشي او په پای کې دې د نورو موضوعاتو تر څنګ دا ميکانيزم هم په واضح شکل په اساسي قانون کې درج او د اساسي قانون اساسي او غوښنه برخه دې وګرځول شي.

### ۳ـ مشران دې له انتخاباتو سره موافقه نه کوي

مشران دې له داخلي اړخ سره په هيڅ صورت انتخابات نه مني. مروج انتخابات په اسلام کې ناروا دي او له بلې خوا زموږ په هيواد کې انتخابات څو ځله تجربه شول، چې هر ځل ناکام، له درغليو ډک او په پای کې په مسخرو او ډرامو بدل شول، ټولو کانديدانو به د بريا ادعاوې کولې، حتی يو کانديد به هم نيتجه نه منله، له يو بل سره به چاړه او غوښنه شول، په پای کې به د انتخاباتو پايلې باطلې او بادار به يې راغی تر مينځ به يې کومه معامله وکړه او يا به يې نادر دوه سری حکومت جوړ کړ. د انتخاباتو ډرامه په دې شپو ورځو کې ښه ګرمه روانه ده، د دوه سري حکومت مشران دواړه د رايو د کټلو دعوې کوي او دواړه په نژدې وخت کې د لوړې د مراسمو او د خپلو حکومتونو د اعلانولو هوډ لري. نو د انتخاباتو دې تاريخچې او اوسنی رواني مسخرې ته په کتلو داخلي اړخ به د جوړجاړي په مذاکراتو کې په کومو سترګو په انتخاباتو تاکيد کوي او يا به مشرانپه کومو سترګو او کوم جرأت له انتخاباتو سره موافقه کوي؟

د مجاهد مشرانو له لوري خدای مه کړه د انتخاباتو منل به د مجاهدينو اتحاد ټوټې ټوټې کړي. د مجاهدينو افراد به له خپلو مشرانو څخه خپه او ناراضه شي، خپلو مشرانو ته به د منفورو او بې لارې شويو اشخاصو په سترګه وګوري، ځيني به يې په کورو کښيني او ځيني نور به يې د مقاومت په نويو ليکو کې منظم او دا ځل به د يرغلګرو او د داخلي ګوډاګي اړخ تر څنګ له خپلو منحرفو مشرانو سره هم جګړې ته ملاوې وتړي.

د مجاهد مشرانو له لوري د انتخاباتو منل به مخکې له ۱۴ مياشتو څخه په هيواد کې د مقاومت کرښې ماتې او وضعيت به د امريکايانو په ګټه بدل کړي، د امريکايانو هيلې به پوره او د امريکايانو د تړون مقابل اړخ به په بنفسهي توګه منحل او بيا به داسې څوک نه وي چې د " اسلامي امارت چې متحد ايالتونه يې د دولت په توګه نه پيژني او د مجاهدينو په نوم يې پيژني" نماينده ګي او وراثت وکړي او له امريکايانو څخه تړون ته د ژمن پاتې کيدو غوښتنه وکړي. نو امريکايان به بې خاره په هيواد کې پاتې شي، ځينی مشرانبه ګوډاګی ادارې سره يو ځای شي، څه به په کورو کښيني او څه به په خپلو مينځو کې لاس او ګريوان شي افراد به يې هم تيت او پرک شي په دې توګه به اوږده جهادي مبارزې ناکامه، امريکا به بريمنه او د سولې ترعنوان لاندې به خپلو شومو اهدافو ته ورسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او که له داخلي اړخ سره مذاکرات تر ۱۴ میاشتو اوږي او بهرنیان له هیواد څخه وځي او تر څه مودې پورې په هیواد کې کاذب امنیت او ثبات خپلې وزرې خوروي، ورپسې عملا د مجاهدینو په ګډون انتخابات هم ترسره کیږي نو انتخابات به له درغلیو ډک او هیڅوک به هم ترې راضي نه وي. هر اړخ به په نورو اړخونو د ډېر تقلب تورونه لګوي ورپسې به يې نتیجه څوک نه مني، بیا به موازي حکومتونه اعلانیږي، داخلي جګړه به پیلیږي، د وینو ویالې به بهیږي او هیواد به په تشه کندواله بدلیږي ورپسې به د حالاتو د قابو کولو په بهانه بیا امریکایي یرغلګر راځي او دا ځل به ښه پاخه او بې له کوم مزاحمته په هیواد کې میشت کیږي.

## ۴ـ مشران دې په مشترک یا ائتلافي دولت کې له ورګډېدلو څخه ځانونه وساتي.

مشران دې له کورنیو ګوډاګیانو سره د قدرت د ویشلو او د مشترک یا ائتلافي دولت د رامینځته کؤلو موافقه نه کوي. د قدرت ویشل او ګډوله دولت د هیواد ستونزه نشي حلؤلي. مشران دې په نیمه اسلامي دولت هم نه راضي کیږي؛ په نیمه اسلامي دولت یا ګډوله دولت باندې قناعت کول به عام مجاهدین ناراضه کړي، او د مقاومت نوې کربښې به رامینځته کړي که فرضا عام مجاهدین او ولس ګډوله یا نیمه اسلامي حکومت وهم مني او کرار کښیني هم، نو د نیمه اسلامي یا ګډوله دولت مشران به په خپلو مینځو کې جوړ رانشي او خپل مینځي کورنیو جګړو ته به مخه کړي چې په نهایت کې د هیواد په بربادۍ تمامیږي.

## ۵ـ مشران دې د هیواد بانفوذه سیاسي اشخاصو ته امتیازات ومني

مجاهدین دې په هیواد کې د ټولو هغو اشخاصو لیست ترتیب کړي چې ناراضه پاتې کیدل يې د مزاحمت او د مجاهدینو په وړاندې د جګړې د دوام لامل کیږي. له دې اشخاصو سره دې فردي او ځانګړي مجالس ترتیب شي، د هغوی نفوذ او د هغوی له لوري د ممکنه ایجادېدونکي مزاحمت کچې ته په کتو دې هغوی تطمیع کړل شي، د امتیازاتو او چوکیو وعدې دې ورسره وشي او د هغوی د راخپلؤلو پوره هڅه دې وشي. د داخلي مخالف اړخ له مهمو مشرانو سره دې حتی د وزارتونو، ولایتونو، ریاستونو او سفارتونو د چوکیو وعدې وشي. خو شرط به يې دا وي چې دوی به له هر ډول مخالفت څخه لاس اخلي او له خپلو متعلقینو او پلویانو سره یو ځای به د اسلامي امارت له قدرمن امیر سره بیعت کوي او د امیر د بشپړ اطاعت وعده به کوي. د نوی دولت په کابینه کې که د ۲۰ وزیرانو په مینځ کې ۳ یا ۴ تنه د داخلي مخالف اړخ مهم مشران وي او د امیر تر څار او امر لاندې خپلو دندو ته دوام ورکړي څه باک نه لري.

## ۶ـ مشران دې د جمهوریت او د اسلامي نظام په څېړنه مشتمل یو کتاب ولس ته وړاندې کړي.

مجاهدین دې یو کتاب ترتیب کړي او په هغه کې دې د اسلام له نظره جمهوریت یا ډیموکراسي په تفصیل سره وڅیړي. همدا راز په دې کتاب کې دې د اسلامي سیاست په اړه هم مفصل او روښانه علمي بحث وکړي. دا کتاب دې چاپ او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی ګام کې دې د داخلي مخالف اړخ په مشرانو او د داخلي مخالف اړخ د مذاکراتي ټيم په غړو وويشي او په دويم ګام کې دې دا کتاب په لکونو جلده چاپ او په ټول هيواد کې دې په وړيا توګه په هيوادوالو وويشل شي.

## ۷ـ د مجاهدينو د اوسنيو تشکيلاتو مستند کول

مجاهدين دې د اسلامي امارت اوسنی تشکيل مستند کړي. اسلامي امارت کوم کميسيونونه لري، د کميسيونونو مشران څوک دي، د رهبری د شوری غړي څوک دي، واليان، ولسوالان او د حلقو مشران څوک دي... د اسنادو په يوه لړۍ کې دې په منظمه توګه درج شي چې څوک، چيرته او څه مسئوليت لري... دا د دې لپاره چې که چيرته په هيواد کې د اسلامي نظام له قيام څخه وروسته بيا دوباره امريکايان راځي، يرغل کوي او زموږ نظام راپرځوي نو مقاومتي تشکيل به وار له مخه موجود وي، هر څوک به په بيره خپلې دندې او مسئوليت ته ځان رسوي. داسې به نه کيږي چې هر څوک په خپله مخه ولاړ شي، د مؤمنانو دا لوی ټولی بې نظمه او تيت او پرک شي او د بيا منظم کيدو او منسجم کيدو لپاره کلونه کلونه وخت ضايع وشي. د اسلامي امارت ټول مسئولين او افراد دې وپوهول شي او دا انګيرنه دې ورکړل شي چې ګواکې امريکايان بيرته راګرځيدونکي دي او د هغوی د راګرځيدا په صورت کې به له هغوی سره په هغه ترتيب او تشکيل مبارزه کيږي د کوم په اساس چې تېر څه کم شل کاله مبارزه روانه وه. څوک چې اوس چيرته والي دی، هغه مهال به هم همغلته والي وي او څوک چې فعلا د کوم کميسيون، يا حلقې مشر وي هغه به د امريکايانو د بيا راتلو په صورت کې هم د هماغه کميسيون يا حلقې مشر وي...

## ۸ـ له مجاهدينو سره د مشترکو اهدافو او اسلامي فکر لرونکو ډلو سره مفاهمه

مجاهدين دې په هيواد کې د هغو کړيو له مشرانو سره د تفاهم ځانګړي مجالس ترتيب کړي چې اسلامي فکر لري، هيواد اشغال او موجوده نظام غير اسلامي بولي. د مجاهدينو له اهدافو سره ورته اهداف لري. يواځې د مبارزې طرز يې بدل دی، په فکري مبارزه باندې اکتفاء کوي او د انتخاباتو له لارې اسلامي نظام ته رسيدل غواړي. د هيواد په پوهنتونونو او علمي مراکزو کې فعال حضور لري، ديني ـ فکري حلقې، مدرسې، ښوونځي، د لوړو زده کړو مؤسسې، کتابتونونه، ورځپاڼې، مجلې، راډيوګانې ... لري. دا ښکاره ده چې دا کړی له مجاهدينو سره فکري اختلاف لري، ځينو يې بې وخته، بې ګټې او تاواني سولې وکړې، په زغرده د مجاهدينو مبارزه نه تائيدوي، د روان مسلح جهاد په اړه ډېر ناځوانمردانه دريځ لري، يواځې په فکري هڅو تمرکز کوي او د جمهوريت د انتخاباتو له لارې د اسلامي نظام د قيام بې تعبيره خوبونهويني. خو د دې په څنګ کې تر اوسه يې د مجاهدينو مبارزه په زغرده رد کړې هم نه ده، له مجاهدينو سره جګړې ته هم ندي راوړاندې شوي، د مجاهدينو پر ضد يې د ګوډاګی ادارې او يرغلګرو ملاتړ هم ندی کړی، د مجاهدينو د مبارزې پر ضد يې په لويه کچه کې عمومي تبليغات هم ندي کړي. نو که مجاهدين د جګړې د ختمولو لپاره له کمونستانو، ډيموکراټانو، نشنلستانو، جګړه مارانو... سره مذاکراتو ته کښيني او هغوی ته حتی امتيازات هم مني... نو له دا ډول د اسلامي فکر او له مجاهدينو سره د ورته اهدافو لرونکو کړيو له مشرانو سره هم حتما بايد کښيني. د هغوی قدر وکړي، د اهميت په سترګه ورته وګوري، نرم او له مهربانۍ ډک تعامل ورسره وکړي، په جهادي صف کې د مختلفو مسئوليتونو او د خدمت کولو د مختلفو موقع ګانو وړانديزونه بايد ورته وکړي او په روانه مبارزه کې يې د راشريکولو او د هغوی د راخپلولو پوره هڅې وکړي. که روښانو ووايو مجاهدين دې د [illegible]، [illegible] او د ځينو نورو کړيو د افرادو د راملګري کولو او د هغوی د همکاريو د راجلبولو پوره هڅې وکړي. مجاهدينو د دې ډلو او کړيو په اړه اوږده موده د ګونګې روژه نيولې وه، د دوی په اړه يې د توقف اختيار خپل کړی ؤ، د دوی په اړه يې نه ښه ويل نه بد. د دا ډول خلکو په اړه به د دومره ډېرې مودې لپاره د غلي پاتې کيدلو حکمت ښايي دا ؤ چې يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ به دا خلک د مجاهدینو ملګري کېږي نو باید په ضد او کینه رانوستل شي ، او طعنې ورنه کړل شي... د دوی د ملګرتیا وخت همدا اوس دی، مجاهدین په نړیوالو سټیجونو ځلېږي، په یرغلګر دښمن باندې د هیواد د خپلواکۍ ویاړمن سند امضاء کوي او په هیواد کې پوره واک ته د رسیدو لپاره یې ډېره کمه موده انتظار ته اړتیا ده.

## ۹ـ د اوسنۍ اداري د دفتریز سیسټم محافظه او په هغه کې د پراخه اصلاحاتو راوستل

مشران دې هڅه وکړي چې د اوسني اداري په رأس کې راشي، د اوسنۍ اداري وزارتونه، ریاستونه ، دفترونه او په مجموع کې ټول اداري سیستم له مینځه یونسي، د اوسنۍ اداري ځینې مشران او د هیواد بانفوذه سیاسي مشران هم په نوۍ حکومت کې راګډ او حتی تر وزارتونو پورې ځینۍ چوکۍ ورکړي. د دې کار یوه ګټه به دا وي چې د سولې او تفاهم له لارې به اسلامي دولت ته رسیدل اسانه شي او له بل لوری به که بیا دوباره یرغلګر د نوی نظام په وړاندې پوځي عملیات کوي او هیواد اشغالوي نو په نوی نطام کې شته غیر طالب کسان(خصوصا په پوځ، پولیسو او امنیت کې) که ټول د امریکایانو په خلاف د مجاهدینو ملګري نشي نو د تر نیمایي زیاتو کسانو ضمیرونه خو به راویښ شي او غیرتونه به یې اجازه ورنه کړي چې بیا له امریکایانو سره ملګري شي. ګڼ تعداد به یې ښایي بیا د مجاهدینو ملګري هم شي. البته مجاهدین به په اداراتو کې اساسي اصلاحات راولي، د ادارتو کارکوونکو ته به د لازمو دیني زده کړو ورکول په نظر کې نیسي، ځیني کسان به له اداراتو حذف او پر ځای به یې نور وړ او مجاهد افراد په اداراتو کې ځای پر ځای کوي.

## ۱۰ـ د بهرنیو یرغلګرو د وتلو تر بشپړیدو پورې د پوځي عملیاتو کمول او د مجاهدینو دیني او فکري روزنه

د زور له لارې د ټول هیواد لاندې کول دې مجاهدین د وروستنۍ اختیار په توګه په پام کې ولري. د زور له لارې د داخلي دښمنانو له مینځه وړل به په لاندې دلایلو مجاهدینو ته سخت کار نه وي:

- بهرني ځواکونه له هیواد څخه خپلې پښې سپکوي او کورني دښمنان د خپلو بهرنیو بادارانو له پوځي، مالي او سیاسي مرستو څخه بې برخې کېږي.
- کورني دښمنان په خپل مینځ کې اتحاد نه لري؛ غیر متحد، تیت او پرک او په خپلو مینځو کې په سختو رقابتونو بوخت دي. کوم مشترک هدف او انګیزه نه لري، کوم مشترک فکر او ارمان سره ندي راټول کړي. د کمونستانو له بقایو څخه راواخله، تر ګیلم جمو، پخوانیو بې لارې شویو مجاهدینو، ډیموکراټانو، نشنلستانو... پورې د بیلابیلو نظریو او فکرونو لرونکي خلک پکې شتون لري.
- د فعلي اداري د زیاتره مشرانو کورونه له هیواد څخه بهر دي او دوی په خپله د بهرنیو هیوادونو تابعیتونه لري، نو د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره سم دوی هم بیرته خپلو کورونه ته ځي او له هیواد څخه وځي.
- د ګوډاګیانو د اداري او د ولس تر مینځ ډېر زیات واټن شتون لري، ولس نور ترې سترې دی او د ګوډاګیانو د پایښت ملاتړ نه کوي.
- د مجاهدینو د لومړنیو کلونو پر خلاف چې د مجاهدینو زیاتره غړي پښتانه ؤ، اوس د مجاهدینو په لیکو کې د پښتنو تر څنګ په لوړ تعداد غیر پښتانه مجاهدین هم شتون لري. اوس د پښتنو قومونو تر څنګ تاجک، ازبیک، هزاره، ترکمن او نور قومونه هم د مجاهدینو ملاتړي او د هغوی د راتګ پلویان دي.
- جګړه مارانو ته خپل او د مجاهدینو قوت معلوم دی؛ جګړه مارانو د مجاهدینو له لوری ماتې خوړلې وه ځینې یې له هیواده تښتیدلي او ځینې یې په هیواد کې پټ شوي ؤ. تېر ځل یې د خپلو قومونو ځینې افراد په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخلتفو تبليغاتو او بهانو تيرايستلي او د مجاهدينو پر وړاندې درؤلي وو، دا ځل يې خپلو قومونو دوى او مجاهدين ډېر ښه پيژندلي؛ دوى يې څه کم شل کاله د کفارو په غلامۍ کې او مجاهدين يې د اسلام په ننګه له کفارو سره په جګړه کې ليدلي.

- د هيواد د شمال په ټولو سيمو کې وار له مخه مجاهدين فعال حضور لري، د بدخشان ډېرې ولسوالۍ او نيم فيض اباد عملا د مجاهدينو په لاس کې ده. په تخار، جوزجان، فارياب او نورو شمالي ولاياتو کې عملا مجاهدين ګڼې ولسوالۍ په خپل واک کې لري او پاتې ولسوالۍ او مراکز عملا د محاصرې په حال کې دي.

خو يو شمير انديښنې هم شتون لري. تير ځل مجاهدين له مدرسو راووتل او رأسا د شر او فساد له عاملينو سره په جګړو بوخت شول، د شر او فساد په دوره کې خلک په رښتيا هم په تنګ شوي وو او د مجاهدينو په ښېر د يو چا د راتګ انتظار يې کاوه تر څو د دوى سرونه، عزتونه، ناموسونه او مالونه د محلي قوماندانانو، ټوپکيانو، پاټکيانو او د شر او فساد د نورو عاملينو له پنجو څخه وژغوري. خو دا ځل د مجاهدينو د لومړني ظهور له وخته تقريبا ۲۵ کاله تيرېږي. مجاهد مشرانو په خپلو افرادو پوره کنټرول نه درلود، د مجاهدينو ټول افراد له لازمي ديني پوهې او تقوى څخه برخمن نه وو، د مجاهدينو د افرادو له لوري افغانان ځورول شوي، د عامو افغانانو د يوې برخې تر مينځ د مجاهدينو پر وړاندې د ملاحظې وړ کرکه او نارضايتي شتون لري چې لوى لامل يې د مجاهدينو د افرادو له لوري له عام ولس سره ناسم چلند دى.

نو دا ځل که موږ د ټول هيواد د فتحې عمليات پيلوو، نو ايا موږ له يو لک څخه ډېر په لازمه اسلامي پوهه سنبال، شعوري، مخلص او په خپل ولس مهربانه مجاهدين لرو چې هم د جګړې کرښې سنبال کړي او هم د هيواد په پراخه جغرافيه کې د جګړې د کرښو تر شا د مفتوحه سيمو امنيت او نظم خوندي کړي. ټول مجاهدين خو له مدارسو فارغ عالمان، حافظان او د الله تعالى له لارې خبر افراد نه دي؛ د مخلصو او پاکو مجاهدينو ترڅنګ ډېر لوېدلي او شرير خلک هم د مجاهدينو په کرښو کې شتون لري. ځيني افراد د جذبې له مخې او ځيني نور بيا د خپلو شخصي اغراضو د تعقيب او خپلو شخصي کټو او اهدافو ته د رسيدو په موخه د مجاهدينو له کرښو سره يو ځاى شوي، دا ډول افراد له لازمي ديني پوهې او شعور څخه بې برخې وي. جذبې يې ژر سړېږي، او د جهاد کرښې ته د راتګ پاک نيت يې په غلطو ارادو اوړي، او د خپلو اغراضو تعقيبوونکي خو له اولې ورځې د الله لپاره د جهاد په نيت نه وي راغلي. دا ډول افراد د عامو خلکو د ځورؤلو، وژلو، بې عزته کولو، د هغوى د مالونو د لوټلو، او د پاکو مجاهدينو د بدنامولو سبب کيږي. فعلا له مجاهدينو څخه د عامو خلکو د يوې برخې د نارضايت تر ټولو مهم سبب د مجاهدينو په کرښو کې د همدې خداى ناترسه خلکو شتون دى. له هيواد څخه د يرغلګرو له وتلو څخه وروسته که دا له ديني پوهې او تقوى څخه بې برخې  افراد د پاکو مجاهدينو په څنګ کې د فتحې په نيليو سپرېږي، ولسوالۍ او ولايتونه فتحه کيږي، د دښمن د چاپو ويره نه وي، د دښمن د ډرون بريدونو، د بي ۵۲ طيارو د بمونو او د جيټ او څرخکو د ګوزارونو انديښنه نه وي، مجاهدين په فاتحانه انداز کې قرار ولري او پر دښمن يې لاس بر وي؛ کوم ځواک به د دا ډول بې تقوې خلکو د فتحې غرور په تواضع بدلوي، د مجاهدينو کوم استخباراتي قوت به عام خلک د دا ډول بې تقوى خلکو له تيري څخه ژغوري. ايا د مجاهد په ښېره کې دا بې تقوى افراد به بيګناه خلک ونه ځوروي، مالونو، ناموسونو او عزتونو ته به يې غله نشي، د بې ګناه خلکو وينې به تويې نه کړي؟ ايا سپيڅلي مجاهدين به په پراخه کچه بدنامه نه کړي؟ ايا له اسلامي امارت څخه به په پراخه کچه د عامو افغانانو د ناراضتيا لامل نشي؟ ايا الله تعالى به د  مظلومو افغانانو اهونه وانه وري، زموږ فتحې به بيا په شکست بدلې نشي، مشرانبه الله تعالى ته مسئول نشي، خپل د اخرت پيټي به درانده نه کړي؟  ايا عام افغانان به د يرغلګرو او د هغوى د ګوډاګې ادارې په ارمان نشي، ولس به بيا د يرغلګرو راتګ ته تمايل ونه کړي؟ ايا د يرغلګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیا راتګ په صورت کې به بیا ولس موږ ته په خپله غیره کې ځای راکړي؟ ایا بیا به زموږ د مبارزې ننګه وکړي، له یرغلګرو سره اوږده او له قربانیو ډکې جګړې ته به راوړاندې شي؟ و به یې زغمي؟

مشران دې بیره نه کوي، له حوصلې او صبر څخه دې کار واخلي، څه کم شل کاله مبارزه مو چې وکړه، دا مبارزه دې دوه یا درې کاله نوره هم اوږده شي، خو ګامونه دې پاخه واخیستل شي. د پورتنیو اندېښنو د له مینځه وړلو او د پورتنیو احتمالي حالاتو د رامینځته کیدو د مخنیوي لپاره دې سر له همدا اوسه مناسب تدابیر ونیول شي. مجاهدین دې د هر مجاهد لپاره د روزنې دوه کلن پروګرام په نظر کې ونیسي. د دوه کلن روزنیز پروګرام د تطبیق پلان او میکانیزم دې ترتیب او امکانات دې ورته چمتو شي. دوه کلن روزنیز پروګرام کې دې د پوځي روزنې تر څنګ زیات تمرکز په اسلامي ـ فکري روزنه وشي. د روزنې په پای کې دې له هر مجاهد څخه معیاري ازموینه واخیستل شي، که ځوک ناکامېږي مجبور به وي چې روزنیز پروګرام بیا تعقیب او بیا ځلې ازموینې ته چمتووالی ونیسي. د اسلامي امارت له خوا دې د علماء کرامو او لیکوالانو یوه ډله وګمارل شي تر څو د دې دوه کلن روزنیز پروګرام لپاره په اسلامي ـ فکري محتوی مشتمل، جامع، معیاري او ګټور درسي کتابونه ترتیب کړي. ترتیب شوي کتابونه دې چاپ او په ټول هیواد کې دې په ټولو مجاهدینو ووېشل شي. د درسي کتابونو تر څنګ دې د اسلامي فکر د درسونو صوتي او ویډیویي فایلونه هم چمتو او د ضمیموي درسي توکو په توګه دې په ټولو مجاهدینو تقسیم شي. د هرې سیمې مجاهدینو ته دې په خپله سیمه کې معسکر جوړ شي، د ټول هیواد د مجاهدینو لپاره دې استادان تعیین او خپلو اړوندو معسکرونو ته دې واستول شي. په دې توګه به ټول مجاهدین له خپلو اسلامي عقایدو، عباداتو، اخلاقو، سیاست، اقتصاد، تاریخ، سیرت النبي صلی الله علیه و سلم، د جهاد له فقهي، د جهاد له فضیلتونو او ګټو، د جهاد له اهدافو، د مجاهد له مسئولیتونو... او نورو ټولو اړوند موضوعاتو څخه خبر شي او پوهه به پرې ترلاسه کړي؛ د مدرسې د هغو طالب العلمانو یا د ښوونځیو د متعلمینو جذبې به په پاکو او مخلصو نیتونو، ټینګو عزمونو او نه ماتېدونکو ارادو واوړي چې له لازمې دیني پوهې څخه بې برخې وو او یواځې جذبې د جهاد تر کرښو راوستي وو. د خپلو اغراضو لپاره د جهاد کرښو ته د راغلیو افرادو نیتونه به بدل، له خپلو شخصي غرضونو څخه به تېر او د اسلامي فکر په ترلاسه کولو سره به پاک او مخلص مجاهدین شي.

اوس چې مجاهدینو له یرغلګرو سره د هیواد د ازادۍ او د هغوی د خروج تړون امضاء کړی او تر راتلونکو ۱۴ میاشتو پورې به یرغلګر  په هیواد کې شتون ولري نو په دې څوارلس میاشتنۍ موده کې د مجاهدینو له لورې د هیواد د ولایاتو د مراکزو او د ګڼو ولسوالیو فتحه کول به بې ګټې او یا به هم ناشوني کار وي. معلومه ده چې مجاهدین به د ولایاتو او ګڼو ولسوالیو د نیولو پراخ عملیات نه ترسره کوي، نو په داسې حال کې چې موږ به د پراخه سیمو د لاندې کولو اراده هم نه لرو نو په پراخه کچه د کورنیو عسکرو وژل به موږ ته څه ګټه ولري؟ که په پراخه کچه عسکر ووژنو، یا یې ډلبیزې تیښتې او د ساحو پرېښودلو ته اړ کړو، یا یې په لوړ تعداد تسلیم کړو نو د کابل اداره به د یرغلګرو په شتون کې وشنېږي، لمن به یې له ولایاتو راټوله شي. بیا به مجاهدین مجبور وي چې د ولایاتو اداره په لاس کې واخلي یا هم د ولایاتو اداره بې مسئوله داړه مارانو او جګړه مارانو ته پرېږدي چې هغوی به بیا په ملت باندې هیڅ ډول رحم نه کوي، د اړوند ولایاتو د خلکو پر عزتونو، ناموسونو او مالونو به تیری کوي، خلک به وژني او تر شکنجو لاندې به یې نیسي. له ولایاتو څخه د ګوډاګي ادارې د واک په راټولیدو که مجاهدین اړوند ولایاتو ته ننوځي او واک یې په لاس کې اخلي نو د بهرنیو یرغلګرو لپاره به لوی نړیوال شرم وي او ښایي یرغلګر دا لوی شرم ونه زغمي، یرغلګر به د امریکا له داخل او ټولې نړۍ څخه د پیغورونو، انتقادونو او په افغانستان کې د پوځیانو د پاتې کولو د غوښتنو له توپان سره مخ شي. چې په دې صورت کې بیا ښایي امریکایان له افغانستان څخه د خپلو پوځیانو ویستل وځنډوي، د سولې له تړون

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه په شا شي او د مجاهدينو له ولکې څخه د ولاياتو د ويستلو لپاره نظامي عمليات په لاره واچوي او هيواد ته نور يرغلګر سرتيري راواستوي.

نو مجاهدينو ته لازمه ده چې په اوسني وخت کې د داخلي عسکرو د وژلو، تيښتې ته اړ ايستلو، تسليمولو او له پښو غورځولو په عوض خپل ټول تمرکز د مجاهدينو په اسلامي ـ فکري او پوځي روزنه باندې راټول کړي. مجاهدين دې خپل پوځي عمليات په ټول هيواد کې مثلا ۸۰ سلنه راکم کړي، د ۸۰ سلنې پوځي عملياتو لګښتونه دې د مجاهدينو د روزنې پر دوه کلن پروګرام ولګوي. د دوه کالو په موده کې مجاهدين د ښې او بشپړې اسلامي ـ فکري روزنې تر څنګ ښه او بشپړه پوځي روزنه هم ترلاسه کولای شي. د مجاهدينو د روزنې د دوه کلن پرواګرام د عملي کولو په جريان کې به نسبتا پُر امنه فضاء حاکمه وي؛ د يرغلګرو د ډرون او نورو هوايي بريدونو ويره به نه وي، د توغندويز او چاپو خطر به شتون نه لري.

د دوه کلن روزنيز پروګرام له ختم څخه وروسته دې هم هر مجاهد مکلف شي چې د روزنيزې دورې درسي کتابونه او صوتي او ويډيويي فايلونه له ځان سره ولري. مثلاً هرو شل يا ديرش نفرو مجاهدينو لپاره دې يو مجاهد د استاد په توګه وټاکل شي. مجاهدين سر او کال په عملياتو نه وي بوخت، که يوه هفته په عملياتو کې برخه اخلي بيا څو هفتو فارغ وي، که د ورځې دوه يا درې ساعته له دښمن سره جګړه کوي پاتې نوره ټوله ورځ فارغ وي نو په دا ډول فارغه وختونو کې به مجاهدين خپل مرکز ته نږدې د سيند په غاړه کې ، نږدې چمن او يا نږدې باغ کې تر سيوري لاندې له خپل استاد سره خپلو درسونو ته کښيني، په دوه کلن روزنيز پرواګرام کې لوستلي کتابونه به بيا لولي، دا چاره به بې له کومې وقفې په ټول هيواد کې د ټولو مجاهدينو له خوا ترسره کېږي.

څوارلس مياشتې وروسته به ټول يرغلګر له هيواد څخه وتلی وي او موږ د مجاهدينو لپاره د دوه کلن روزنيز پروګرام يادونه کوو، نو ايا د يرغلګرو له خروج وروسته به لس مياشتې نور هم د ټول هيواد د فتحې عمليات ځنډول کېږي؟ د دې پوښتنې ځواب په دوه اختيارونو سره کېدلای شي: لومړی اختيار دا دی چې هو د ټولو يرغلګرو له خروج څخه وروسته دې لس مياشتې نور هم د هيواد د بشپړې فتحې عمليات وځنډول شي. په دې موده کې دې ټول مجاهدين په فکري او عسکري ډول د ټول هيواد فتحې ته اماده شي او په څنګ کې يې بل لوی احتمال دا دی چې د ټولو بهرنيو ځواکونو له وتلو څخه وروسته به د ګوډاګی ادارې مشران په خپلو کې جوړ رانشي، حکومت او اداره به يې تر ډېرې مودې دوام ونه کړي، په خپلو مينځو کې به په خونړيو جګړو واوړي، اداره به يې وشنېږي. د مجاهدينو مخالفين به په ګڼو جهتونو وويشل شي، ټول جهتونه به له يو بل سره ښکر په ښکر شي. په دې صورت کې به په هيواد کې په حکومتي سطح د واک تشه رامينځته شي؛ د هيواد ژغورنې لپاره به د ټول ولس سترګې مجاهدينو ته رواوړي او ترينه وبه غواړي چې هيواد له شته اوړدوړ څخه وژغوري او په هيواد کې خپل نظام تشکيل کړي. نړيوال به هم په زغرده مجاهدينو ته د ټول واک د نيولو له امله د ملامتی ګوته نشي نيولای، په دې توګه به له يوې خوا د تيت او پرک او په خپلو مينځو کې په جګړو کې د اخته دښمن له مينځه وړل مجاهدينو ته اسانه وي، له بله پلوه به د ټول ملت ملاتړ له مجاهدينو سره وي او له بله خوا به مجاهدين تر ډېره حده له نړيوال فشار او ګواښونو څخه بې غمه وي. دويم اختيار دا دی چې مجاهدين دې د يرغلګرو له بشپړ وتلو څخه وروسته د ټول هيواد د فتحې عمليات پيل کړي خو ټول مجاهدين دې پکې برخه نه اخلي؛ د بيلګې په ډول پنځوس سلنه مجاهدين دې عملياتو کې ګډون وکړي او پاتې مجاهدين دې په خپلو معسکرونو کې پاتې شي. ډېر مجاهدين له مدرسو څخه فارغ فاضلان، حافظان او په دين او دنيا پوه افراد دي، دا افراد که د ټولو مجاهدينو ديرش سلنه تخمين کړو، او ورسره په څنګ کې شل سلنه هغه افراد چې تر دوه کلونو پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

روزنه یې حتمي ده یو ځای کړو او عملیاتو ته یې ولیږو او پاتې پنځوس سلنه مجاهدینو ته اجازه ورکړو چې خپله دوه کلنه تربیوي دوره بشپړه کړي، په دې توګه به دوه کاله وروسته دا پنځوس سلنه مجاهدین له روزلو وروسته له هغو دیرش سلنه وار له مخه جوړو مجاهدینو سره یو ځای شي او خپلو پوځي عملیاتو ته به دوام ورکړي او هغه شل سلنه مجاهدین چې تر څوارلس میاشتې روزنې وروسته یې خپله روزنه متوقفه کړې او عملیاتو ته تللي وو، بیرته معسکرونو ته راوګرځي او د خپلې روزنیزې دورې پاتې لس میاشتې به هم بشپړې کړي. د دې لس میاشتو په موده کې به د ټولو مجاهدینو اتیا سلنه په نظامي عملیاتو بوخت وي او تر لس میاشتو وروسته به دا شل سلنه مجاهدین هم بیرته عملیاتو ته ورګرځي او په دې توګه به سل سلنه مجاهدین په پوځي عملیاتو بوختېږي.

د چمتوالي په موده کې دې د مجاهدینو د پوځي او اسلامي ـ فکري روزنې سربیره د پوځي عملیاتو له لارې د هیواد د فتحې تفصیلي پلان او نقشه هم ترتیب شي. د مجاهدینو قوماندانان دې خصوصا او نور مجاهدین دې عموما د هیواد په ټولو ښارونو او سیمو څو څو ځله وګرځول شي او په هره سیمه او هر ښار کې دې کوڅه په کوڅه بلد کړای شي. که ممکنه وي ټولو مجاهدینو ته دې نظامي یوني فورم یا پوځي لباسونه چمتو شي او مجاهدینو ته دې د یوه منظم پوځ په څېر نظم او تشکیلات ورپه برخه شي.

د چمتوالي په دوره کې دې په یو مخیز ډول ټول پوځي عملیاتونه نه ځنډول کېږي، بلکه مثلا د ټولو عملیاتونو شل سلنه عملیاتونه دې جاري وساتل شي، دښمن دې په ازادانه ډول په هیواد کې تحرک ته نه پرېښودل کېږي او په دوامداره ډول دې تر پوځي ګوزارونو لاندې ونیول شي. د چمتوالي په دوره کې دې په ټول هیواد کې له قومي مشرانو، بانفوذه اشخاصو، د ګوډاګی اداري محلي منصوبینو، محلی زورواکانو او جګړه مارانو سره خبرې او تفاهم دوام ولري او په څنګ کې دې په عمومي ډول د نوي نظام راتلو ته د ټول ولس په فکر جوړونې کار وشي، مانا دا چې فکري او فرهنګي فعالیتونو ته دې لا ډېر زور ورکړل شي.

## ۱۱ـ د اسلامي فکر لرونکو محصلینو او عصري تعلیم یافته ګانو د لیستونو چمتو کول

څومره به ښه وه او اوس به څومره د داډ او امید ځای ؤ چې که مجاهدینو لس یا پنځلس کاله وړاندې ښوونځیو ته خپل اسلامي ـ انقلابي نصاب چمتو کړی وای، مدارسو ته یې د عصري علومو نصاب ترتیب کړی وای، مجاهدینو خپل پوهنتونونه فعال کړي وای... اوس به موږ سلګونه زره په دیني او عصري دواړو علومو باندې سنبال فکري او شعوري مسلمان ځوانان درلودلای. که مجاهدینو لس کاله وړاندې مثلا د مدرسو زر تنه فارغ ذهین او با استعداده فاضلان د عصري علومو د لس تنه تکړه استادانو په واسطه د پنځه کلونو لپاره تر منظمې روزنې لاندې نیولي وای نو پنځه کاله وړاندې به موږ زر تنه په دیني او عصري علومو سنبال تکړه استادان درلودای؛ دې زر تنو استادانو څخه که هر یوه سل تنه د مدارسو فارغان، یا ملایان د پنځه کلونو لپاره تر روزنې لاندې نیولای وای نو اوس به موږ سل زره تنه داسې ځوانان لرلای چې د دیني او عصري دواړو علومو خاوندان به وو. په دې ترتیب باندې د سل زرو تنو په عصري علومو باندې د سنبالولو ټول مصارف به د ټول هیواد په کچه د یو کال نظامي عملیاتو د ټولو مصارفو له یو سلنې څخه هم کم وو خو نتیجه به یې ډېره ښه او ګټه به یې ډېره زیاته وه. اوس خو دا چارې ندي ترسره شوي او مجاهدین دا دې عملا له مبارزاتي تشکیل څخه د هیواد په سطح نظام ته د ننوتلو په حال کې دي. د دیني او عصري دواړو علومو لرونکي مجاهدین او د مجاهدینو پلوي ځوانان ډېر کم دي. په داسې حال کې چې د نظام د جوړولو او چلولو لپاره یوازې دیني پوهه کفایت نه کوي بلکه په څنګ کې یې په دنیا پوهېدل او د عصري علومو درلودل هم لازم دي. نو په اوس وخت کې چې په دې برخه کې یوڅه د مجاهدینو لپاره اړین دي هغه دا دي چې مجاهدین دې په ټول هیواد کې د پوهنتونونو د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

محصلينو د بشپړې پيژندنې ليستونه چمتو کړي چې جهادي فکر لري، د هيواد د استقلال او دلته د سوچه اسلامي نظام هيله مند دي. نه يواځې د برحاله محصلينو بلکه د هغو عصري تعليم يافته کانو ليستونه دې هم ترتيب شي چې اسلامی او جهادي فکر لري او په تيرو شاوخوا پنځلس کلونو کې له پوهنتونونو څخه فارغ شوي دي. د دا ډول محصلينو د ليستونو برابرول سخت کار نه دي او د همدې محصلينو پر مټ د فارغ شويو ځوانانو پيژندنه هم کيدای شي. مثلا يو فکري محصل چې سږ کال يې د پوهنتون د څلور کلنې دورې وروستی کال دی، د خپل پوهنځي د تيرو درې کلونو د فارغينو په ډله کې په اسلامي فکر سنبال ټول کسان پيژني. د دې محصل د لومړي کال په پای کې فارغ شوی فکري محصلين د خپلې دورې په اوږدو کې د درې يا څلور کلونو د فارغينو تر مينځ فکري محصلين پيژني.... په همدې ډول د ټول هيواد په سطحه په اسانۍ سره د فکري محصلينو او عصري تعليم لرونکو د پيژندې نوم لړونه چمتو کيدای شي. په نوي خپلواک اسلامي نظام کې همدا محصلين په اخلاص سره د خپلو مجاهدينو ورونو تر څنګ په بيلابيلو برخو کې د خپل ولس خدمت کولای شي. مسلکي او فني برخو کې دې دا ډول فکري ځوانانو ته د خدمت کولو لپاره لومړيتوب ورکول شي، تعداد به يې کم وي بنايي ټولو بستونو ته ونه رسيږي، پاتې خالي بستونه دې بيا د اوسنۍ ادارې کارکوونکو يا نورو غيرفکري او غير اعتمادي کسانو ته تر يو وخت وسپارل شي. داسې که ونشي نو فکري ځوانان به مو همداسې ګرځي او زموږ په مسلکي بستونو به هغو کسانو ډډې وهلې وي چې د ډيموکراسۍ عاشقان او د ډالرو او دنيا شوقيان به وي، مجاهدينو سره به فکرا جوړ نه وي، غلا، اختلاس او بل هر ډول رذالت څخه به مخ نه اړوي...

## ۱۲ـ د سيمې او نړۍ له هيوادونو سره د سولې د يو بل په هيوادونو کې د نه مداخلې او دوه اړخيزو همکاريو د تړونونو ترسره کولو ته د چمتوالي ښکاره کول

مجاهدين دې د سيمې او نړۍ له نورو هيوادونو سره هم د سولې او نه جګړې کولو، د يو بل په هيوادونو کې د نه لاسوهنې او د دوه طرفه همکاريو د تړونونو ترسره کولو ته خپله اماده ګی وښيي ، مجاهدين دې په ډاګه کړي چې دوی د دا ډول تړونونو ترسره کولو ته همدا اوس هم چمتوالی لري او که دوی په افغانستان کې د نظام په جوړولو بريالي کيږي نو هغه مهال به هم دوی چمتو وي چې دسيمې او نړۍ له هيوادونو سره دا ډول تړونونه رامينځته کړي.

## ۱۳ـ د عامو افغانانو د زوړونو ګټل او د ټول ولس د همکارۍ راجلبول

د ولس د ملاتړ د خپلولو لپاره دې مجاهدين لاندې درې اساسي چارې ترسره کړي:

۱ـ مجاهدين دې خپلې ټولې هڅې په کار واچوي تر څو د سولې، مذاکراتو او تفاهم له لارې د هيواد روانه معضله حل او د خپلواک اسلامي نظام په قيام بريالي شي.

۲ـ که د تفاهم او مذاکراتو له لارې د هيواد د معضلې حلول او اسلامي نظام ته رسيدل ناشوني کيږي نو اسلامي امارت به د روزل شويو، مخلصو، پاکو، شعوري او په ولس زړه سوځونکو مجاهدينو په واسطه د ټول هيواد د فتحې عمليات په لاره اچوي.

۳ـ اسلامي امارت دې په ليکلې بڼه د يوه کتاب له لارې په هيواد کې د راتلونکي اسلامي نظام جوړښت او څرنګوالی ملت ته شرح کړي. مجاهدين په هيواد کې د دولت دارۍ او د هيواد د ابادولو او پرمختګ لپاره کوم پروګرامونه ، پلانونه او ستراتيژۍ لري. د هيواد لپاره خپلې ټولې طرحې او پلانونه دې هيوادوالو ته د يوه کتاب له لارې وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پورتنیو درې مواردو څخه مو په دوه مواردو په تفصیل سره بحث وکړ اوس به په دریم مورد باندې یو څه مفصل بحث وکړو:

هر افغان دا تلوسه لري چې د مجاهدینو د راتلونکي دولت د څرنګوالي په اړه پوه شي؛ فعلا هیڅوک هم نه پوهیږي چې د مجاهدینو دا ځل حکومت داري به څنګه وي. ډېر وګړي داسې ګمان کوي ، چې که مجاهدین په هیواد باندې پنځوس کاله هم حاکم پاتې شي، نه به افغانستان د پیاوړي پوځ خاوند شي او نه هم د ښه اقتصاد، نه به هیواد په تعلیم کې پرمختګ وکړي، نه هم په صنعت او تجارت کې ، نه به د هیواد زراعت په پښو ودرېږي، نه به هم د هیواد لویې لارې او ښارونه آباد شي او نه هم کلي او ولسوالۍ، نه به هم افغانان پیسه داره، آسوده او د ښه ژوند خاوندان شي، د ژوند ټولې چارې به افقي سیر لري، په یوه برخه کې به هم د صعود او پرمختګ څرک نه لګیږي. که د نړۍ هیوادونه د مجاهدینو له حکومت سره مالي مرستې ونه کړي نو د پوځ او عسکرو تنخوا ګانې به له کومې بودیجې څخه برابرېږي. ښوونځي، پوهنتونونه او شفاخانې به په کومو پیسو فعالې او چلول کیږي؟ د امربالمعروف او نهی عن المنکر اداره به په کومه طریقه او له کومو لارو څخه په ټولنه کې نیکیو ته وده ورکوي او د بدیو مخه به نیسي؟ ښځې به له کومو حقوقو څخه برخمنې وي، ښوونځي او پوهنتونونه به یې څنګه وي، ایا د هیواد ابادولو، صنعتي کولو او پرمختګ ته به کار کیږي؟ دا هغه پوښتنې دي چې تر ډېره پورې یې حتی له عامو مجاهدینو سره هم ځوابونه نشته. د ډیموکراسۍ د انتخاباتو لپاره کاندیدان خلکو ته د کمپاینونو پر مهال ډېرې وعدې ورکوي، د هیواد د ابادولو او پرمختګ لپاره خپلې طرحې او پلانونه له خلکو سره شریکوي او خلک هم بیا د همدې پلانونو او طرحو له مخې د کاندید ملاتړ کوي او خپله رایه ورکوي.هلته خو زیاتره وعدې دروغجنې، پلانونه او طرحې خیالي او ارماني وي او یوائې د خلکو د غولولو او د هغوی د رایې د ترلاسه کولو لپاره وړاندې کیږي. خو په اوس وخت کې چې مجاهدین نظام او دولت دارۍ ته د داخلېدو په درشل کې دي، د راتلونکي دولت دارۍ په اړه، د هیواد لپاره د مجاهدینو د طرحو، پلانونو، نیتونو او ارادو په هکله باید ولس ته مفصل معلومات ورکول شي، مجاهدین اړ ندي چې دروغ ووایي، د راتلونکي افغانستان لپاره دې خپلې ارادې له ولس  سره شریکې کړي دا چې بیا دوی څومره توانیږي چې د خپلو ارادو ترسره کولو ته ورسیږي دا بیله خبره ده. د بیلګې په ډول که مجاهدین ولس ته ووایي چې موږ غواړو او عزم لرو چې افغانستان یو ازاد، بې طرفه، اباد، پرمختللی او له نړۍ سره سیال هیواد کړو. ښه اوس دې مجاهدین دا ډول افغانستان ته د رسیدو لپاره خپله تفصیلي تګلاره او نقشه له ملت سره شریکه کړي... ډېرۍ خلک مجاهدینو ته په دې خوشبین نه دي چې هغوی فکر کوي چې مجاهدین د دولت کولو خلک نه دي، اصلا د نظام چلولو وړتیا نه لري، مجاهدینو ته یوائې د یوې جنګې ډلې په سترګه ګوري. که مجاهدین د راتلونکي افغانستان لپاره خپله تفصیلي برنامه هیوادوالو ته وړاندې کړي نو دا ډله خلک به(چې ګڼ شمیر علمي څېې، محصلین، استادان او په ټوله کې د هیواد تعلیم یافته طبقه پکې راځي) مجاهدینو ته خوشبین شي، او د مجاهدینو ملګري او همکاران به شي. نور د مجاهدینو ډېرۍ مخالفین به له مخالفتونو څخه لاس واخلي په عام ولس کې به د مجاهدینو ملاتړ او له هغوی سره لیوالتیا زیاته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د افغانانو تر مينځ تفاهمات، مذاکرات له کوم ځايه پيل شي؟ او د علماء کرامو لويه جرګه

د افغانانو تر مينځ خبرو اترو کې بايد ټول لوري په دې توافق وکړي چې ټولې فيصلې به د اسلام د مبارک دين د هداياتو له مخې کوي، ټول مسائل به د قرآن کريم او سنت له مخې ارزول کيږي کوم موارد چې له قرآنکريم او سنت سره مخالف وو هغه به مردود او د قرآن کريم او سنتو سره موافق موارد به منل کيږي. په فروعاتو او اختلافي موضوعاتو کې به حنفي فقه د اعتبار وړ وي، د نظام څرنګوالی به د اسلام د مبارک دين له لارښوونو او د اسلامي سياست د پوهانو له تشريحاتو او په تېر تاريخ کې د اسلامي نظامونو جوړښت ته په کتو سره سم به ټاکل کيږي او بالاخره په ټولو برخو کې به د اسلام سپيڅلی دين د سم والی يا ناسم والی يواځينی محک او معيار وي.

په بين الافغاني مذاکراتو کې تر ټولو لومړی بايد د هيواد تېر شل کلن وضعيت وڅيړل شي، د قرآن کريم او حديثو په رڼا کې په تيره شل کلنه جګړه کې کوم لوری په حق ؤ، طالبان که امريکا او ورسره بهرني او کورني ملګري يې؟ هيواد ته د امريکايانو او د هغوی د ائتلافيانو راتګ يرغل ؤ که نه؟ هيواد مستعمره ؤ که نه؟ په هيواد کې پراته بهرني پوځونه حربي کفار ؤ، که مستأمنين، ذميان يا معاهدين؟ په هيواد کې جهاد فرض عين ؤ که نه؟ د طالبانو مبارزه د دين له لارښوونو سره سم د اسلام او وطن د دفاع او ازادۍ لپاره وه که د پاکستان يا کوم بل ګاونډي په امر د هغوی د ګټو د خونديتوب او د هيواد د ويجاړولو او وروسته پاتې کولو لپاره؟ طالبان خپلواک مجاهدين او مهاجرين ؤ که د ای ايس ای ايجنټان او غلامان؟ د بهرنيو له خوا رامينځته شوی جوړښت، اداره وه که نظام؟ د اسلام او افغاني ارزښتونو، تاريخي واقعيتونو او نړيوال سياست له مخې د بهرنيو له خوا رامنځته شوی جوړښت، خپلواک ؤ، که مزدور، ګوډاګی او اجير؟ د بهرنيو له خوا رامينځه شوی جوړښت اسلامي ؤ که غير اسلامي؟ دا جوړښت د هيوادوالو په خدمت کې ؤ که د بهرنيو په ګټه له هيوادوالو سره په جګړه کې؟ په هيواد کې خصوصا په محاکمو کې فيصلې د شريعت له مخې کيدلې که د کوم بل قانون په اساس؟ په اقتصادي برخه کې اسلامي اقتصادي نظام پلی ؤ که غربي پانګوال نظام؟ له بهرنيانو سره د امنيتي تړون امضاء کول او هغوی ته اډې او قضايي مصئونيت ورکول د اسلام او وطن په خير او په ګټه ؤ که په شر او تاوان؟

پورتنيو ټولو نکاتو باندې بايد اوږده او ژور بحثونه وشي، او ټولو پوښتنو ته سم ځوابونه وموندل شي، د بحثونو په پای کې که ثابته شي چې په تېر شاوخوا شل کلن دوران کې هيواد د امريکايانو او د هغوی د ائتلافيانو له خوا مستعمره ؤ، د هغوی رامينځته شوې اداره لاسپوڅې، ګوډاګۍ او غيراسلامي وه، د بهرنيو سره په څنګ کې ولاړ او همکار افغانان په غلطه وو. د طالبانو جګړه سپيڅلی ، فرض عين جهاد ؤ. او طالبان په تېره کې د انګريز او روسانو پر وړاندې د جنګيدونکو غازيانو په څېر د دين او هيواد په ننګ ولاړ خپلواک او سرښندونکي مجاهدين وو. نو د طالبانو مخالف مذاکره چيان به په اسانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره خپل اشتباهات ومني او د دين او هيواد په ګټه به د طالبانو ټولو شرايطو ته غاړه کېږدي، د طالبانو په مشرۍ د هيواد له راتلونکي اسلامي نظام سره به موافقه وکړي او له مخالفتونه څخه به لاس په سر شي.

د افغانانو په خپل مينځي تفاهماتو کې بايد جمهوريت او ډيموکراسي د اسلام له نظره تر څيړنې لاندې ونيول شي، د جمهوريت يا ډيموکراسۍ پس منظر تشريح شي، او بيا دا ثابته شي چې ايا جمهوريت له اسلام سره موافق دی، او که له اسلام سره په ټکر کې قرار لري؟ سيکولريزم تر بحث لاندې ونيول شي او د اسلام له نظره د سيکولريزم مردودوالی او د سيکولرانو تکفير واضح شي.

د اسلام له مخې د جمهوريت کفر او ناسموالی څرګندول به د طالبانو مخالفو مرکچيانو ته دا جرأت ورنه کړي چې د جمهوريت په نظام باندې بې ځای تأکيد وکړي او جمهوريت خپله سره کرښه وټاکي، د جمهوريت څخه د دفاع په پلمه مذاکرات اوږده کړي، يا هم طالبانو باندې د جمهوريت د منلو هڅه وکړي، هغوی څخه په انتخاباتو باندې د توافق غوښتنه وکړي او نورو ډيموکراتيکو پروسو کې د شراکت کولو بلنې ورکړي.

د ښځو د تعليم، کار او نورو حقوقو په اړوند، همدا راز د بيان د ازادۍ او د رسنيو د فعاليت د حدودو په اړه، شخصي ازادۍ او نورو حقوقو او ازاديو په ارتباط دې په هيواد کې د علماء کرامو د يوې لوېې غونډې رابلل دې په مخالف اړخ ومنل شي. د علماء کرامو دا غونډه دې د مذاکراتو په جريان کې راوغوښتل شي او د هيواد په داخل کې دې ترسره شي، د غونډې د ځای، د امنيت نيولو، لوجستيک او په غونډه کې د ګډونکوونکو علماء کرامو د غوره کولو په ميکانيزم دې له مخالف جهت سره مذاکره وشي. د هيواد هغه حنفي مذهبه علماء کرام دې د غونډې ګډونوال شي چې د ولس په مينځ کې ژوند کوي، خطيبان، مبلغين او مدرسين دي، په خلکو کې منلي او د پراخه نفوذ او تاثير خاوندان دي، د کابل اداره کې يې نه پخوا دنده ترسره کړې او نه يې اوسني مأمورين دي، د ښه پس منظر لرونکي او په تقوی او زهد کې مشهوره څېرې دي. که ممکنه او مناسبه وي نو له هيواد څخه بهر مشهور، متقي او بارسوخه علماء کرام دې هم د علماء کرامو جرګې ته راوغوښتل شي.

د علماء کرامو جرګه به د اسلام له نظره لاندې موضوعات شرح کړي:

آيا ښځې کولای شي چې له نارينه وو سره يو ځای په يوه ټولګي يا يوه دفتر کې تعليم، تحصيل يا کار وکړي؟ آيا ښځې کولای شي چې سندرې ووايي، کنسرتونه ورکړي او موډلينګ وکړي؟ آيا ښځې کولای شي چې بهرنيو هيوادونو ته له خپلې کورنۍ پرته په يوازې سره په زده کړې، کار، سياحت او يا کوم بل هدف پسې ولاړې شي؟ آيا ښځې کولای شي چې د سريالونو، ډرامو او فيلمونو لوبغاړې شي؟ آيا ښځې کولای شي چې د کيمرو او تماشاچيانو پر وړاندې د فوټبال يا کيرکټ لوبې وکړي، بايسکلې وځغلوي، د سکای په تختو وښوويږي او يا کومه بله لوبه وکړي؟ آيا ښځې کولای شي چې له شرعي محرم پرته سفر وکړي؟ له حجاب څخه پرته ښارونو ته وتلای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا د هیواد د تلویزیونونو په پردو بهرني او کورني سریالونه، ډرامې، فلمونه، سندرې، رقصونه ... نشریدای شي؟ ښځینه ژورنالستانې په تلویزیون، او راډیو کې کار کولای شي، که کولای یې شي په کومو شرایطو؟ راډیوګانې، چاپي او انټرنیټي رسنۍ د کومو شرایطو پر اساس فعالیت کولای شي او د دوی د فعالیت ساحه کومه ده؟

د بیان د ازادۍ سرحدونه کوم دي؟ آیا هر څوک هر څه ویلای شي؟ ایا دیني او ملي ارزښتونو ته د سپکاوي اجازه شته؟ ایا په هیواد کې عیسویت، یهودیت، الحاد او نورو بی دینیو ته د دعوت اجازه شته؟ مرتد به سرې سترګې ګرځي، که پر اعدام به محکومیږي؟ قاتل بندي شي که قصاص؟ له غله څخه لاس غوڅ شي که محبس ته واچول شي؟ زاني په دُرو ووهل شي یا رجم شي او که څو میاشتې یا کلونه زنداني شي؟ د نکاح د فسخې حق به یواځې له خاوند سره وي که ښځه به هم کولای شي چې نکاح فسخ او خپل خاوند خوشې کړي؟

ایا دهیواد په بانکي او اقتصادي سیستم کې سودي معاملو، احتکار او انحصار ته جواز ورکړل شي؟ اداري فساد او اختلاس سطحي وبلل شي؟ اداري مفسدین او اختلاس کوونکي ازاد پریښودل شي؟ د شرابو او مخدره توکو له کاروبار سره څه وشي؟

ایا په مکلفو کسانو د نظام له لوري جبرا لمونځ اداء کیدای شي، روژه پرې نیول کیدای شي،زکات ترې راټولیدای شي، ږیرې پرې پرېښودل کیدای شي؟ حجاب پرې اغوستل کیدای شي؟ له قمار، بچه بازۍ، فحشاء، نشو، د موسیقۍ له مجالسو او اوریدو او نورو منکراتو څخه منع کیدای شي؟

د اسلام د سپیڅلي دین د لارښوونو له مخې د پورتنیو او ډېرو نورو مواردو تشریح او تفصیل به د علماء کرامو لویه جرګه په یوه کتاب کې راټول او د مجاهدینو او د هغوی د مخالفینو مخې ته به یې کیږدي. د پورتنیو مواردو توضیح که څه هم له چا پټه نه ده، خو فعلا لویه ستونزه دا ده چې د طالبانو له لوري له پورتنیو مواردو سره د اسلام له نظره د هغوی تعامل؛ د مخالفینو له لوري د طالبانو خپل مزاج بلل کیږي. مخالفین د ناپوهی له امله په ناشعوري توګه او یا هم په شعوري توګه عمدا تبلیغوي چې طالبان افراطیان دي، د ښځو د تعلیم، کار او لوبو مخالف دي، له هنر او موسیقۍ سره دښمني لري، په خلکو جبرا لمونځونه کوي، سریالونه، ډرامې، د ساعت تیرۍ محفلونه، عیشونه او خوندونه نه خوښوي... سخت طبیعته او سخت مزاجه خلک دي... خو که د علماء کرامو لویه جرګه دا ټول موارد تشریح کړي، او دې لویې جرګې ته پراخ ملي او نړیوال رسنییز انعکاس ورکړل شي او بیا د لویې جرګې له لوري په پورتنیو مواردو مشتمل اسناد په پراخه کچه نشر شي، نو د بهرنیو او کورنیو مخالفینو خولې به وتړل شي، کورني ناپوه مخالفین به پوه شي او دې ټولو مواردو ته به د علماء کرامو له تشریح سره سم غاړه کیږدي، او هغوی به، چې عمدا یې د دې مواردو په اړه په طالبانو تورونه پورې کول او ویل به یې چې اسلام پراخه دین دی د هر څه ګنجایش پکې شته؛ لږتر لږه دا جرأت نه کوي چې بیا هم د دې روښانه اسنادو په شتون کې خپلو تورونو او ادعاوو ته دوام ورکړي او یا به هم مجبور وي چې مخامخ په اسلام باندې نیوکې وکړي، په دې صورت کې به د دوی اصلي شیطاني څېرې ټول ملت ته ښکاره او بیا به یې دلته ورځې او شپې صبا کول سخت وي. د ښځو د حقوقو، د بشر د حقوقو، مدني ازادیو، ډیموکراسۍ... د بهرنیو ډنډورچیانو مخه به هم نیول شوې وي، هغوی به اړ وي چې لږ تر لږه د افغانستان په اړه په دې مواردو کې له خپل شیطانت څخه تیر شي او که نه تیریږي بیا به ټول خلک پوهیږي چې دا ډنډورچیان له طالبانو سره نه بلکې له ټول اسلام او افغاني کلتور سره دښمني لري او د مختلفو رنګینو شعارونو تر چتر لاندې خپل مختلف شوم اهداف تعقیبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د علماء کرامو جرګه دې د هیواد په داخل کې په کندهار، هلمند، کابل، ننګرهار یا هم په کوم بل ولایت کې جوړه شي. کومه لویه دیني مدرسه یا هم پوهنتون د نوموړې جرګې د جوړولو لپاره مناسب ځای کېدای شي. د جرګې د امنیت د خوندیتوب لپاره به له مخالف اړخ سره په تفاهم ګڼ شمیر مجاهدین هم ګمارل کیږي او په ښه توګه د جرګې د امنیت د تأمینولو لپاره به له مخالف جهت سره په تفاهم او هم اهنګۍ ګډ امنیتي پلان جوړیږي.

بله مهمه موضوع د نوي اسلامي نظام بهرنی سیاست په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو او نورو سازمانونو کې د هیواد غړیتوب او د نړیوالو اعلامیه، کنوانسیونونو، قوانینو او میثاقونو منل یا نه منل دي. په دې برخه کې دې د هیواد څرګند دریځ دا شي چې: افغانستان ټول هغه نړیوال قوانین، میثاقونه او اعلامیې یا یې هم هغه برخې چې د اسلام له دین سره په ټکر کې نه وي؛ مني. د اسلامي امارت د علماء کرامو او سیاست پوهانو له لوري دې ټول نړیوال قوانین، کنوانسیونونه، اعلامیې او میثاقونه وڅیړل شي او هغه برخې دې یې په نښه کړي کومې چې له اسلام سره ټکر لري. له قرآنکریم او احادیثو څخه د مفصلو دلایلو پر مټ دې له اسلام سره د دې برخو ټکر والی واضح کړي او خپلې څیړنې دې په یو سند کې چمتو کړي. بیا دې د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو ادارو سره مذاکراتو ته داخل شي او هغوی ته قناعت ورکړي چې په افغانستان باندې د هغو مواردو د منلو په اړه دې له تأکید څخه تېر شي کوم چې د افغانستان د خلکو له دین او عقایدو سره په ټکر کې دي او د اسلامي امارت علماء کرامو او سیاست پوهانو وار له مخه له مفصلو دلایلو سره لیست کړي دي. په ټوله نړۍ کې خلک د پاسپورټ او ویزې په درلودلو سره له یوه هیواد څخه بل هیواد ته سفر کوي، خو موږ ولیدل چې د اسلامي امارت نماینده ګانو پرته له ویزې او پاسپورټ څخه سفرونه وکړل. دا هم کېدای شي چې د ټولو نورو هیوادونو په خلاف په افغانستان باندې له اسلام سره د ټکر مادو د منلو په اړوند نړیوال له خپل دریځ څخه تیر شي او له افغانستان سره په مذاکراتو کې ټول هغه موارد په نښه او نړیوالو ته اعلان کړي کوم چې له اسلام سره په ټکر کې دي او نړیوال نه غواړي چې په افغانستان باندې یې حتما ومني. د علماء کرامو د لویې جرګې څیړنې او چمتو کړي اسناد هم د اسلامي امارت لپاره لوی او نه ماتیدونکي دلایل کېدای شي تر څو یې نړیوالو ته وروړاندې او هغوی وپوهوي چې دا د دوی شخصي مزاج او غوښتنه نه ده، بلکه د اسلام د مبارک دین لارښوونې هم دا ډول دي او دوی مکلف دې چې د خپل دین او عقیدې غوښتنو ته ژمن پاتې شي.

## د افغانستان د نوي دولت اولویتونه

د غربیانو له یرغل وړاندې په ټول هیواد د طالبانو واکمني هر چا لیدلې یا ترینه خبر دي؛ اوس د هر چا زړه ته دا پخه لویدلې چې د غربیانو له ماتې وروسته طالبان د هغوی ګوډاګیان په آسانی سره راپرځولی او ټول هیواد تر ولکې لاندې راوستلی شي، په دې د هر چا باور دی، چې طالبان لکه د تېر ځل په څېر بیا هم په ټول هیواد کې د امنیت او عدالت د ټینګښت وړتیا لري، شریعت تطبیقولای شي، په نیکیو امر او له بدیو څخه نهي، دمخدره موادو کښت صفر او غصب شوې دولتي ځمکې بېرته راګرځولی شي.

خو ډېر وګړي داسې ګمان کوي ، چې که طالبان په هیواد باندې پنځوس کاله هم حاکم پاتې شي، نه به افغانستان د پیاوړي پوځ خاوند شي او نه هم د ښه اقتصاد، نه به هیواد په تعلیم کې پرمختګ وکړي، نه هم په صنعت او تجارت کې ، نه به د هیواد زراعت په پښو ودریږي، نه به هم د هیواد لویې لارې او ښارونه آباد شي او نه هم کلي او ولسوالۍ، نه به هم افغانان پیسه داره، آسوده او د ښه ژوند خاوندان شي، د ژوند ټولې چارې به افقي سیر لري، په یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه کې به هم د صعود او پرمختګ څرک نه لګېږي. دا وګړي داسې انګېرنه لري؛ په داسې حال کې چې طالبان له نيمې نړۍ سره جګړه کوي، آزاد او مستقل هیواد غواړي، د مالي مرستو په بدل کې هیچا ته هم سر نه ټیټوي، نو د ښه پوځ جوړولو لپاره به سرتیرو ته معاشونه له کومه کړي، پوځ به په کومو پيسو مجهز او غښتلی کړي، پوهنتون او ښوونځی به په کومو پیسو فعال وساتي، د معلم او استاد تنخوا به له کومو پيسو ورکړي، د محصل خوراک به په کومو پيسو واخلي، لارې او ښارونه به په کومه خزانه آباد کړي؟

په هیواد کې د بشپړ اسلامي نظام له قیام څخه وروسته له افغانستان سره د نړیوالو د ډیپلوماتیکو او اقتصادي اړیکو او مرستو په اړه څو احتماله شتون لري:

- ✓ نړیوال افغانستان په رسمیت پیژني او په عادي توګه ډيپلوماټيکې او اقتصادي اړيکې ورسره پالي او په مختلفو برخو کې مرستې ورسره کوی.
- ✓ نړیوال افغانستان په رسمیت نه پیژني، اقتصادي بنديزونه پرې لګوي، مرستې نه کوي او ډیپولوماټیکې اړیکې نه پالي.
- ✓ ځينې نړیوال قدرتونه افغانستان ته لاس ورکوي، په رسمیت يې پيژني او اقتصادي راکړه ورکړه ورسره کوي.

موږ باید د لومړي احتمال لپاره چمتوالی ونیسو، موږ داسې فرض کړو چې موږ ته به په افغانستان کې د بشپړ اسلامي نظام قایمول، له موږ سره د نړیوالو د پرېکون په بيه پرېوځي. په دې صورت کې به موږ داسې پلانونه ترتيبوو چې له موجوده امکاناتو څخه اعظمي ګټه پورته شي؛ خلکو ته اساسي خدمات چمتو شي؛ ښوونځي، پوهنتونونه او روغتيايي سکتور فعال وساتل شي او پرمختیایي سیر ورکړل شي. پراخه پوځ جوړ او د وخت په تيريدو پیاوړی او مجهز کړل شي، ټول مهاجرين هیواد ته راستانه کړل شي، دولتي غصب شوې ځمکې بیرته راوګرځول شي، د مخدره موادو کښت صفر او په مخدره موادو روږدي کسان تر درملنې لاندې ونيول شي. خلک په ديني او فکري پوهه سنبال، د دولت ملاتړي، د نړیوالو د پریکون له امله له خپل دولت سره د سختو شپو او د نورې نړۍ په نسبت ستونزمن ژوند تېرولو ته چمتو او هیواد ته بیا ځل د یرغلګرو د راتګ مخالف او د راتګ په صورت کې يې غزا ته تيار شي.

موږ په لاندې کرښو کې د هیواد د آبادۍ او پرمختګ په برخه کې د طالبانو په وړتیاوو بحث کوو؛ لومړۍ برخه کې په دې غږېږو چې طالبان به له کومو لارو نه په ګټه اخستنې سره خپل پوځ په پښو ودروي، په هیواد کې به ښوونځي ، پوهنتونونه او روغتونونه فعال وساتي او غصب شوې دولتي ځمکې به بیرته له غاصبانو څخه راوګرځوي.

په دویمه برخه کې د هیواد د آبادۍ او پرمختګ لپاره د نوي دولت په ... کلن پراختيايي پلان باندې رڼا اچوو؛ د حکومت له خوا له ګمرکونو، ښارونو ، ځمکو، او سوداګرو څخه راټول شوي مالیات، له منځنۍ آسیا نه جنوبي آسیا ته د افغانستان له لارې د انتقالیدونکي ګاز او برق له درکه ترلاسه کیدونکي عایدات، د هیواد غني کاني زېرمې، په هیواد کې د وطن میشتو او بهر میشتو افغان پانګوالو پانګونه، د پانګوالو او سوداګرو مرستې او پورونه او د ځینې هیوادونو بې قیده او شرطه مرستې او بې سوده او بې قیده او شرطه پورونه به د طالبانو د لوی پراختیایي پلان د پلي کولو لپاره عمده مالي سرچينې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هیواد کې نوی دولت له موجوده امکاناتو څخه په استفاده په لاندې توګه سل په سله کولای شي، چې د هیواد پوځ، ښوونځي ، پوهنتونونه او د عامي روغتیا برخې فعالي وساتي، سمبال یې کړي ، او پرمختیایي سیر ورکړي.(البته دا یواځې او یواځې یوه بیلګه ده، داسې کوم پلان نه دی چې وار له مخه ورته اراده شوې وي، ممکن له دې څخه په کومه بله اسانه او ارزانه لار د نوموړو کارونو د ترسره کولو شونتیا موجوده وي.)

**عسکر:** عسکري به په ټولو افغانانو جبري کېږي؛ هر ځوان به مکلف وي چې د بېلګې په توګه ۲ یا ۳ کاله خپل هیواد او خلکو ته د عسکرۍ خدمت وکړي. د پوځ یوه برخه به هغه مجاهد ځوانان وي چې په خپله خوښه یې د دین او وطن ساتنې ته ځانونه وقف کړي وي.

د عسکرو په لیکو کې به پراخه او منظم روزنیز جال خپور وي؛ د مکلفیت په دوره کې به هر عسکر تر پراخې فکري او اسلامي روزنې لاندې نیول کیږي، هر عسکر به خپله د مکلفیت دوره په داسې حال کې سرته رسوي چې د بشپړو پوځي مهارتونو د ترلاسه کولو تر څنګ به په لیک ،لوست، اسلامي عقیده او فکر باندې هم پوهیږي، داسې مجاهد به ترینه جوړ شوی وي چې هره ګړۍ به د اسلام او وطن په دفاع کې ځان قربانولو ته چمتو وي.

**ښوونځي:** ښوونځي به د دولت له خوا نیمه خصوصي بڼه غوره کوي؛ د ښوونځیو اداره او کنترول، نصاب، د ښوونکو استخدام او نظارت به د دولت له خوا وي، همدا راز دولت به د ښوونځي د عمر په ټولو ماشومانو باندې تر دولسم ټولګي پورې د ښوونځي لوستل جبري کوي، زده کوونکي به ښوونکو ته په معین مقدار فیس ورکولو هم مکلف وي. د ښوونځیو کم مصرفه ختیني ودانۍ به هم د ولسونو له خوا جوړیږي. د هیواد ټول زده کوونکي که ۱۰ میلیونه تنه تخمین کړو- نو ۶ میلونه تنو ته به یې محصلین درس ورکوي او پاتې ۴ میلیونه تنو ته یې معلمان.

محصلین: پوهنتونونه او نور تحصیلي مراکز د هیواد په ښارونو کې موقعیت لري، محصلین به په درې برخو ویشل کیږي؛ دوه برخو ته به یې د پوهنتوني درسونو په جریان کې د خپل تحصیل تر څنګ د ښاري او ښارونو ته د نږدې مکاتبو د زده کوونکو د تدریس چارې هم ورپه غاړه وي. د منظم مهالوېش له مخې به هر محصل ته د راروان کال په جریان کې د هغه مضامین، درسي ساعتونه، ټولګي او ښوونځي ورپه ګوته کیږي، او بیا به هر محصل د همدې مهالوېش له مخې ځان په ټاکلیو وختونو کې ورپه ګوته شویو ښوونځیو ته رسوي او زده کوونکو ته به خپل درسونه وړاندې کوي. د بیلګې په توګه طبي محصلینو ته به د ساینسي علومو تدریس ور له غاړې کیږي، د ریاضیاتو تدریس به د انجنیرۍ محصلینو ته سپارل کیږي، دیني علوم به د شرعیاتو محصلین او د السنې(ژبې) مضامین به د ادبیاتو محصلین تدریسوي.

ښاري او ښارونو ته نږدې ښوونځي به تقریباً د ټول هیواد د ښوونځیو ۴۰ سلنه جوړوي؛ په هغو کې ۴ میلیونه زده کوونکو ته به د ټولو محصلینو دوه برخې محصلین زده کړه ورکوي، پاتې یؤه برخه محصلین به د هیواد د ټولو ښوونځیو په ۲۰ سلنه کلیوالي ښوونځیو کې ۲ میلیونه زده کوونکو ته تدریس کوي.

هیواد به په درې زونونو وویشل شي؛ او د درې واړه زونونو محصلین به د کال په درې بېلابېلو فصلونو کې رخصتي ولري:

د لومړي زون محصلین به په دوبي کې د دویم به په مني کې او د دریم به په ژمي کې رخصت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هیواد د هغه مهال ټول محصلین که ۱۸۰ زره تنه تخمین کړو دریمه برخه یې ۶۰ زره تنه کېږي؛ د رخصتی په هر موسم کې به د ټولو رخصت شویو محصلینو دریمه برخه ۲۰ زره تنه وي.

د لومړي زون رخصت شویو محصلینو څخه ۲۰ زره تنه به په دوبي کې، د دویم زون د رخصت شویو محصلینو ۲۰ زره تنه به په مني کې او د دریم زون د رخصت شویو محصلینو څخه ۲۰ زره تنه به په ژمي کې د ټول هیواد ۲۰ سلنه ښوونځیو کې د ۲ میلیونه تنه زده کوونکو د تدریس چارې پر مخ وړي؛ ۲ میلیونه تنه زده کوونکو ته به هر کال ۳ موسمه پرلپسې ۳ ګروپه محصلین زده کړې ورکوي او بیا د پسرلي موسم کې به زده کوونکي رخصت وي.

د پورته حساب له مخې د ۱۸۰ زره محصلینو څخه به ۱۲۰ زره تنه د پوهنتوني درسونو په جریان کې د ټول هیواد ۴۰ سلنه ښاري او ښارونو ته نږدې ښوونځي تر خپل تدریسي پوښښ لاندې نیسي، پاتې ۶۰ زره تنه محصلین به شل، شل زره تنه د رخصتی په هر ۳ میاشتني موسم کې هر کال د ۹ میاشتو په موده د ټول هیواد د ۲۰ سلنه کلیوالي ښوونځیو تدریسي چارې سمبالوي. دټول هیواد په ۶۰ سلنه ښوونځیو کې به د ۶ میلیونه تنه زده کوونکو روزل د محصلینو په غاړه وي.

محصلینو ته د زده کوونکو د روزنې د سپارلو یؤه لویه ګټه به دا هم وي چې د ښوونځیو تدریسي کیفیت به ډېر لوړ شي؛ په وروستیو لسیزو کې معارف ته نه توجه او د ښوونکو ټیټ معاشونه د دې سبب شوی چې هیڅوک هم د معلم کیدو لپاره د لوړو زده کړو لوستلو ته تیار نشي، معلمی ته اصلاً څوک ارزښت نه ورکوي، یواځې هغه څوک دارالمعلمینونو او د تعلیم او تربیې پوهنځیو کې زده کړو ته مجبورېږي، چې د خپل نالایقتیا او تنبلی له کبله نورو پوهنځیو ته لاره پیدا نه کړای شي. چې د دې ټولو په پایله کې په هیواد کې د تکړه او وړ معلمانو تعداد خورا کم شوی، محصلین به نه یواځې دا چې د تکړه او لایقه استادانو خلا ډکه کړي، بلکه د طب او انجنیری پوهنځیو باستعداده محصلین یا په بله اصطلاح نیمچه ډاکټران او انجنیران به د ښوونځیو درسي کیفیت خپلې لوړې څوکې ته ورسوي.

معلمان: د هیواد په پاتې ۴۰ سلنه ښوونځیو کې به معلمان د شاګردانو روزنه کوي؛ د ۴۰ سلنه ښوونځیو ۴ میلیونه زده کوونکو ته به د ۴۰ زره ښوونکو اړتیا وي چې همدومره تعداد تکړه او مسلکي ښوونکي به ښایي د ټول هیواد په ښارونو او کلیو کې شتون ولري، ۴۰ زره تکړه ښوونکي به په هیواد کې له شته لکونو ښوونکو څخه د یوې ښې او علمي آزموینې په واسطه چاڼ کیږي.

هر ښوونکي به د ۱۰۰ تنه زده کوونکو روزنه په غاړه لري؛ هر زده کوونکی که د بیلګې په توګه ۱۸۰ افغانی میاشتنی فیس معلم صاحب ته ورکړي نو د معلم میاشتنی معاش ۱۸ زره افغانی کیږي، چې نسبتاً ښه معاش دی.

معیاري نصاب به د دولت له خوا چمتو کیږي، کتابونه به په تجارتي کتابخانو کې چاپ او هر زده کوونکي به خپل د اړتیا وړ درسي کتابونه له بازارنه ترلاسه کوي. ان شاء الله

**پوهنتونونه:** د ټول هیواد د پوهنتونونو محصلین به ښایي ۱۸۰ زره تنو ته ورسیږي، د هر محصل د لیلیې میاشتنې مصرف که ۳۶ ډالره ( د کابل اوسنی اداره د هر محصل په لیلیه په میاشت کې له ۲۶ ډالرو نه تر ۳۵ ډالرو پورې مصرفوي، او تقریبا ۴۰ سلنه محصلین د پوهنتون د نمرو د ټیټې فیصدی یا نورو عواملو له کبله له لیلیې څخه محروم وي.) شي نو د ۱۸۰ زره تنه محصلینو میاشتنی د لیلیې لګښت ۶۴۸۰۰۰۰ ډالره کیږي. چې د ۹ میاشتو لپاره دا رقم

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه باندې ۵۸ میلیونه ډالرو ته رسېږي. هرو ۳۰ تنه محصلینو ته که یو استاد درس ورکړي ، نو د هیواد په ټولو پوهنتونونو کې به ۱۸۰ زره تنه محصلینو ته د ۶۰۰۰ تنه استادانو اړتیا وي، هر استاد ته که په اوسط ډول د میاشتې ۶۰۰ ډالر معاش ورکړل شي؛ د ټولو د یوه کال معاش ۴۳ میلیونه او ۲ لکه ډالر کېږي. د لوړو زده کړو نور اړوند مصارف هم شاید هر کال تر ۱۵ میلیونه ډالرو ورسېږي. د دې محاسبې له مخې د پوهنتونو ټول اړوند مصارف هر کال ۱۱۶,۵ میلیونه ډالره کېږي.

ښه دا دومره پیسې به دولت له کومه کوي؟ لکه څنګه مو چې مخکې یادونه وکړه، د هیواد د ۶ میلیونه تنه زده کوونکو روزنه به د محصلینو په غاړه وي؛ هر زده کوونکی به مجبور وي چې هره میاشت لږ تر لږه ۱۸۰ افغانۍ(۲,۶ډالره) د ښوونځي د فیس په توګه د فیس راټولوني ادارې ته وسپاري، د فیس راټولوني ځانګړې اداره به په منظمه توګه فیسونه راټول او بیت المال ته به یې سپاري.

د ۶ میلیونه تنه زده کوونکو د هرې میاشتې ټول فیسونه به ۱۵,۶ میلیونه ډالر او د ټول کال فیسونه به ۱۸۷,۲ میلیونه ډالره کېږي. له دې رقم نه به ۱۱۶,۵ میلیونه ډالر هره کال د پوهنتونونو په مصارفو لګول کېږي، او ۷۰,۷ میلیونه ډالر به اضافه کېږي.

**عامه روغتیا:** په هیواد کې موجود ډاکټران، تازه فارغ شوي طبي محصلین، ستاژران، په روغتیایي مراکزو کې په تخصص بوخت ډاکټران، متخصصین، او د طبي پوهنتونونو او پوهنځیو استادان به د منظم مهالویش له مخې پرته له کوم معاش څخه د هیواد په ټولو روغتونونو او صحي مراکزو کې نوکریوالۍ ترسره کوي او د دولت تر جدي نظارت لاندې به له خپلې وسې سره سم د ناروغانو تشخیص او درملنه کوي ( دا چاره په اوس وخت کې په افغانستان کې او همدا راز نورو ډېرو هیوادونو کې هم عامه ده). د خدماتو په بدل کې به یوه کمه اندازه پیسې هم د وطنوالو د وسې مطابق له هغوی څخه اخستل کیږي، همدا پیسې او د ښوونځیو له فیسونو څخه اضافه شوي ۷۰,۷ میلیونه ډالر به د صحي مراکزو په تجهیز لګول کیږي، طبي او لابراتواري سامانونه او ماشین آلات ، دواګاني او نور ضروري توکي به پرې تهیه او خریداري کېږي.ان شاءالله

**د غصب شویو ځمکو بیرته راګرځونه:** په افغانستان کې د غربیانو او د هغوی د ګوډاګیانو د واکمنۍ له برکته ، ټوپکسالارانو او د غربیانو محلي زورواکو ملګرو د هیواد ډېرې زیاتې دولتي ځمکې غصب کړي، طالبان به واکمنۍ ته په رسېدو سره په ډېر چټک ډول په کمه موده کې دا ټولې غصب شوې ځمکې تثبیت ، د غاصبینو له منګولو به یې خلاصې او بیرته به یې دولتي ملکیتونه ګرځوي، په داسې توګه چې د یوه متر مربع په اندازه غصب شوې ځمکه هم د دولت له واکه بهر د بل چا په ملکیت کې پاتې نشي؛ غاصبین به د طالبانو له خوا شرعي محکمو ته سپارل کېږي. ان شاء الله.

که نړیوال بیا هیواد په رسمیت وپیژني او افغانستان ته هم د نړیوالې ټولنې د یوه فعال غړي په سترګه وګوري او عادي چلند ورسره وکړي. اقتصادي بندیزونو ونه لږوي او لږ تر لږه تجارتي اړیکې ورسره وپالي نو په دې صورت کې خو بیا واضح ده چې افغانستان د پراخه امکاناتو لرونکی دی، په لنډه موده کې به مو هیواد ودان او په هره برخه کې به د پام وړ پرمختګونه راشي، د هیواد د کاني زیرمو راویستل به پیل شي، اوبه به مهار، ګڼ شمیر لوی او واړه د برښنا بندونه به جوړ او د هیواد ښارې ځمکې به ابادې شي. په هیواد کې به لویې لارې په عصري شکل جوړې شي، د اورګاډي پټلۍ به وغځول شي، ښوونځي، پوهنتونونه او مدرسې به مو د یوه منظم پلان له مخې سره یوځای،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمختللي او عصري شي. صحي سکټور به مو سټندرډ او په نړیوالو معیارونو برابر شي. هیواد به مو د پرمختللي او پیاوړي پوځ خاوند وي. ان شاء الله

که د ټولې نړۍ پر ځای یوازې یو څو نړیوال قدرتونه هم افغانستان سره اقتصادي او ډیپولماتیکي اړیکې وپالي، بیا هم هیواد پورته موخې ترلاسه کولای شي، هیواد به مو د پانګونې مرکز او د مرکزي اسیا او جنوبي اسیا تر مینځ د ترانزیت او د انرژۍ د انتقال لویه لار وي.

په هیواد کې به اداري فساد نه وي، ملي عواید به په پوره امانت داری راټول او د بیت المال په توګه به بیرته په متوازن شکل ولس ته د خدماتو په برابرولو او د هیواد په ابادولو مصرفیږي. د ولسمشرۍ، ولسي جرګې او ولایتي شورى ګانو د ټاکنو له پراخه لګښتونو څخه به د مالیې وزارت بې غمه وي او دا پریمانه لګښتونه به بیت المال ته سپما کیږي. د ولسي جرګې، مشرانو جرګې او ولایتي شوراګانو د وکیلانو پریمانه معاشونه او نور لګښتونه به هم نه وي او په دې بې ګټې او مسخره شوراګانو باندې د پانګونې پرځای به چیرته کوم بل ځای د افغانانو په بنسټیزو پروژو پانګونه کیږي.

البته د پارلمان او نورو شوراګانو کار به د هیواد هغه اساسي شورى کوي چې غړي به یې تر ټولو صالح، متقي، پاک او باکفایته خلک وي،په خپلو ورځنیو چارو به بوخت وي، یواځې به د اړتیا پر مهال سره جرګه کیږي او چارواکو ته به لارښوونه کوي، مشورې به ورکوي او د هغوی د کارونو ارزونه به کوي. ان شاء الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ډیموکراسۍ اصلي څېره!

د ډیموکراسۍ لفظ د دوه یوناني کلمو، Demos او Cratos له ترکیب څخه جوړ شوی، ډیموس د خلکو او کراټوس د واک او حاکمیت په معنی دی. نو د ډیموکراسي لفظ په لغت کې د (ولسواکۍ) یا (د ولس د حاکمیت) معنی ورکوي.

په اصطلاح کې: ډیموکراسي د ژوند لپاره یو داسې په دین نه ولاړ، سیاسي، ټولنیز او فکري نظام دی چې د قانون جوړول، د جوړ شوی قانون عملي کول او فیصله ورکښې د خلکو له خوا د خلکو په لاس او د خلکو لپاره؛ د هر دیني قید او بند څخه پرته ترسره کېږي.

او یا غربیانو په لنډ او ساده ډول ډیموکراسي داسې تعریف کړې:

Government of the people by the people for the people

د خلکو واک یا حاکمیت د خلکو له خوا د خلکو لپاره.

واک، سلطه، حاکمیت یا حکومت ټول مترادف کلمات دي. واک یا حکومت دوه برخې لري، یو قانون او بل د دې قانون عملي کول. په ډموکراسۍ کې د خلکو د ژوند د هر اړخ او هرې مسئلې لپاره قانون هم خلک جوړوي او عملي کوونکی(حاکم) یې هم خلک ټاکي. دین، وحي یا آسماني رسالت په ډیموکراسي کې ځای نه لري.

### ډیموکراسي چېرته او څنګه منځته راغله؟

معاصره ډیموکراسي په اروپا کې د پادشاهانو او پاپانو د تیریو او ظلمونو په مقابل کې د خلکو له خوا د عکس العمل په پایله کې منځته راغلې. په منځنیو پېړیو کې په اروپا کې خلکو د بولس په لاس رامنځته شوی او تحریف شوی نصراني دین منلی ؤ. د دې منحرف شوي دین پاپانو د عام ولس پر وړاندې له پادشاهانو سره لاس یو کړی ؤ. کلیسا به پادشاه ته په خلکو باندې د واکمنۍ مشروعیت ورکاوه، او پادشاه به بیا خپل عسکري ځواک د کلیسا او د هغې د پاپانو په خدمت کې ورکاوه. د ولس په غاړه کې د پادشاه او د پاپ د غلامۍ دوه ګوني ځنځیرونه پراته وو. کلیسا به پاپان معصوم بلل، د پاپ وینا د الهي کلام حیثیت درلود، د پاپ له امرونو او حکمونو څخه سرغړونه به کفر ګڼل کېده، پاپانو به خلکو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببنليکونه او د جنت ټيکټونه ورکول، که چا به ګناه وکړه نو اړ به ؤ چې په کليسا کې د پاپ په وړاندې خدای ته توبه وباسي.

د کليسا مشرانو د وخت فلسفه په تحريف شوی انجيل کې ننوېسته. علم، دين، تفکر او عقل د کليسا په انحصار کې وو، فکري استبداد خپل اوج ته رسيدلی ؤ. که چا به کومه داسې نظريه وړاندې کړه چې د کليسا به نه وه خوښه نو فورا به دا شخص له دين څخه د بغاوت په جرم په سخته سزا محکوميده. په منحرف مسيحيت کې د ژوند لپاره قانون او شريعت هم شتون نه درلود، په غرب کې د قانون خلاء موجوده وه. دا خلاء پادشاهانو، فيوډالانو او پاپانو له خپل اړخه د قانون په جوړولو ډکه کړې وه، دوی به له خپل لوري داسې قانون جوړاوه چې ټوله ګټه به يې دوی ته رسيدله او اکثريت ولس به د غلامۍ په ځنځيرونه تړل کېده. کليسا به جوړ شوي قانون ته ديني رنګ ورکړ او خلک به يې منلو ته اړ کړل.

عام ولس په کروندو کې په سختو کارونو بوخت ؤ. د فصلونو د ټولولو وخت به چې شو، څه حاصلات به د ټکسونو په نوم پادشاه يووړل، څه به د قلنګونو او د کليسا د مصرف په نومونو پاپانو يووړل، دوی ته به دومره پاتې شول چې تر بل کال پورې به ايله پرې ژوندی وو. د کليسا مشرانو او پاپانو به د شاهانو په څېر د مستۍ او عيش ژوند کاوه، بد کاري او اخلاقي فسادونه به يې کول ، مانۍ به يې درلودې او له چِله خانو به يې د جرمونو او بدکاريو اډې جوړې کړې وې.

دا ناوړه وضعيت په پېړيو پېړيو روان ؤ. دا دوره اوس غربيان د تورې دورې (Dark ages) په نوم يادوي. په شپاړسمه پيړۍ کې له اندلس او نورو سيمو څخه اروپا ته د مسلمانانو د نقل شويو علومو تأثيرات زيات شول. د اروپايانو عقلونه په غوړېدو شو او د اروپا د نشأت ثانيه (Renaissance) دوره پيل شوه. په دې دوره کې د منحرف مسيحيت او ساينس(تجربي او عقلي علم) جګړه ونښته. پاپانو له ساينسي علومو او نظرياتو سره شديد مخالفت کاوه. د بيلګې په توګه پاپانو له مسلمانانو څخه ورنقل شوی د کيميا علم شيطاني علم وباله او بنديز يې پرې ولګاوه، د ځمکې کروي بلل يې هغه کفر باله چې خلکو له مسلمانانو زده کړی ؤ، (ګاليله) يې په دې جرم په دار کړ چې ولې د ځمکې د حرکت نظريه وړاندې کوي، (برونو) يې ځکه وسوځاوه چې د ځمکې له کرې څخه پرته يې د نورو کايناتو د شتون يادونه هم کړې وه. د همدې ډول جرمونو په تور يې درې لکه او ديرش زره ساينس پوهان په مرګ محکوم کړل، شاوخوا ۳۲ زره کسان يې ژوندي وسوځول. د عقايدو د تفتيش په نوم به ځانګړې محکمې موجودې وې؛ جان ډيون پورټ په خپل کتاب (اپالوجی آف محمد صلی الله عليه و سلم اينډ قرآن) کې ليکي چې د ديني محکمو د فيصلو له مخې ۱۲ ميليونه انسانان وژل شوی دي.

د نشأت ثانيه په دور کې کرار کرار د پاچا او کليسا په وړاندې کرکه زياتېده، د دين په اړه اروپايان دوه ډلې شول ځينو سراسر له خدای، دين او رسالت څخه انکار وکړ چې دا فکر بيا وروسته د کمونيزم په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظریه کې راڅرګند شو، عملا یې مسکو کې واک ترلاسه او په پای کې یې زور د افغانانو په لاس اوبه شو. بله ډله اروپایانو بیا دین یواځې او یواځې د خدای او د بنده تر مینځ رابطه وبلله او په ژوند کې یې د دین مداخله رد کړه. چې دا نظریه بیا وروسته د سیکولریزم په بڼه راڅرګنده شوه. د تنویر یا د نشأت ثانیه د دورې متفکرینو په دې فکر کاوه چې څنګه خلک د پاچا او کلیسا له دوه ګونی غلامۍ آزاد او د ظلم او تیرې طلسمونه یې مات کړي. جان لاک، جان جاک روسو او توماس هوبز د معاصرې ډیموکراسۍ مشهور فیلسوفان بلل کېږي. دې فیلسوفانو د ټولنیز تړون فلسفه وړاندې کړه داسې چې: په پخوا زمانو کې خلک په نا منظم ډول په فطري ژوند کې اوسېدل د دوی د چارو د تنظیم لپاره قانون او دولت شتون نه درلود، وروسته بیا خلکو د قانون او دولت د درلودلو اړتیا احساس کړه؛ د قانون او نظام د جوړولو لپاره سره راټول شول او په خپلو مینځو کې یې ټولنیز تړون (Social Contact) رامینځته کړ په دې توګه د نظام ، قانون او حکومت تصور د خلکو له ارادې رامینځته شو. د دې فیلسوفانو دا نظریه له الله تعالی او د هغه له رسولانو او کتابونو څخه په انکار ولاړه ده او یا دا چې الله جل جلاله یواځې انسانان پیدا کړي نور یې نه پیغمبران ورته رالیږلي نه کتابونه ، نه هم د ژوند لپاره شریعت او قانون... نعوذ بالله

د ډیموکراسۍ د فیلسوفانو نظریات خلکو په شوق ومنل. د پادشاه او کلیسا په وړاندې انقلاب پیل شو خلکو شعار پورته کړ چې پاپ مړ کړئ او په کولمو یې پادشاه غرغره کړئ. په فرانسه کې پاڅون راوپارید، شپاړسم لویي د انقلابیانو له خوا اعدام شو، کلیسا یې بې واکه او منحرف مسیحیت یې د ژوند له ډګره په وېستلو د کلسیا تر څلورو دیوالونو محدود کړ.

د پادشاه او پاپانو په راپرځولو د هغوی هغه قوانین هم لغو شول چې خلکو ته یې ژوند سور اور ګرځولی ؤ. اوس به نو حلال او حرام، ښه او بد، روا او ناروا چا ټاکل، قانون به چا جوړاوه؟ فیصله به چا او په کوم قانون کوله، جوړ شوي قوانین به چا عملي کول؟ د ډیموکراسۍ د فیلسوفانو نظریاتو دا پوښتنې ځوابولې. ډېرو خلکو وار له مخه دا نظریات منلي هم وو. د دې نظریاتو له مخې د خلکو له خوا د ټولنیز تړون د رامنځته کولو له کبله قانون جوړول او چلول د خلکو حق ګڼل کېده چې دا حق پادشاهانو او پاپانو له خلکو غصب کړی ؤ او د پادشاه او پاپانو له راپرځولو وروسته د قانون جوړولو، ښه او بدو او حلالو او حرامو د ټاکلو حق بیرته خلکو ته سپارل کېده. لکه څرنګه چې ځینې خلکو به یو شی ښه باله او ځینو به بل شی، ځینو ته به چې کوم شی یا فعل حلال او روا ښکاریده؛ ځینې نورو ته به بیا همدا شی یا فعل حرام او ناروا ښکاریده په دې صورت کې خو بیا کیسه ورانېده؟ د ډیموکراسۍ سرلارو دې ستونزې ته داسې د حل لار وړاندیز کړې وه چې اکثریت خلکو چې کوم څه حرام او ناروا بلل هغه به ناروا او حرام وي او کوم څه یې چې روا او حلال بلل هغه به روا او حلال وي. دا نا ممکنه وه چې د ژوند په پراخه ډګر کې دې د هرې موضوع او مسئلې په اړه له ټول ولس څخه پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشي او د هغوی د اکثریت نظر دې معلوم شي، نو د خلکو اتفاق په دې شو چې ولس به ځانته نماینده ګان ټاکي او هغوی به د خلکو په وکالت قانون جوړوي او د دې قانون چلونکي به یا د همدې وکیلانو له ډلې ټاکل کېږي او یا به نیغ په نیغه د خلکو له لارې ټاکل کېږي. لکه څرنګه چې په ولس کې به ډېر زیات خلک غواړي چې د خلکو په وکالت قانون جوړونې او یا د دې قانون عملي کولو ته ملا وتړي نو د دې زیاتو خلکو له ډلې څخه به یوازې هغه کسان د قانون جوړولو یا عملي کولو حقدار وي کوم چې د خلکو اکثریت یې په خوا وي.

په دې توګه په کال ۱۷۸۹ لمریز کې په فرانسه کې د انقلابیانو پاڅون بریالی شو پادشاه او پاپان بې واکه شول او د معاصرې ډیموکراسۍ یا جمهوریت بنسټونه کېښودل شول البته د معاصرې ډیموکراسۍ په رواج کېدو کې د امریکایانو د خپلواکۍ اعلان هم څه نا څه رول لوبولی؛ د امریکا په نوې کشف شوې وچه کې هم اروپایان میشت شوی وو. هلته هم د اروپا په څېر د برطانوي پادشاهانو او د برطانوي او سیمه ییزو پاپانو واکمني وه. امریکایانو د فرانسې له انقلاب څخه ۱۲ کاله وړاندې د برطانویانو پر ضد له جګړې وروسته د خپلواکۍ او د ډیموکراسۍ د فیلسوفانو له نظریاتو سره سم د ډیموکراسۍ په اساس د دولت د جوړولو اعلان کړی ؤ، د جورج واشنګټن له خوا د آزادۍ اعلان په دې جمله شوی ؤ چې ( انسان د مور له نسه آزاد پیدا شوی، هیڅ چا ته حق نشته چې انسان خپل غلام کړي) دا د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه هغې جملې ته ډېره ورته ده چې عمرو بن العاص ته یې ویلي ؤ: (تاسو له کوم وخت څخه خلک خپل غلامان کړي دي سره له دې چې مورګانو دوی آزاد زیږولي؟)

دا توپیر موجود دی چې جورج واشنګټن خلک یوازې د پادشاه او پاپ له غلامۍ آزادول او د حیوانیت په لوري یې بیول په داسې حال کې چې صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم خلک د بنده ګانو له غلامۍ آزاد او د لوی الله بنده ګۍ ته یې وربلل.

امریکا له اروپا ډېره لیرې پرته ده ځکه نو هلته د ډیموکراسۍ حاکمیت په اروپا چندان اغیز ونه کړ ، په اروپا کې لومړۍ په فرانسه کې ډیموکراسې حاکمه او له هغه ځایه ټولې اروپا ته وغځېده.

په دې توګه سیکولریزم د ډیموکراسۍ لپاره فکري بنسټ او تاداو جوړوي. د سیکولریزم نظریه په اروپا کې د پادشاهانو او د منحرف مسیحیت د پاپانو د ظلمونو له کبله راپیدا شوه. د سیکولریزم رابطه له ډموکراسۍ سره لکه د مور او د ماشوم د رابطې او یا د تعمیر او د هغه د تاداو د اړیکې په څېر ده؛ لکه څنګه چې ماشوم د مور په غیږ کې وده او تکامل کوي همداسې ډیموکراسي هم په سیکولر چاپیریال کې وده او پرمختګ کوي. او لکه څنګه چې تعمیر بې له تهداب څخه نشي جوړېدای همداسې ډیموکراسي هم په غیرسیکولر(اسلامي) نظام کې ځای نشي نیولای. سیکولر چاپیریال هغه چاپیریال دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیرته چې دا قناعت ایجاد شوی وي چې دین به په ژوند، سیاست او دولت کې کار نه لري تر کلیسا یا جومات پورې به محدود وي، په دا ډول بې دینه محیط کې د دین تشه د ډموکراسۍ له خوا ډکیږي او د دین پر ځای ډیموکراسي د خلکو ژوند تنظیموي، دولت او سیاست د ډیموکراسۍ د قوانینو له مخې چلول کیږي، ډموکراسي د خلکو تر مینځ فیصله کوي ، حقوق او مسئولیتونه ټاکي، اخلاق، روا او ناروا تعیینوي.

## موږ ولې د ډیموکراسۍ څیړنه کوو؟

ښه به دا وه چې اروپایي متفکرینو د اسلام ښکلی دین مطالعه کړی وای او د پادشاه او کلیسا له شر او ظلم څخه یې د اسلام لمنې ته پناه وړې وای. په دې سره به یې د دنیوي نجات ترڅنګ آخرت هم ګټلی وای. خو غربیانو ځانونه له یوه کفر څخه آزاد او بل کفر ته دننه کړل، د پادشاهانو او کلیسا جبر او تیري خلک له دین او رسالت سره تر وروستي برېده حساس کړی وو. له پیغمبرانو، فرښتو، آسماني کتابونو او شریعت سره یې دښمني راغلې وه؛ په همدې اساس د ډیموکراسۍ متفکرینو د اسلام د مطالعې تکلیف ونه کړ، بې له مطالعې او څېړنې یې اسلام هم په منحرف نصرانیت ورقیاس کړ. په داسې حال کې چې اسلام د نصرانیت په څېر منحرف نه ؤ، په اسلام کې د ژوند لپاره بشپړ او تر ټولو غوره قانون او نظام شتون درلود/لري، د اسلام علماوو په ربښتیني ډول د الله دین خلکو ته رساوه/رسوي او تشریح کاوه/کوي، اسلام د ساینس او عقلي علومو خلاف نه ؤ/نه دی بلکه د قرآن لومړني آیتونه د قلم او اقراء په الفاظو رانازل شوي. اسلام د فیوډالانو او خانانو د ناروا ګټو ساتنه نه کوله/نه کوي بلکه له لومړي سره د قریشو سرداران د اسلام په دښمنۍ کې او بې وزلان د اسلام په غېږ کې د اسلام په ننګه ولاړ وو. د اروپا د اوږدې تورې دورې پر مهال مسلمانو او غیر مسلمانو وګړو د اسلام تر حاکمیت لاندې آسوده او آرام ژوند کاوه او مسلمانو ساینس پوهانو د عصري علومو تاداونه کېښودل او وده یې ورکوله.

موږ پر دې بحث نه کوو چې ولې غربیانو یو کفر پر بل کفر بدل کړ یا ولې هغه مهال غربیانو اسلام ته مخه نه کړه... بلکه موږ پر دې بحث کوو چې د پاچا او کلیسا له جبر او ظلم څخه خوشې شوي ډیموکراټ انسان نما حیوانات نن صبا د نړۍ واکمنان دي او په خپل ټول زور سره غواړي چې ډیموکراسي په ټوله نړۍ وروټپي. که کوم ملت یې نه مني نو په خپل لاس د جوړ کړی قانون څخه یې د وژلو فتوی برابروي او بیا د ډیموکراسۍ د نه منلو په جرم په لکهاوو خلک وژني ، زندانونه له بې ګناه وګړو ډکوي، ښارونه او کلي ړنګوي او په هیڅ ډول تیري او وحشت صرفه نه کوي. د ډیموکراسي د خپرولو لپاره لس ګونه زره عسکر ګوماري، سلګونه او زرګونه ملیارده ډالر مصرفوي. د خلکو د فکري تسخیر لپاره په زرګونه مؤسسې او بنسټونه په کار ګوماري ، او د فکري جګړې ټول وسایل په کار اچوي تر څو خلک د ډېموکراسۍ یا جمهوریت په منلو قانع کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډیموکراټ ځواکونو لومړی او اساسي هدف مسلمان امت دی؛ هغوی پوهېږي چې په اسلام کې د ژوند لپاره تر ټولو معقول، له فطرت سره برابر او بشپړ نظام شتون لري؛ که یې مخه ونه نیول شي نو مسلمانان به سره یو لاس او د ډیموکراسۍ بشري نظام ته به ماتې ورکړي. د دې په څنګ کې د اسلامي خاورې ښه جغرافیوي موقعیت، پراخه کاني زیرمو او نورو طبیعي منابعو... هم غربیان هڅولي تر څو په اسلامي ملکونو کې په بیلابیلو پلمو خپل واک تثبیت او په مسلمانانو خپل لاسپوڅي حاکم کړي.

له بلې خوا د مسلمانانو تر مینځ د ډیموکراسۍ په وړاندې لازمه کرکه شتون نه لري. د نورو ډېرو عواملو تر څنګ یو لوی لامل چې د دموکراسۍ په وړاندې یې کرکه کمه کړې دا ده چې په اسلامي ټولنو کې مسلمانانو ته ډیموکراسي سمه نه ده وریپیژندل شوې، په دې اړه کافي لیکنې او ویناوې نه دي شوې. بله خوا دموکراټانو د ډیموکراسۍ اصلي څېره له خلکو څخه د آزادۍ، مساوات، بشري حقوقو، مدني ټولنه، قانونیت، ترقي، بیارغونه، ټولنیز عدالت او نورو عنوانونو او اصطلاحاتو تر شا پټه کړې ده.

هیره دې نه وي چې په پښتو، دري ـ فارسي، اردو او ځینو نورو ژبو کې ډیموکراسۍ ته جمهوریت یا جمهوري نظام هم وایي. د ژوند لپاره د بشر په لاس دا جوړ شوی نظام مو ړ دلته د ډیموکراسۍ تر عنوان لاندې څېړلی. لوستونکي دې متوجه وي چې جمهوریت او ډیموکراسي عین نظام دی، هیڅ توپیر یې تر مینځ شتون نه لري.

په اوسني وخت کې د غربیانو له خوا په ۳۹ اسلامي هیوادونو باندې ډیموکراسي یا جمهوري نظام ورتپل شوی دی. په دې هیوادونو کې عملا د الله تعالی شریعت نه تطبیقېږي، د قاتل قصاص او له غله څخه لاس پرې کول نشته. د زنا حد نه عملي کېږي، بلکه د زنا او فحشا د خپرؤلو لپاره شپه او ورځ زیار ویستل کېږي، پریمانه پیسې مصرفېږي، تلویزیونونه او راډیو ګانې شپه او ورځ د خلکو د بې لارۍ او بې اخلاقه کؤلو لپاره خپرونې کوي. مشهوره فاحشو او دمانو ته لوی لوی مډالونه او لقبونه ورکول کېږي. د امر بالمعروف او نهي عن المنکر نظام په بشپړه توګه ځنډېدلی. د اقتصاد په برخه کې پانګه وال نظام(کاپیټالیزم) حاکم دی، په بانکونو کې سود قانوني جواز لري. مسیحیت او نورو باطلو ادیانو ته دعوتونه کېږي. د ښځو د حقوقو د نارو او چیغو په مټ ښځې بې سرۍ ته هڅول کېږي او کورنۍ ړنګېږي. په اساسي قانونونو کې د ډیموکراسي حاکمول د دولتونو دنده بلل شوې او دولتونه د بشر د حقوقو د هغې اعلامیې په رعایت مکلف شوي دي چې له اسلام سره ټکر لري؛ هغه اعلامیه چې د الهي حدودو تطبیق د بشر پر ضد تیری بولي، له اسلام څخه وتل د بشر حق بولي، په رضاء د جنسي اړیکو نیول د هر چا حق ګڼي، ښځې ته د میړه د طلاقؤلو صلاحیت ورکوي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو لازمه ده چې موږ ډموکراسي په هر اړخيز ډول وپيژنو او بيا د شريعت په رڼا کې د هغې د اصولو او حقوقو او ازاديو څيړنه وکړو او دا خبره ځان ته معلومه کړو چې آيا ډموکراسي د اسلام له نظره کفر دی که نه؟ له زړه او په پوره قناعت د ډموکراسۍ منونکی مسلمان دی که کافر؟ موږ په ترتيب سره لومړی د ډموکراسۍ د پيژندنې بحث وړاندې کړ، د ډموکراسي په فکري بنسټ او پس منظر مو خبرې وکړې اوس به د ډموکراسۍ د اصولو او حقوقو او ازاديو يادونه وکړو او ورپسې به د اسلام له نظره د ډموکراسۍ اصول، حقوق او ازادۍ وڅيړو.

## د ډموکراسۍ اصول

غربي ډموکراسي پر دوه اساسي اصولو ولاړه ده:

- د سيادت اصل
- د حقوقو او آزاديو اصل

د دې لپاره چې يوه ټولنه ډموکراټه وبلل شي نو بايد دا دواړه اصله شتون ولري.

**د ډيموکراسۍ لومړي اصل: سيادت (اعلى حاکميت)**

سيادت، حکم او يا اعلى حاکميت د امر او نهی داسې مطلق أچت واک يا سلطه ده چې نه ورسره په څنګ کې بل مساوي واک يا سلطه او نه هم له هغه څخه پورته بل واک يا سلطه شتون لري. يا په لنډ ډول: سيادت هغه حاکميت ته وايي چې له هغه څخه پورته بل هيڅ حاکميت وجود ونه لري.

په ډموکراسۍ کې د سيادت يا اعلى حاکميت اصل دوه څانګې لري:

- د تقنين يا قانون جوړونې څانګه(پارلمان)
- د تنفيذ يا د جوړ شوي قانون د عملي کولو څانګه(اجرائيه قوه يا حکومت)

**د ډموکراسۍ د تقنين څانګه(پارلمان) لاندې ځانګړتياوې لري:**

- اعلى حاکميت د خلکو حق بلل کيږي، يعنې تر ټولو لوړ حاکميت د الله تعالى نه بلکه د خلکو ګڼل کيږي.
- د ولس اراده مقدسه وي، هر څه چې ولس غواړي هماغه به حق وي.
- د حق د پيژندلو اصلي معيار به د ولس د اکثريت رايه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د قوانینو د جوړولو یواځینی مصدر به عقل وي، څه چې عقل ښه ګڼي هغه به حق او څه چې عقل بد ګڼي هغه به باطل وي.

ټول ولس نشي کولای چې د قوانینو د جوړولو لپاره سره راټول او د اکثریت د رایو پر اساس حق او باطل معلوم کړي. ځکه نو ولس باید خپل استازي وټاکي تر څو د دوی په استازیتوب قوانین جوړ کړي. د ولس له استازو څخه پارلمان تشکیلیږي. پارلمان تر ټولو لوړه او له هر ډول خطاء او ګناه څخه پاکه اداره ګڼل کیږي. څه چې د پارلمان اکثریت ښه او روا بولي هغه به ښه او روا وي او څه چې بد او باطل ګڼي هغه به بد او باطل وي. لکه څرنګه چې پارلمان د هیواد لپاره قوانین جوړوي نو ځکه یې مقننه قوه یا Legislature بولي. په ځینې هیوادونو کې پارلمان د تقنین په څنګ کې د جوړو شویو قوانیو د تنفیذ واک هم لري او حکومت یا اجرایه ځواک هم د پارلمان د وکیلانو له ډلې څخه تشکیلیږي. خو په ځینو نورو هیوادونو کې بیا د حکومت مشر هم د پارلمان د وکیلانو په څېر د خلکو د رایو له مخې ټاکل کیږي او پارلمان یواځې د تقنین او د حکومت د کړنو د څارلو دنده لري.

**د ډموکراسۍ د تنفیذ څانګه(حکومت یا اجرائیه قوه) لاندې ځانګړتیاوې لري:**

په ځینو هیوادونو کې اجرائیه ځواک هم د پارلمان له خوا سمبالیږي، لومړی وزیر او کابینه د پارلمان له وکیلانو څخه تشکیل مومي.

خو په اکثریت هیوادونو کې د پارلمان د وکیلانو د ټاکلو په څېر د حکومت د تشکیل لپاره هم عمومي انتخابات کیږي. دا انتخابات به لاندې ځانګړتیاوې لري:

- د انتخاباتو په قانون کې به دین هیڅ نقش نه لري.
- په انتخاباتو کې به د مسلمان او کافر ، ښځې او نر معیار شتون نه لري، د هیواد ټول وګړي به له یو ډول مساوي سیاسي حقوقو څخه برخمن وي. هر څوک به کولای شي چې کاندید شي او یا رایه ورکړي؛ دین به د دوی تر مینځ د برترۍ لامل نه وي.
- عقل، علم، صالحیت، تقوی او تجربه په انتخاباتو کې هیڅ ارزښت نه لري. د یوه تر ټول هوښیار او ځیرک انسان رایه به د یوه تر ټولو غبي او احمق انسان له رایې سره برابره ګڼل کیږي، د یوه پاخه تجربه لرونکي ، ملي او سیاسي شخص د رایې او د هغه چا د رایې به هیڅ توپیر نه وي چې په هیڅ نه پوهیږي او مازې یو انسان وي؛ په انتخاباتو کې یوازې سرونه شمیرل کیږي نور نو یو متقي، صالح ، پاک او محسن انسان له یوه رشوت خور، غله، حرامي، زاني، لوطي، قاتل او فاسق انسان سره بالکل برابر او مساوي سیاسي حقوق لري.
- په انتخاباتو کې چې د هرې نظریې خلکو ډېرې رایې وګټلې نو پاتې ټول خلک به یې حکومت مني او په وړاندې به یې نه دریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ډموکراسۍ دويم اصل : آزادۍ او حقوق**

يو لړ حقوق او آزادۍ د ډموکراسۍ ثمره بلل کيږي. کومه ټولنه چې ډموکراسي مني نو حتما بايد دا آزادۍ او حقوق ترلاسه کړي. د دې آزاديو او حقوقو له شتون پرته يو هيواد ډيموکراټ نه بلل کيږي. دا آزادۍ او حقوق په لاندې ډول دي:

**د دين او عقيدې آزادي**

په غربي ډموکراسي که هر څوک آزاد دی هر دين يې چې خوښ وي ودې يې مني. وګړو ته له يوه دين څخه بل دين ته د اوښتلو او يا له ټولو دينونو څخه د انکار آزادي شته. دين او عقيده يو شخصي امر وي، د نظام په شمول هيڅوک هم له چا سره د دين او عقيدې د بدلون له امله محاسبه نشي کولای، که دا آزادي څوک له چا اخلي نو ډموکراټيک نظامونه به يې مخه نيسي.

**د بيان يا نظر څرګندولو آزادي**

هر څوک کولای شي چې څه يې زړه غواړي بيان يې کړي. خلک د خپل نظر د څرګندولو بې قيده او بنده(دا ازادی له ديني پلوه کوم قيد او بند نه لري) آزادي لري. وګړي کولای شي چې حتی د ديني احکامو او مسائلو په اړه هم خپل نظرونه څرګند کړي، د بل چا دين او عقيدې ته سپکې سپورې ووايي. په غربي ډيموکراسۍ کې د خلکو د رايو او نظرونو ارزښت او قداست له وحي څخه لوړ بلل کيږي.

**شخصي آزادي**

د خپل بدن په اړه هر څوک آزاد دی خوښه يې چې هر څه پرې کوي ودې کړي. هر ډول اخلاق چې غواړي اختيار دې کړي. په اخلاقو کې بد نشته؛ ټول ښه دي. روا او ناروا مطرح نه وي. زنا، لواطت، ګدا، له حيوان سره واده، له سپي يا بيزو سره جنسي اړيکې، نر له نر او ښځې له ښځې سره واده کول، د ښځو بدلول( د Swap union هڅې) ... د هر چا حق دی.

**د هستوګنځي آزادي**

هر څوک حق لري چې هر ځای ته چې وغواړي سفر وکړي او هر ځای چې وغواړي د اوسيدو لپاره غوره کړي. حتی يهود، نصارا او مشرکان کولای شي چې په جزيرة العرب يا حرمين شريفين کې واوسيږي.

**د ملکيت حق**

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څوک کولای شي چې هر شی ولري. له هرې لارې د ملکیت د ګټلو او په هره لاره کې د مصرفؤلو حق هر چا ته په برخه وي. د مال په ګټلو کې ناروا لاره نشته، له هرې ممکنې لارې ګټل کیدای شي.

**د کار حق**

د ډموکراسي له نظره کسبونه او شغلونه ټول روا دي، ناروا پکې نشته. د جنسي خدماتو!؟ وړاندې کول، د ګډا کلپونه، سینما او شرابخانې خلاصول ناروا نه دي.

**د زده کړې حق**

د موسیقی، نڅا، جادو، مداری بازي ، شعبده بازي په ګډون هر څوک هر علم او فن زده کولای شي.

**د ښځینه او نارینه مساوات**

ښځه او نر په هر څه کې مساوي وي، څه چې نر کوي هغه به ښځه هم کوي. حقوق یې برابر دي، د نر په څېر ښځه هم کولای شي د هیواد مشره شي. نر په ښځه واکمني نه لري ، بلکې دواړه به د یو بل متقابل درناوي کوي، ښځه هم د نر په څېر د نکاح د اړیکې د ختمؤلو واک لري.

**سیاسي پلورالیزم**

هر څوک حق لري چې د خپل منشور پر اساس ګوند جوړ کړي، او بیا د واک ته رسیدو لپاره هلې ځلې وکړي. په اسلامي هیوادونو کې دا ګوندونه زیاتره وخت د غرب له خوا حمایه کیږي، د هغوی لاسپوڅي او ځیره خواره وي.

**دیني پلورالیزم**

وګړي کولای شي چې دیني ګوند جوړ کړي، د دیني ګوند جوړونکي به قناعت کوي چې دین په سیاست کې کار نه لري. ډیموکراسي به مني، په سیاست کې به ګوتې نه وهي. همدا راز وګړي ازاد دی چې هر ځای د خپل دین تبلیغ وکړي. په اسلامي هیوادونو کې د مسیحیت او نورو ادیانو تبلیغ ته اجازه وي. که څوک یې مخالفت کوي، نو ډموکراټ هیوادونه یې په وړاندې یو لاس او دریږي.

## د ډموکراسۍ د تکفیر شرعي دلایل

**اعلی حاکمیت**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسلام کې اعلی حاکمیت یواځې او یواځې د الله تعالی حق دی. د الله تعالی د حاکمیت منل د اسلامي تصور د بنسټونو بنسټ دی. د الله تعالی د حاکمیت مانا دا ده چې دا یواځې الله تعالی دی چې خوښه او اراده یې د قانون سرچینه ده، په کائناتو کې مطلق ځواک او اعلی اقتدار د هغه جل جلاله دی.

د الله تعالی حاکمیت د اسلام تر ټولو لومړنی بنسټیز اصل دی. داسې اصل چې نه پکې د اختلاف ځای شته، نه د اجتهاد، نه په کوم پړاو کې هیرېدای شي او نه پرې کوم جوړجاړی کیدای شي. قرآن کریم د الله تعالی د حاکمیت او واکمنی اصل په مختلفو الفاظو سره په دوه توکړو کې بیان کړی دی:

إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلَّهِ (الأنعام، 57)

ژباړه: واکمني له الله پرته د بل چا نه ده.

أَلاَ لَهُ الْحُكْمُ (الأنعام، 62)

ژباړه: یاد ساتئ! واکمني یوازې د هغه ده.

أَلاَ لَهُ الْخَلْقُ وَ الْأَمْرُ (الأعراف، 54)

ژباړه: یاد ساتئ! خلقت هم هغه لره دی او حکم هم د هغه دی.

وَ لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَ الْأَرْضِ (آلعمران، 189)

ژباړه: او د آسمانونو او ځمکې واکمني یوازې د الله ده.

قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ (آلعمران، 26)

ژباړه: ووایه، اې الله! د واکمنۍ څښتنه! ته چې هر چاته وغواړې واکمني ورکوې.

د "حکم" کلمه او د هغې مشتقات په ۲۲ قرآني آیاتونو کې راغلي دي دا قرآني آیتونه په ډاګه ثابتوي چې الله جل جلاله شارع او قانون جوړونکی دی. همدا راز په قرآن کریم کې د الله تعالی لپاره د "رب" کلمه په ۱۴۲ ځایونو کې د قانون جوړونکي او شارع په معنی راغلې ده.

انسانان د الله تعالی بنده ګان دي، الله تعالی د خپلو بنده ګانو په ضرورتونو او مصلحتونو تر ټولو ښه پوهیږي او د همدې ازلي پوهې له مخې یې په هره زمانه کې هر قوم ته د هغوی د حال او وضعیت مطابق قانون او شریعت رالیږلی. الله تعالی خپلو بنده ګانو ته نه یواځې دا چې د عقایدو، مختلفو عباداتو او اخلاقو په هکله لارښوونې رالیږلي بلکې هغوی ته یې د ژوند د تنظیم لپاره هم قانون رالیږلی. د دولت او حکومتدارۍ، قضاء او جنایاتو ، تجارت او اقتصاد ، کورني نظام، حقوقو او واجباتو په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې هم هدايات او احکام رانازل کړي. حلال او حرام، روا او ناروا يې ټاکلي. د الله تعالی له لوري خپلو بنده ګانو ته د قانون او شريعت رالیږلو سلسله له آدم عليه السلام څخه پيل او په خاتم النبيين محمد رسول الله صلی الله عليه و سلم باندې ختمه شوې. الله تعالی اسلام د وروستني حق دين په توګه رالیږلی، داسې دين چې له ځان سره د ژوند بشپړ نظام لري او تر قيامته پورې په هره زمانه او هر ډول شرايطو کې د تطبيق وړ او د بشريت د ژوند د ښه تنظيم او د ستونزو د حل ضامن دی.

الله تعالی انسانان مکلف ګرځولي تر څو يواځې او يواځې د الله تعالی راليږل شوي قانون او شريعت ته غاړه کېږدي او عملي کولو ته يې ملا وتړي. د الله تعالی په مقابل کې بل هېچا ته هم د قانون جوړونې حق ورنه کړي، فقط الله تعالی د يوائينې اعلی مقتدر او مطلق واکمن په توګه ومني او بس.

هر څوک چې د الله تعالی حاکميت نه مني او د هغه په مقابل کې بل چا ته د قانون جوړونې په صلاحيت قائليږي د ټول امت په اتفاق دا شخص له اسلام څخه خارج او کافر دی. ولو که دا شخص د اسلام په عبادتي او ځينو اخلاقي برخو باندې باور هم ولري.

يواځې د قرآن کريم د يوه آيت او يا هم د رسول الله صلی الله عليه و سلم د يوه حديث څخه د انکار له امله يو څوک د اسلام له دايرې څخه خارجيږي او کافر ګرځي؛ نو هغه څوک به څنګه نه کافر کيږي او د اسلامي دين له دايرې به نه وځي چې د سياست، اقتصاد، اخلاقو، قضاء او حدودو، حقوقو، واجباتو، د ژوند نورو ګڼو اړخونو او د انسانانو تر مينځ د معاملاتو د تنظيم لپاره له رانازل شويو ټولو آيتونو او همدا راز احاديثو څخه انکار کوي؟

ټول مسلمانان مکلف دي چې د الله تعالی له خوا د راليږل شوي قانون او شريعت مطلق اطاعت وکړي. د الله تعالی د حاکميت په مقابل کې بل هيڅوک هم د حاکم په توګه ونه مني او نه هم د الهی شريعت او قانون څخه پرته کوم بل ساختګي قانون ته غاړه کېږدي نه يې ومني او نه هم پرې راضي شي. د اختلاف او منازعې په صورت کې د الله تعالی راليږل شوي قانون ته مراجعه وکړي نه دا چې د خپل عقل او پوهې پر اساس له ځانه قانون جوړ او بيا يې له مخې فيصله وکړي.

په اسلام کې قطعي الثبوت دلايل له هغه چا څخه ايمان نفي کوي او کافر يې بولي چې د الله تعالی له قانون څخه پرته د بل چا په قانون فيصله کوي. د الله تعالی په مقابل کې د بل چا حاکميت مني او يا دا چې د الله تعالی په قانون فيصله کوي خو له زړه څخه پرې راضي نه وي.

فَلاَ وَ رَبِّکَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَکِّمُوکَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجاً مِمَّا قَضَيْتَ وَ يُسَلِّمُوا تَسْلِيماً (النساء، 65)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه، اې محمده صلی الله علیه و سلم! ستا په رب قسم چې دوی هیڅکله مؤمنان کیدای نه شي، تر څو چې په خپل منځي شخړو کې تا فیصله کوونکی ونه مني. بیا چې ته څه فیصله وکړې، پر هغې باندې په خپلو زړونو کې هم څه تنګي احساس نه کړي؛ بلکې سر تر پایه یې ومني.

وَ مَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَ لاَ مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَ رَسُولُهُ أَمْراً أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَ مَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَ رَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلاً مُبِيناً (الأحزاب، 36)

ژباړه: هیڅ یو مؤمن او هیڅ یوه مؤمنه دا حق نه لري چې کله الله او د هغه رسول صلی الله علیه و سلم د کومې معاملې فیصله وکړي او بیا(د الله او د هغه د رسول په خلاف) هغه پخپله د خپلې هغې معاملې د فیصله کولو اختیار ولري. او څوک چې له الله او د هغه له رسول صلی الله علیه و سلم څخه سرغړاوی وکړي، په ځرګنده ګمراهۍ کې وغورځیدی.

وَ مَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ذٰلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَ إِلَيْهِ أُنِيبُ (الشوری، 10)

ژباړه: په هره چاره کې چې ستاسې تر منځ اختلاف وي، د هغه فیصله کول د الله کار دی. هماغه الله زما رب دی، پر هغه ما توکُل وکړ، او د هغه لوري ته زه رجوع کوم.

أَ لَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَ مَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَ قَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ وَ يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلاَلاً بَعِيداً (60) وَ إِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَى مَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَ إِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنْكَ صُدُوداً (61) --- (النساء، ۶۰- ۶۱)

ژباړه: [ اې پیغمبره (ص)!] آیا تا هغو خلکو ته نه دي کتلي چې دعوه کوي چې: موږ پر هغه کتاب چې تاته راغلی دی او پر هغو کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوي ول ایمان راوړی دی؟- خو غواړي چې خپلې چارې د فیصلې لپاره د طاغوت لوري ته وړاندې کړي. حال دا دی چې هغو ته له طاغوت څخه د منکرېدو حکم شوی ؤ. شیطان غواړي هغوی وغولوي او د سمې لارې څخه یې ډېر لرې وباسي.

او کله چې هغو ته ویل کیږی چې راشئ، د هغه شي لوري ته چې الله نازل کړي دي. او راشئ، د پیغمبر لوري ته. نو ته به دغو منافقانو ته ګورې چې ستا لوري ته له راتګ څخه به بیخي ځانونه ګوښه کوي.

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَ مَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْماً لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ (المائدة، 50)

ژباړه: آیا دوی د جاهلیت پرېکړه غواړي؟ حال دا چې هغو خلکو ته چې په الله تعالی باور لري، د الله عز و جل له حکم څخه بل ښه او بهتر حکم نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا او په لسګونو نور آیتونه په روښانه توګه ثابتوي چې " اعلی حاکمیت" یوازې او یوازې الله تعالی جل جلاله او د هغه رالیږلي شریعت ته حاصل دی او څوک چې د الله تعالی حاکمیت نه مني او د هغه د رالیږلي شریعت او قانون په وړاندې د خپل عقل او ارادې له مخې د بشر لپاره قوانین جوړوي له اسلام څخه جلا او ښکاره کافر دی.

**د ولس د ارادې تقدس**

د ولس اراده په ډموکراسۍ که تر ټولو ارزښتمن او مقدس شی ګڼل کیږي، دومره مقدسه چې د ولس اراده په مطلق ډول د قانون مصدر وي. له همدې امله پارلمان چې د ولس د ارادې تمثیلوونکو نماینده ګانو څخه تشکیل شوی وي تر ټولو لوړ، مقتدر او له هر ډول خطا څخه پاک ارګان بلل کیږي. که ولس داسې کوم څه وغواړي چې د الله تعالی د شریعت او قانون خلاف وي نو د ډموکراسي د حکم له مخې به د الله تعالی لارښوونې پرېښودل کیږي او د خلکو له ارادې جوړ شوي قانون باندې به عمل کیږي.

په ډموکراسۍ کې له لومړي سره د کومې لویې جرګې یا کومې بلې ولسې مرجع له خوا د ولس اراده د اساسي قانون په شکل تدوین او منل کیږي؛ بیا نو شریعت او یا بل عرف یا قانون د اساسي قانون په تله تلل کیږي که له اساسي قانون سره برابر ؤ نو له اساسي قانون سره د توافق له امله منل کیږي نه دا چې د الله تعالی شریعت او حکم دی. خو که له اساسي قانون سره په ټکر کې راته بیا یې نو په هیڅ صورت د منل کېدو او عملي کېدو چانس نشته. د خلکو اراده او رایه په شریعت باندې لوړه ګڼل هغه کفر دی چې الله تعالی ترې خپل بنده ګان منع کړي دي:

وَ أَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَ لاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَ احْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُصِيبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ وَ إِنَّ كَثِيراً مِنَ النَّاسِ لَفَاسِقُونَ (المائدة، 49)

ژباړه: نو [ اې محمده (ص)!] ته د الله له نازل کړي قانون سره سم د دې خلکو د چارو فیصله وکړه، او د هغوی د خواهشاتو او خوښو پیروي مه کوه. پام کوه چې دا خلک تا په فتنه کې وانه چوي، یوه ذره قدري دې هم له هغه څه وانه ړوي چې الله تا ته درلیږلي دي. نو که دوی مخ ورڅخه واړوي، نو وپوهیږه چې الله د دوی د ځینو ګناهونو په مجازات کې، په غم کې د دوی د اخته کؤلو اراده کړې ده. او دا حقیقت دی چې له دې خلکو څخه زیاتره یې فاسقان دي.

**آیا د اکثریت رایه د حق د ټاکلو معیار کیدای شي؟**

د ډموکراسۍ پرخلاف په اسلام کې هغه څه حق دی چې په قرآن او حدیث کې د حق په توګه بیان شوي وي که څه هم ډېر لږ خلک یې ملاتړ وکړي. په ډموکراسۍ کې د خلکو اکثریت" اله" او رایه یې د " شریعت" مرتبه لري. چې دا د ډموکراسۍ لوی ښکاره او بربنډ کفر دی. په اسلام کې نه یوازې دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خلکو اکثریت یا اقلیت د حق او باطل ، روا او ناروا معیار نه دی. بلکه قرآني آیتونه په صراحت سره بیانوي چې لږ خلک حق ته غاړه ایښودونکي، د پوهې خاوندان او شکر ایستونکي دي:

وَ إِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوکَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلاَّ الظَّنَّ وَ إِنْ هُمْ إِلاَّ يَخْرُصُونَ (الأنعام، 116)

ژباړه: او [اې محمده(ص)!] که ته د هغو خلکو د اکثریت په خوله کار وکړې چې په ځمکه کې میشته دي، نو هغوی به تا د الله له لارې واړوي. هغوی خو یوازې په ګومان روان او د انګېرنو برابرونکي دي.

وَ لٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَشْكُرُونَ (البقرة، 243)

ژباړه: خو زیاتره خلک شکر نه ادا کوي.

وَ لٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يُؤْمِنُونَ (هود، 17)

ژباړه: خو زیاتر خلک ایمان نه راوړي.

وَ لٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ (يوسف، 21)

ژباړه: خو زیاتره خلک نه پوهېږي.

وَ قَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ (سبإ، 13)

ژباړه: زما په بنده ګانو کې بیخي لږ شکر ایستونکي دي.

**په ډموکراسۍ کې عقل د قانون د سرچینې په توګه**

په ډموکراسۍ کې هغه څه" ښه" بلل کېږي چې د خلکو عقل يې ښه وبولي او هغه څه" بد" ګڼل کېږي چې د خلکو عقل يې بد وبولي. د عقل له خوا د همدې ښه ګڼلو او بد ګڼلو په اساس بیا قوانین وضع کېږي، روا او ناروا یا جائزې او ناجائزې چارې ټاکل کېږی؛په دې توګه د تقنین او تشریع حق په بشپړ ډول له الله تعالی څخه اخیستل کېږي او بشر ته سپارل کېږي چې دا په خپل ذات کې ښکاره او ډاګیز کفر دی.

**آیا په عقل کې دا صلاحیت شته چې په شیانو یا افعالو باندې د (ښه والی) یا (بدوالی) صحیح حکم وکړي؟**

د لاندې دلایلو له مخې عقل په اشیاؤ او افعالو باندې د صحیح حکم کولو وړتیا او صلاحیت نه لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ د انسانانو عقلونه سره بېل بېل دي، د ځينو خلکو عقلونه یو شی یا یو کار ښه او تر سره کوونکی يي د مکافاتو وړ بولي خو د ځينو نورو انسانانو عقلونه بيا هم دا شی یا همدا کار بد او ترسره کوونکی يي د مجازات وړ ګڼي. که عقل کې رښتيا هم د ښه او بد د تعيينؤلو وړتيا وای نو بايد د ټولو انسانانو عقلونو عين شی یا فعل ښه یا بد ګڼلی او يو ډول پريکړه يې کولای. حقيقت دا دی چې د " وحی" له لارښوونې پرته عقل د صحيح حکم کولو وړتيا نه لري.

۲ـ د انسانانو عقلونه د هغوی له فطري غريزو، تمايلاتو او خواهشاتو څخه متأثر کېږي. د انسانانو غريزې، خواهشات او تمايلات سره مختلف دي؛ په دې توګه له مختلف ډول خواهشاتو او تمايلاتو څخه متأثر شوي عقلونه مختلف او له يو بل سره متضاد حکمونه کوي چې په دې صورت کې بيا هم د حقيقي مصلحت او سم حکم پيژندل یو نا ممکن کار ګرځي.

۳ـ د انسانانو عقلونه د حالاتو، شرائطو او زمانې په بدلون سره بدلون مومي. هغه عقلونه چې پرون به يې يو شی یا فعل ښه ګڼه نن به د حالاتو او شرايطو په بدلون سره هماغه شی یا فعل بد ګڼي یا هغه څه چې نن يې بد ګڼي څه موده وروسته به يې د شرائطو او حالاتو په بدلون سره ښه وبولي. په دې توګه عقل په **(بې ثباتۍ)** اخته کېږي په داسې حال کې چې الهي وحی د ټولو حالاتو، شرائطو او زمانو په نظر کې نيولو سره **(ثابت)** حکم کوي.

په اسلام کې د ثواب او عقاب په لحاظ په اشياؤ او افعالو باندې د حِل او حرمت(حلال او حرام ګڼلو) حکم يواځې او يواځې د الله تعالی حق دی:

إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلَّهِ (الأنعام، 57)

ژباړه: واکمني له الله پرته د بل چا نه ده.

په اسلام کې د قانون مصدر **(وحي)** دی. اصلي او اساسي قوانين(Supra Constitution) اسلامي شريعت ټاکلي دي. د فرعي(Subordinate) قوانينو په برخه کې مجتهدين اجازه لري چې د اسلام له اساسي سرچينو څخه يې استباط کړي.

## انتخابات

د غربي ډموکراسۍ د انتخاباتو په قانون کې دين ځای نه لري؛ د اسلام د لارښوونو پر خلاف د مسلمان تر څنګ هندو، سک، عيسوي، يهودي، کمونست کافر، سيکولر کافر، ډيموکراټ کافر... او همدا رنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه هم کولای شي چې ځان انتخاباتو ته کاندید کړي او له خلکو څخه د رایې غوښتنه وکړي. د اسلامي لارښوونو له مخې د مسلمانانو مشر باید مسلمان او نارینه واوسي؛ د مسلمانانو د مشر لپاره د نورو ډېرو شرطونو تر څنګ اسلام او نارینه توب هم له اساسي شرطونو څخه دي. د اسلام له نظره په مسلمانانو باندې د کافر مشر واکمني حرامه ده، او ښځه هم اسلامي شریعت د مسلمانانو د مشرۍ له درانده مسئولیت څخه معاف کړې ده.

په غربي ډموکراسۍ کې خبیث والی او فاسد والی، طیب والی او صالح والی ارزښت نه لري. د یوه کافر، خبیث، فاسد، فاجر، خائن، بې عقل، غله، مجرم او فاحش انسان رایه د یوه پاک، مؤمن، صالح، متقي، هوښیار او عالم انسان له رایې سره برابره او مساوي شمیرل کېږي. د بیلګې په توګه که د یوه دیني عالم په مقابل کې یو کافر کاندید وي؛ دیني عالم ته ۹۹۹ تنه صالح، پاک، متقي او له خدایه ویریدونکي خلک رایه ورکړي او کافر کاندید د ۱۰۰۰ تنو لنډغرو، نشه یانو، فاسقانو او خاینانو رایې واخلي نو ډیموکراسي حکم کوي چې کافر کاندید بریالی او د منصب حقدار دی. د خبیث، فاسد او فاسق انسان رایه د متقي، صالح او پاک انسان له رایې سره برابرول او ټولو ته یو ډول انتخابي حقوق ورکول د اسلام، عقل او فطرت خلاف عمل دی. د اسلام له نظره خبیث، فاسق او فاجر کسان په هیڅ شان له پاکو او طیبو انسانانو سره برابر ندي.

قُلْ لاَ يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَ الطَّيِّبُ وَ لَوْ أَعْجَبَکَ كَثْرَةُ الْخَبِيثِ فَاتَّقُوا اللَّهَ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (المائدة، 100)

ژباړه: [اې پیغمبره (ص)!] دوی ته ووایه چې پاک او ناولي په هیڅ شان یو شانته نه دي، که د ناپاکو ډېروالی هر څومره ستاسي لپاره جالب هم وي. نو اې هوښیارانو! د الله له نافرمانۍ څخه ځان وژغورئ، ښایي چې بریالیتوب مو په برخه شي.

په ډیموکراسۍ کې هر څوک حق لري چې ځان کاندید کړي، د ټولو انسانانو رایې برابرې حسابیږي او څوک چې د دې ټاکنو په نیتجه کې کامیاب شو نو د ټولو له خوا د قانون جوړونې او د خپل جوړ کړی قانون د تنفیذ واکدار او حقدار منل کېږي. چې دا صریح او ښکاره کفر دی.

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ...(الشورى، 21)

ژباړه: ایا د دوی لپاره داسې حصه داران کیدای شي چې قانون د تحلیل او تحریم ورته جوړ کړي هغه چې الله تعالی یې اجازه نده کړې.(نه هیڅ کله نه)

په انتخاباتو کې له خلکو څخه تمه کېږي چې د هیواد د ادارې او پرمختګ لپاره د کاندیدانو یا ګوندونو طرحې او منشورونه په ژور ډول مطالعه کړي بیا یې یو تر بله مقایسه کړي او هغه طرحه یا منشور

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکي پيدا کړي چې د هيواد د راتلونکي په خير وي بيا د همدې طرحې يا منشور کانديد يا ګوند ته خپله رايه ورکړي. دا تمه په هغه هيوادونو کې هم له خلکو څخه کېږي چې ۷۰ يا ۸۰ سلنه وګړي يې بې سواده وي او اصلاً د طرحې يا منشور د لوستلو وړتيا ونه لري!!! په دې توګه ډيموکراسي د سليم عقل او فطرت خلاف، د بشر په لاس جوړ شوی مسخره نظام دی.

له دې سره سره د انتخاباتي ټګلارې له مخې د خلکو پوهې او تجربې ته هيڅ پام نه کېږي. د يوه پوهاند او د يوه بې سواده ملازم رايې برابرې وي. د يوه رسېدلي ديني عالم، تجربه لرونکي سياست مدار او متخصص رايه د يوه نالوستي عامي له رايې سره مساوي وي. په داسې حال کې چې په اسلام کې پوه او نا پوه هيڅکله يو برابر نه دي.

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَ الَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَابِ(الزمر، 9)

ژباړه: د دوی څخه پوښتنه وکړه: " آيا پوهېدونکي او نه پوهېدونکي يو شانته کېدای شي؟" نصيحت خو د پوهې خاوندان مني.

موږ چيرته هم ندي ليدلي چې د کومې ناروغۍ د مخنيوي لپاره د لارو چارو د لټولو په کنفرانس کې دې انجنيرانو يا معلمانو هم د ډاکترانو په څنګ کې ګډون کړي وي، نه هم چيرته ډاکتر د انجنيرانو په نقشو کې نظر ورکړی. خو په ډيموکراسۍ کې د سياست پوهانو په څنګ کې د ټول هيواد د سياسي سنبالښت لپاره بی سواده وګړي هم پوښتل کېږي عجيبه يې لا دا چې د بی سواده انسان او د سياست پوه انسان نظرونه مساوي او يو برابر شميرل کېږي!!!

د ډموکراسۍ له نظره د دې لپاره چې په يوه هيواد کې ټول خلک د يو بل په څنګ کې سوله يز ګډ ژوند وکړي نو بايد ټول وګړي د يو بل دين او عقيدې ته احترام وکړي او حق يې وبولي؛ مسلمان به د عيسويت او هندويزم درناوي کوي او حق به يې بولي او عيسوي او هندو به د اسلام درناوی کوی او حق به يې بولي... په دې توګه ډيموکراسي د خپل حاکميت په قلمرو کې دينونه په حق او باطل نه وېشي بلکه ټول دينونه يو ډول حق او سم ، د بشر ضرورت او د تسکين ذريعه يې بولي. په همدې اساس ډيموکراټ چاپيرېال کې څوک د خپل دين له کبله په بل چا لوړوالی نه لري او ټول وګړي يو ډول سياسي حقوق لري. مسلمان، هندو، سک، عيسوي، يهود... ټول کولای شي چې خپله رايه وکاروي يا ځان کانديد کړي.(البته د ژوند په ډګر کې يوه دين ته هم د مداخلې اجازه نه ورکوي)

په اسلام کې تر هغه وخته د يو چا مسلماني نه صحيح کېږي تر څو چې د الله تعالی او د هغه د دين له منلو څخه وړاندې له ټولو باطلو اديانو، باطلو مفکورو، د طاغوت له ټولو ډولونو او ټولو ساختګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدايانو(بتانو، غواګانو، خوسکيانو، پيرانو، زيارتونو، فرعون نما انسانانو) څخه منکر نه شي. همدا مفهوم د اسلام په کلمه، لومړۍ بناء او دروازه (لا اله الا الله محمد رسول الله) کې هم پروت دی. اسلام داسې دين دی چې نه ترې پورته او نه هم ورسره په څنګ کې مساوي کوم بل دين يا نظريه شتون لري. اسلام په ټولو اديانو او مفکورو لوړتيا لري او مسلمانان نظر غير مسلمان وګړو ته اعلی او اُچت خلک دي.

وَ لاَ تَهِنُوا وَ لاَ تَحْزَنُوا وَ أَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (آل‌عمران، 139)

ژباړه: بې زړه کېږئ مه، انديښمن کېږئ مه. همدا تاسې برلاسي ياست، که تاسې مؤمنان واوسئ.

الله تعالی يواځې او يواځې اسلام د وروستني حق دين په توګه غوره کړی؛ اسلام د پخوانيو ټولو آسماني اديانو منسوخوونکی دی. د بشر په لاس جوړ شوي ساختګي اديان او مفکورې بې له خرافاتو، کفر او شرک څخه هيڅ هم له ځان سره نه لري. پخواني آسماني اديان نه يواځې دا چې د اسلام له لوري منسوخ شوی بلکه په خپل اصلي شکل هم نه دي پاتې شرک او کفر په کې ننوتی.

إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلاَمُ (آل‌عمران، 19)

ژباړه: د الله تعالی په وړاندې دين همدا اسلام دی.

مسلمانان له جګړه کوونکو او د اسلام د سياسي واکمنۍ نه منونکو کفارو سره په جګړه مکلف دي. که غيرمسلمان وګړي له جګړې لاس واخلي، د مسلمانانو سياسي واکمنۍ ته غاړه کېږدي او اسلامي دولت ته جزيه ورکړي نو بيا کولای شي چې په ازادانه ډول د مسلمانانو تر څنګ ژوند تېر کړي، په خپل دين پاتې او خپل ديني مراسم ترسره کړي. جزيه هغه خاصه ماليه ده چې نامسلمان وګړي يې اسلامي دولت ته سپاري او په بدل کې يې اسلامي دولت دوی ته امنيتي، حقوقي، ټولنيز، پرمختيايي... خدمات وړاندې کوي.

وَ قَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَ يَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ فَإِنِ انْتَهَوْا فَلاَ عُدْوَانَ إِلاَّ عَلَى الظَّالِمِينَ (البقرة، 193)

ژباړه: او تاسې له هغو سره وجنګېږئ تر دې پورې چې فتنه پاته نشي او دين د الله لپاره شي، بيا که هغوی لاس په سر شول، نو وپوهېږئ چې له ظالمانو پرته د بل چا په ضد لاس غځول روا نه دي.

په ډموکراسي کې د کفر او اسلام تر منځ د توپير د نشتون له امله ډموکراسي ښکاره او شديد کفر دی او د اسلام په مخالف قطب کې قرار لري؛ د دواړو يو ځای کول قطعا نا ممکن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اسلام له نظره د ډموکراسۍ د آزادیو او حقوقو څېړنه

**د دين او عقيدې آزادي**

په ډموکراسۍ کې هر انسان حق لري چې کوم دين يې زړه غواړي؛ غوره يې کړي او يا خپل اوسنی دين او عقيده بدله کړي. دين او عقيده د يوه فيشن يا لباس حيثيت لري. مسلمان کولای شي يهودي شي، بله ورځ بيا هندو، مسيحي يا ملحد او يا له ټولو دينونو څخه منکر شي او بله ورځ بيا بيرته مسلمان شي. د دين انتخاب او يا بدلون يو شخصي امر بلل کېږي. نظام او چارواکي له چا سره د دين د بدلون محاسبه نه کوي. خو د اسلام له نظره دا باور چې مسلمان کولای شي چې خپل دين پرېږدي او د اسلام د پرېښودو له امله هغه ته څوک د سزا ورکولو حق نه لري؛ ښکاره او صريح کفر دی. په اسلام کې د مرتد سزا قتل دی. مرتد هغه څوک دی چې لومړی مسلمان وي خو بيا له اسلام څخه ووځي او بيرته توبه هم نه باسي. رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي: من بدّل دينه فاقتلوه (بخاري) ژباړه: چا چې خپل دين بدل کړ ويې وژنئ.

په اسلام کې هم د دين او عقيدې آزادي شته، هغه داسې چې هيڅوک حق نه لري چې غير مسلمان وګړي د اسلام په منلو مجبور کړي، د غير مسلمان وګړو د معبدونو د ړنګولو حق او اجازه هيچا ته هم نشته.

لاَ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ...(البقرة، 256)

ژباړه: د دين په چارو کې څه زور او مجبورول نشته، سمه خبره له غلطو مفکورو څخه جلا کړای شوې ده.

وَ لَوْ شَاءَ رَبُّکَ لَآمَنَ مَنْ فِي الْأَرْضِ کُلُّهُمْ جَمِيعاً أَ فَأَنْتَ تُکْرِهُ النَّاسَ حَتَّى يَکُونُوا مُؤْمِنِينَ (يونس، 99)

ژباړه: که ستا د رب اراده دا وای (چې په ځمکه کې دې ټول خلک مؤمنان او حکم منونکي اوسي) نو د ځمکې ټولو اوسېدونکو به ايمان راوړی وای. نو ايا ته خلک مجبوروې چې ايمان راوړي؟

د صحابه کرامو رضی الله عنهم له دورې څخه تر اوسه پورې په اسلامي قلمرو کې د مسيحيانو، يهودو، هندوانو او نورو غير مسلمانو طايفو شتون دا خبره ثابتوي چې مسلمانانو دوی ته په خپل دين د پاتې کېدو حق ورکړی او دوی يې د اسلام په منلو ندي مجبور کړي. خو د ډيموکراسۍ په څېر اسلام مسلمانو وګړو ته اجازه نه ورکوي چې خپل حق دين پرېږدي او بل دين غوره کړي يا ملحد شي، د دين د پرېښودو په صورت کې يې ورته د مرګ سزا ټاکلې ده.

**د بيان يا د نظر څرګندولو آزادي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډموکراسي وګړو ته د بیان بې بندوباره آزادي ورکوي، هر څوک کولای شي چې هر څه ووایي او د هر څه په اړه نظر ورکړي. ډموکراټان د بیان د آزادۍ په عنوان دیني لارښوونې او احکام هم تر برید لاندې نیسي. د رسول الله صلی الله علیه و سلم له توهینه ډک کارټونونه خپروي، د رسول الله صلی الله علیه و سلم او قرآن پر ضد فیلمونه جوړوي، قرآن ته اور ورته کوي، د اسلام او قرآن پر ضد کتابونه لیکي...

په ډیموکراسۍ ځپلو اسلامي  هیوادونو کې خلکو ته یوائې د شریرو او باطلو نظرونو او بیانونو د اظهار اجازه شته، د حق او سپینو خبرو کولو اجازه څوک نه لري، که څوک حق وایي او سپین غږېږي نو یا به وژل کېږي یا به زندان ته وړل کېږي، یا به شړل کېږي او یا به له نورو ډول ډول تهدیداتو او ستونزو سره مخامخ کېږي. زموږ په هیواد کې پرویز کامبخش د اسلام پر ضد مضامین خپاره کړل او جاوید احوار په کابل ایکسپریس کې د الله تعالی پر ضد!!! لیکنه وکړه؛ دواړه سرې سترګې ګرځي، ځکه دوی له هغې آزادۍ څخه ګټه اخیستې وه چې ډیموکراسۍ ورته منلې وه.

اسلام د باطل ویلو او د بې لارې کوونکي نظر اظهار ته اجازه نه ورکوي. د ښو او حق خبرو او نظرونو په څنګ کې د بدو او باطلو خبرو او نظرونو څرګندول د هر چا حق بلل؛ د اسلام له نظره صریح کفر دی او په دې حق او آزادۍ باورمند کسان ښکاره کافران دي.

په اسلام کې نه یوائې دا چې د حق او ښو خبرو او نظرونو ویلو او څرګندولو ته اجازه شته بلکه د حق بیان او ښه نظر څرګندول عبادت بلل کېږي، د ظالم حاکم پر وړاندې د حق خبره کول لوی جهاد شمیرل کېږي او که څوک د خپلې حق خبرې، له بدۍ څخه د منعې او په نیکۍ د امر له کبله ووژل شي نو د حمزه رضی الله تعالی عنه په څېر غوره شهید به وي. رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي:

ان من اعظم الجهاد کلمة عدل عند سلطان جائر(الترمذی، کتاب الفتن، باب افضل الجهاد)

یقینا له لوی جهاد څخه یو دا دی چې د عدل خبره دې د ظالم پادشاه په مخ کې وکړای شي.

د رسول الله صلی الله علیه و سلم په یو بل حدیث شریف کې راځي:

خیرالشهداء حمزة بن عبدالمطلب و رجل قام الی رجل فأمره و نهاه في ذات الله فقتله علی ذالک (المستدرک للحاکم)

په شهیدانو کې غوره شهید حمز بن عبدالمطلب او هغه سړی دی چې د الله جل جلاله لپاره یو بل چا ته په نیکۍ امر وکړي او له بدۍ څخه یې منع کړي او هغه یې بیا ووژني.

**شخصي آزادي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصي آزادي يا اخلاقي آزادي د ډموکراسۍ تر ټولو مهمه آزادي ده، له همدې کبله يې د ډموکراسۍ زړه بولي. د دې آزادۍ له مخې وګړي د خپل بدن په اړه پوره واک لري چې څه يې زړه غواړي هغه پرې کولای شي. خوښه يې چې چېرته يې نڅوي او که پلوري يې ، لواط کوي که سحاق، زنا کوي، که له سپي خره، بيزو يا بل کوم حيوان سره واده، لوڅ لپړ ګرځي او که شلېدلي پتلون اغوندي، ږېره کې ډيزاينونه اچوي که په غوږو او غاړه کې والۍ او ځنځيرونه، قيلون او شراب وهي که بنګ او... څه چې چا ته ښه ښکاري او خوند ترې اخلي هماغه ښه اخلاق دي، دين به ښه او بد اخلاق نه ټاکي، د ټولنې عرفونه، رواجونه او ادبي قوانين به د وګړو په شخصي ژوند کې مداخله نه کوي...

د اسلام له نظره وګړو ته په دا ډول آزادۍ قائلېدل ښکاره کفر دی. دا ډول بې سرحده اخلاقي آزادي د فطرت خلاف ده او په اسلام کې شتون نه لري. په اسلام کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر نظام شتون لري، په ټولنه کې نېکيو ته وده او د بديو او شر مخه نيول کېږي. په کومه ټولنه کې چې ډموکراسي حاکمه وي هلته د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قوانين په بشپړه توګه ځنډول شوي وي. بالعکس په کومه ټولنه کې چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر نظام جاري وي نو هلته به د ډموکراسۍ د زړه د نشتون له کبله ؛ ډموکراسي مړه وي. دواړه، ډموکراسي او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر نظام په يوه ټولنه کې په يوه وخت کې نشي سره يو ځای کيدای؛ له دوی څخه به يکي يو موجود وي او بس.

**د هستوګنځي آزادي**

غربي ډموکراسي خلکو ته آزادي ورکوي چې  هر چېرته يې زړه غواړي هلته واوسېږي، د حرم په ساحه او په جزيرة العرب کې مشرکانو، يهودو او نصاراوو ته د اوسېدو حق ورکوي. په اسلام کې غير مسلم وګړي د حرم ساحې ته د ننوتو اجازه نه لري او په مسلمانانو لازمه ده چې له جزيرة العرب څخه کفار وباسي. رسول الله صلي الله عليه و سلم فرمايلي دي:

اخرجو المشرکين و فی الرواية: اليهود و انصار من جزيرة العرب... (بخاري)

ژباړه: مشرکان له جزيرة العرب څخه وباسئ. او په بل روايت کې راغلي: يهود او نصارا له جزيرة العرب څخه وباسئ.

حضرت عمر رضی الله عنه په وخت کې ټول يهود او نصارا له جزيرة العرب څخه ويستل شوي وو، خو په اوس وخت کې که څوک له جزيرة العرب څخه د يهودو او نصاراوو د ويستلو غوښتنه وکړي، نو د ډموکراسۍ د سرلارو له خوا به له ډموکراسۍ سره د مخالفت په جرم د ډموکراسۍ له قانون څخه د هغوی د وژلو فتوی برابره او ځمکه به پرې سور اور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ملکیت حق**

په غربي ډموکراسۍ کې خلک کولای شي چې له هرې لارې مال وګټي او په هره طریقه یې چې زړه غواړي مصرف کړي. د سود، احتکار، قمار، د مزدورانو زبېښاک، فریب... له لارو مال ګټل کېدای شي او بیا په عیشونو، فحشاء، نڅا، قمارونو... کې مصرفېږي. ډموکراټ هیوادونه د مال د ګټلو لپاره نور ملتونه استعمار او د هغوي کاني زیرمې غلا کوي. د خپلو وسلو پلورلو لپاره نور ملتونه په خپلو کې سره په جګړو او سیالیو اړوي په نړیواله سطحه له هیڅ ډول جنایت څخه دریغ نه کوي.

په اسلام کې د مال ګټلو او مصرفولو روا لارې معلومې دي. له ناروا او حرامو لارو څخه د مال ګټل منع دي. اسلام خپل ځانګړی اقتصادي نظام لري چې د ټول بشریت د اقتصادي ستونزو حل په کې موجود دی. د ډموکراسۍ په کاپیټالیزم باندې باور لرل د اسلام له نظره ډاګیز کفر دی.

**د کار حق**

په ډموکراسۍ کې وګړي د هر ډول کار او کسب حق لري، په کارونو او کسبونو کې ناروا نشته، خو د اسلام له نظره روا نده چې خلک ځانونه په ناروا کارونو او کسبونو باندې بوخت کړي، په اسلام کې قمار خانې، شراب خانې، زنا خانې، د موسیقۍ کلبونه، د موسیقۍ د زده کړې انستیټیوټونه... خلاصول او چلول ناروا دي. د ځان بوختولو او کسبونو ټول ډولونه روا ګڼل د اسلام له نظره واضح کفر دی.

**د زده کړې حق**

په ډموکراسي کې وګړي د هر ډول علم او فن زده کړه کولای شي، خو د اسلام له نظره د موسیقۍ او نڅا، د کوډو او جادو... زده کړه حرامه ده. جادو ګري او د جادو زده کړه د اسلام له نظره کفر دی. اسلام هغه څوک کافر بولي چې د جادو زده کړه کفر نه بولي او یا خلکو ته د جادو په شمول د هر علم د زده کړې په حق باورمند وي.

**د ښځینه او نارینه مساوات**

په ډموکراسۍ کې د ښځې او نر حقوق مساوي بلل کېږي، څه چې نر کولای شي هغه به ښځه هم کوي، ښځه او نر برابر سیاسي حقوق لري. په داسې حال کې چې په اسلام کې د ښځې او نر حقوق مساوي نه بلکې عادلانه دي. ښځه د نر نیمایي میراث وړي، د دوه ښځو شاهدي د یوه نر له شاهدۍ سره برابره وي، د ښځې نفقه په پلار یا په خاوند وي، ښځه د مهر، له میره او پلار څخه د میراث وړلو حق لري، په ښځه باندې هیڅ ډول نه خپل او نه د بل چا مالي مکلفیت شته. په سیاسي برخه کې د اسلام مبارک دین ښځه د مسلمانانو د مشرۍ له درانده مسئولیت څخه معاف کړې ده. د اسلام له نظره د قرآن او حدیثو پر خلاف ښځه او نر په هر څه کې مساوي بلل ښکاره کفر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډيز او پايله

معاصره ډيموکراسي د ژوند د تنظيم لپاره د بشر په لاس جوړ شوی نظام دی چې په لومړی ځل په اروپا کې د پادشاهانو، منحرف مسحيت او پاپانو د ظلم او وحشت په مقابل کې د خلکو له خوا د عکس العمل په نتيجه کې رامنځته شو. په ډموکراسي کې د دولت او سياست، اقتصاد، معاملاتو او د ژوند د نورو ټولو اړخونو او د خلکو تر مينځ د فيصلې لپاره قوانين د خلکو له خوا جوړېږي. د قانون مصدر د بشر عقل ګڼل کېږي. روا او ناروا، ښه او بد د خلکو له خوا ټاکل کېږي. د خلکو اراده تر هر څه مقدسه، او لوړ او اعلی حاکميت د خلکو حق بلل کېږي. د خلکو د اکثريت خوښه او رايه د حق او باطل يا روا او ناروا د معلومولو معيار وي. خلک د اله او اکثريت يې د شريعت حيثيت لري. ډيموکراسي د خپلې ثمرې په توګه ځينې حقوق او ازادۍ لري چې خپل منونکي ترې برخمن کوي. د عقيدې، بيان، او اخلاقو د ازادۍ په څېر د ډيموکراسۍ ټولې ازادۍ او حقونه بې سرحده او هيڅ ډول ديني بريد، بند او قيد نه لري.

د اسلام له نظره ډيموکراسي تر ټولو شديد کفر دی. د ډيموکراسۍ منونکي، ډيموکراسۍ خپرونکي، د ډيموکراسۍ ملاتړي، او د ډيموکراسۍ مرسته کوونکي د **اسلام له دايرې وتلي، ښکاره او بې شکه کافران دي،** که څه هم له مسلمان مور او پلار څخه پيدا شوي او ځانونه مسلمان هم وبولي. دا مسلمان نما کافران دي ځانونه نه تېر باسي. اسلام د ماشوم د اودس په څېر نه دی چې هيڅ دې مات نه شي. لکه څرنګه چې شريعت ،اسلام ته د داخلېدو لارې ښوودلې، همداسې يې له اسلام څخه د وتلو لارې هم روښانه کړې دي. د ډيموکراسۍ مسلمان نما ملاتړي دې د شريعت له مخې ډيموکراسي ولولي او که واقعا دوی په ناخبرۍ کې وي نو الله تعالی ته دې ريښتينې توبه وباسي له ډيموکراسۍ دې لاس واخلي او اسلام ته دې مخه کړي. په يوه ټولنه کې په يوه وخت کې ډيموکراسي او اسلام يو ځای نه شي عملي کېدای بلکه دا دواړه د يو بل ضد دي، اسلام که موجود وي ډيموکراسي له مينځه وړي او که ډيموکراسي راشي اسلام له واکه غورځوي. په اسلام کې اعلی حاکميت د الله تعالی حق دی، د لوړو يا اصلي قوانينو مصدر " وحی" دی. بشر ته دومره اجازه شته چې د اجتهاد له لارې فرعي قوانين د دين له اصلي سرچينو څخه استنباط کړي. په اسلام کې د خلکو اکثريت د حق او باطل معيار ندی بلکه حق او باطل د قرآن او حديثو له مخې ټاکل شوی دي. د ډيموکراسي د انتخاباتو په څېر انتخابات په اسلام کې ځای نه لري. په اسلام کې د مسلمانانو د مشر لپاره شرايط ټاکل شوي، د جاهل او عالم رايه او د متقي او پاک انسان رايه د فاسق او فاجر له رايې سره مساوي نه وي. اسلام د دولت او سياست لپاره خپله تګلاره او نظام لري چې د ډيموکراسۍ له سياسي او دولتي نظام څخه ډېر متفاوت دی. په اسلام کې د ډيموکراسۍ په څېر بې سرحده آزادۍ نشته، له اسلام څخه مرتد کس ته د مرګ سزا ورکول کېږي، د ضرري او له شر څخه ډکې وينا کولو ته اجازه نشته، ښځه د مسلمانانو مشري نشي کولئ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې او نر حقوق عادلانه دي. ښه او بد اخلاق شريعت ټاکي، د بد اخلاقۍ د مخنيوي او د نيکيو د دودؤلو لپاره د امربالمعروف او نهي عن المنکر نظام شتون لري.

يادونه:

قدرمن لوستونکی کولای شي چې د ډموکراسۍ د پس منظر په هکله د لا ډېرو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د (د اروپا د اخلاقو تاريخ) او د ( دين او ساينس جګړه) په نوم کتابونه پيدا او ولولي.

همدا راز د ډموکراسۍ د لا ښه پيژندلو لپاره لاندې لينک ته ولاړ شئ او د غربيانو په ژبه د ډموکراسۍ د پيژندې لپاره له ۲۰۰ څخه ډېر لينکونه ترلاسه کړئ:

**https://en.m.wikipedia.org/wiki/Democracy**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**